



Download from: ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

د کتاب پېژندنه:

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کـتـــاب نــــــوم: په وینو سره لاسونه

چمتوکوونکی: دبشردحقوقونړیواله ټولنه

ژبـــــــــــــــاړن:رحمت اریا

خـــپـــرنــــــدوی: مطبوعاتي خدمتونومرکز

تیراژ : زر ټوکه

Download from: ketabton.com

## جنګي جنایتونه : په وینو سره لاسونه

د بشري حقونو دڅار د ټولنې په زړه پورې ګزارش چې له ۱۹۹۲ زکال تر ۱۹۹۴ ز کال پورې په کابل کې د کمونیستی رژیم له ړنګیدا وروسته د کابل د ورانۍ پیښې او په کابل کې د څواکجګړې د خونړیو سیالیو ډډې راسپړلي ، په ګزارش کې سرک په سرک او واټ په واټ جګړه شرح شوې او د کابل پر وګړو تیر شوی وحشت را بربنډوي ؛ کتاب د جنګي جنایتکارانو مخونه په نړیواله کچه لوڅوي. دغه کتاب د ۲۰۰۹ زکال د سپتامبر په مباشت کې په کابل کې د مطبوعاتي خدمتونو د مرکز له خوا خپور شوی دی

## د بشري حقونو د څار ټولنه

**Human Rights Watch**

Copyright � 2005 by Human Rights Watch.

All rights reserved.

Printed in the United States of America

ISBN: 1-56432-334-X

Cover photos: A mujahedin fighter in Kabul, June 1992. � 1992 Ed Grazda

Civilians fleeing a street battle in west Kabul, March 5, 1993. � 1993 Robert Nickelsberg

Cover design by Rafael Jimenez

Human Rights Watch

350 Fifth Avenue, 34th floor

New York, NY 10118-3299 USA

Tel: 1-(212) 290-4700, Fax: 1-(212) 736-1300

Download from: ketabton.com

hrwnyc@hrw.org

1630 Connecticut Avenue, N.W., Suite 500

Washington, DC 20009 USA

Tel:1-(202) 612-4321, Fax:1-(202) 612-4333

hrwdc@hrw.org

2nd Floor, 2-12 Pentonville Road

London N1 9HF, UK

Tel: 44 20 7713 1995, Fax: 44 20 7713 1800

hrwuk@hrw.org

Rue Van Campenhout 15,

1000 Brussels, Belgium

Tel: 32 (2) 732-2009, Fax: 32 (2) 732-0471

hrwatcheu@skynet.be

9 rue Cornavin

1201 Geneva

Tel: + 41 22 738 04 81, Fax: + 41 22 738 17 91

hrwgva@hrw.org

Web Site Address: http://www.hrw.org

Listserv address: To receive Human Rights Watch news releases by email, subscribe to the HRW news listserv of your choice by visiting http://hrw.org/act/subscribemlists/

subscribe.htm

د بشري حقونو د څار ټولنه د نړۍ په هرګوټ کې د خلکو د حقونو ساتنې ته ژمنه یو ټولنه ده.

Download from: ketabton.com

موږ د بیلتونپالنې د مخنیوی ، د سیاسي خپلواکۍ د ملاتړ په موخه د بلهاریانو او فعالینو ترڅنګ ولاړ یو ترڅو د جګړو په لړ کې د هغو پرګنو ساتنه او مرسته وکړو چې له انسانانو سره غیر انساني چلند کوي او هڅه کوو چې مجرمین د عدالت پر ټغر و دَرَوو .

موږ د هغو کسانو مخونه بربنډوو چې له بشري حقونو څخه سرغړونه کوي ، موږ په دې اړه پلټنه کوو او سرغړوونکي له حساب او کتاب سره مخامخوو. موږ دولتونه او واکمن کسان له ننګونو سره مخامخوو چې ناوړه چال چلندونه بس کړي اود بشري حقونو نړیوال قانون ته دې درناوی وکړي .

موږ د بشري حقونو په ساتنه کې له بشري ټولنو او له نړیوالې ټولنې څخه د مرستې غوښتنه کوو او په یوه غږ وایو چې بشري حقونه د هر انسان لپاره دي .

## د بشري حقونو د څار ټولنه

د بشري حقونو د څار ټولنه د نړۍ په اویاوو هیوادونو کې له بشري حقونو څخه د سرغړونو په اړه پرله پسې او سیستماتیکه پلټنه کوي. موږ له بشري حقونو څخه د سرغړونکو مخونه په وَړَند وخت " مناسب " کې د ډاډمنو سرچینو پر بنسټ بربنډ کړي دي د دغه مخورتوب پر بنسټ دې چې موږ د بشري حقونو د پالونکو او پلویانو په منځ کې د ډاډمنو مالوماتو د سرچینې په توګه پیژندل کیږو. موږ په ټولو دولتونو ، سیاسي ګوندونو ، ډلو ټپلو ، جیوپولیټکو ټلوالو ، ژب توکمیزو ډلو او مذهبي ډلو کې د بشري حقونو د درنښت اړخونو څیړلو او هغه څارو. د بشري حقونو د څار ټولنه د بیان او فکر د آزادۍ ننګه کوي ، زموږ ټولنه په ټولو قانوني لړیو کې له ټولو سره د برابر چلند دفاع کوي ، موږ په زور واکو ټولنو کې د کمزورو څېل شویو پرګنو ننګه کوو ؛ موږ د وژونکو پر ضد ، د انسانانو د تري تم کیدلو ، ځورولو ، وهلو او ټکولو ، په وچ زور او د بې ځایه بندي کیدنو ، بیلتونپالنې او د بشري حقونو د نورو سرغړونو او ډولونو پرضد لاسوندونه را ټولوو. موږ هغه دولتونه د حساب او کتاب د ورکړې پر ژۍ درووچې د خپل ولس او پرګنو له حقونو څخه سرغړونه کوي.

د بشري حقونو د څارټولنې خپل کار په ۱۹۷۸ز کال کې د خپلو اروپایي او مرکزي آسیا څانګو ترڅنګ پیل کړ چې په هغه وخت کې د ( هلسنکي واچ ) په نامه یادیدله. دغه ټولنه نن په افریقا ، د امریکا په وچه او منځني ختیځ کې هم خپلې څانګې لري. بر سیره پر دغو څانګو دغه ټولنه په خپل جوړښت کې دریې څنګیزې څانګې هم لري : د ماشومانو حقونه ،د وسلو او ښځو حقونه. ددغې ټولنې دفترونه په بروسلز ، ژنیوا ، لندن ، لاس انجلس ، مسکو ، نیو یورک ، سان فرانسیسکو ، تاشکند ، تورانتو او واشنګتن کې دیره دي. د بشري حقونو د څار ټولنه یوه خپلواکه

Download from: ketabton.com

غیردولتي ټولنه ده چې مالي مرسته يې په نړۍ کې د شخصي کسانو او غير دولتي بنسټونو له پلوه کيږي. دغه ټولنه ، غير دولتي بسپنې يا نيغ په نيغه يا په غير مستقيم ډول مني .

ددغې ټولنې د کارکوونکو او مشرانو نومونه او کاري دريځونه په لاندې ډول دي:

The staff includes Kenneth Roth, Executive Director; Allison Adoradio, Operations Director; Michele Alexander, Development and Outreach Director; Carroll Bogert, Associate Director; Widney Brown, Deputy Program Director; Peggy Hicks, Global Advocacy Director; Iain Levine, Program Director; Dinah PoKempner, General Counsel; James Ross, Senior Legal Advisor; Joseph Saunders, Deputy Program Director; and Wilder Tayler, Legal and Policy Director.

The program directors of Human Rights Watch are Brad Adams, Asia; Holly Cartner, Europe and Central Asia; Richard Dicker, International Justice; Jamie Fellner, United States; Arvind Ganesan, Business and Human Rights; Steve Goose, Arms; LaShawn R. Jefferson, Women�s Rights; Scott Long, Lesbian, Gay Bisexual and Transgender Rights; Peter Takirambudde, Africa; Jos� Miguel Vivanco, Americas; Lois Whitman, Children�s Rights; and Sarah Leah Whitson, Middle East and North Africa.

The advocacy directors of Human Rights Watch are Steve Crawshaw, London; Loubna Freih, Geneva; Lotte Leicht, Brussels; Tom Malinowski, Washington; and Joanna Weschler, United Nations.

The members of the board are Jane Olson, Chair; James F. Hoge, Jr., Vice-Chair; Sid Sheinberg, Vice-Chair; John J. Studzinski, Vice-Chair; Omar Amanat, Lloyd Axworthy, David M. Brown, Dorothy Cullman, Edith Everett, Jonathan F. Fanton (Chair 1998-2003), Michael E. Gellert, Richard J. Goldstone, Vartan Gregorian, Wendy Keys, Robert

Download from: ketabton.com

Kissane, Bruce Klatsky, Joanne Leedom-Ackerman, Josh Mailman, Susan Manilow, Kati Marton, Lore Harp McGovern, Barry Meyer, Joel Motley, Samuel K. Murumba, Catherine Powell, Sigrid Rausing, Victoria Riskin, Kevin Ryan, Domna Stanton, Shibley Telhami.

Emeritus board members are Roland Algrant, Lisa Anderson, Robert L. Bernstein (Founding Chair 1978-1997), William D. Carmichael, Adrian W. DeWind, Alice H. Henkin, Stephen L. Kass, Marina Pinto Kaufman, Peter Osnos, Kathleen Peratis, Bruce Rabb, Orville Schell, Gary Sick, and Malcolm B. Smith.


## پېژندنه

Download from: ketabton.com





دکابل ولایت او ور څېرمه سیمې

Download from: ketabton.com




Download from: ketabton.com




موږ په پرتمين وياړ کابل ته ولاړو.... موږ ته په هڅونې ووېل شول چې ستاسو هېواد به پرمختګ وکړي ، خپله پیاوړې غښتلواله به بيرته تر لاسه کړئ او موږ په خپلو دواړو پښو به بیرته و دريږو. د کابل پرښار وروستـنـیـو بریدونو د افغان ولس ټولې هیلې ډړې وړې کړې او موږ ته يې په نړيواله ټولنه کې ستر سپکاوی را په برخه کړ .

Download from: ketabton.com

## حامد کرزی : د بهرنیو چارو مرستیال وزیر ، اسوشیـئـتد پرس ، ۱۹۹۲ زکال د اگست ۲۳ نېټه

## پـېـژندنه

څه دباندې دوه لسېزې شوي چې افغانستان ، په جگړو کې کړول کېږي. دا هغه غونډله یا جمله ده چې د افغانستان په اړه د هرې وينا ، مقالې او گزارش پر تندي لېکل کېږي. دغه غونډله د طالبانو له واکمنۍ وروسته د رامنځته شويو ننگونو د پوهېدا لپاره دومره کارول شوې چې نن په يوې کليشه يې استعارې اوښتې ده. دهيواد د تأريخ او پېښلېکونو په څېړنه کې تر اوسه يو شمېر هڅې شوېدي چې د اوسني حالت د جرړو په پوهېدا کې له موږ سره مرسته کوي. په دې کې تر ټولو اړېنه د هيواد د دوه وو لسيزو د جگړو په لړ کې له بشري حقونو څخه د پراخې سرغړونې د کچې پوهيدا ده ، دلته جنگي جنايتونه او د بشريت پر وړاندې جنايت رامنځته شوی دی نو ځکه موږ د پورتنۍ غونډلې په تل کې هغه کوکې او ازانگې اورو چې وايي : پخواني مجرمين و نيسـئ ، هغوی لا تر اوسه ژوندي دي او محکمه يې کړئ. دغه کوکې او ازانگې د افغانستان په پخواني پيښلېک کې هم پرتې دي خو لږ غوږ ورته نېول شوی دی .

دغه گزارش د تيرو دوه وو لسيزو يوه کوشنۍ برخه رانغاړي ، د گزارش موخه دا نه ده چې پر روان حالت دې پـټـې کښېښودل شي. دغه گزارش د افغانستان د تيرو دوه وو لسيزو د وسله والو ناندريو پراخ انځور نه رانغاړي او نه د ترسره شويو جناياتو هره ډډه را سپړلای شي. او هېڅکله يو بشپړ انځور نه شي بلل کېدای. د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ زيږديزو لسيزو په اوږدو کې د رامنځته شوي ناتار او وحشت سپړنه او څيړنه د افغانستان د دولت او د نړيوالې ټولنې پراخې اوږد مهالې ژمنې ته اړتيا لري. کله چې دغسې تأريخ او پيښلېک وليکل شي نو هغه به د يوه يا څو کتابونو په ټولگه کې ځای نه شي ، هغه به د کتابونو الماريو ته اړتيا ولري .

دغه گزارش يوازې د افغانستان د ناورين يو کال په پام کې نيولی دی : ۱۳۷۱ لمريز کال ؛ چې [ د ۱۹۹۲ ز کال د اپريل له مېاشتې نيولې د ۱۹۹۳ زکال د مارچ ترمياشتې ] له نېټې سره سمون خوري. دغه نېټه له هغه مهاله راپېليږي چې په کابل کې شوروي پـلوی رژيم را و پرځول شو. همداشان دغه گزارش يوازې د افغانستان پر يوه ټکي ، د هيواد پر پلازمېنې ، کابل او ور څېرمو سيمو را څرخي .

ولې کابل او ولې ۱۳۷۱ لمريز کال ؟ دا ځکه چې په دغه مهاليز واټن کې له بشري حقونو څخه د سرغړونو کچه خورا زياته لوړه ده. دا هغه مهاليز واټن دی چې افغانستان ، له ۱۹۸۰ز کال را وروسته ، د شوروي پر لس کلن نيواک د

Download from: ketabton.com

پای ټکی کښېښود او خپله خپلواکۍ یې و ګټله . په کابل کې د رژیم له بدلون وروسته ، ۱۳۷۱ لمریز کال د افغانستان نوې پېلامه بللای شوې ده .

خو دغه پیلامه ، د افغانستان د تأریخ یو تور ترینه ټکی وو. په ۱۳۷۱ لمریز کال کې کابل هماغسې چې په دغه ګزارش کې ورته نغوته شوې ، د افغانستان د وسله والو ډلو� د سیالو مجاهدو ډلو او د رنګ شوي دولت د وسله وال ځواک د پراخو او پرله پسې جګړو په ډګر واوښت ؛ د شوروي پلوي رژیم له پرځېدا وروسته ټولې ډلې پر ښار را واوښتلې. په دغه مهالیز واټن کې بیلا بیلو ډلو د کابل د ښار پر سر په خپلو منځو کې جګړې پیل او د ملکې وګړو پر وړاندې یې بې شمیره او وحشي ترینه ناتارونه تر سره کړل. په جګړو کې را ګیرپه لسګونو زره ښاریان ووژل شول. دغه تاوانونه د هغو بریدونو پایله وه چې پر ملکي وګړو د ړندو او نېغ په نیغه تیریو له امله رامنځته شول او ترڅنګ یې بې شمیره نړیوال بشري قوانین ( د جګړو قانون ) تر پښو لاندې شو. ملیشیاوو په زرګونو ملکي وګړي و تښتول چې هېڅ چا یې بیا مخونه ونه لیدل. د ښار پراخه برخه لوټ او ویجاړه شوه. د کابل په ښار کې د دغو ورانیو نخښې لا تراوسه په سترګو لیدل کیږي چې په همدغې مودې کې او د کابل پر لوري د طالبانو له پرمختګ څخه مخکې رامنځته شویدي .

د افغانستان د جګړې د نورو پړاوونو په پرتله ددغه پیر جنایاتو ته لږ پاملرنه وشوه. د شوروي له یرغله نیولې تر نن پورې د ټولو شخړو او نانډریو پر تندي د وحشت او ناتار ټاپه لګېدلې ده. په ۱۹۸۰زیږدیزې لسېزه کې چې له ( ۱۳۵۹ تر ۱۳٦۸ ) لمریزو کلونو سره سمون خوري شوروي سرو لښکرو او د هغوی ملګرو افغان ځواکونو بې شمیره جنګي جنایات او د بشریت پر ضد جنایات تر سره کړل هغوی په لوی لاس پر ملکي وګړو او د ملکي وګړو د استوګنې پر سیمو بریدونه وکړل ، بندیان یې ووژل او یرغمل کسان یې ووهل ، و ټکول ، و ځورول او ویې وژل. د ۱۹۹۰ز لسیزې په نیماییو کې چې له ۱۳۷۵ تر ۱۳۸۰ لمریزو کلونو سره سمون خوري ، طالبانو هم د یوه واکمن ځواک په توګه د خپلو پوځي عملیاتو په لړ کې دومره بې شمیره جنګي جنایات کړي چې له سره تر پایه د بشري حقونو د معیارونو له هېڅ اړخ سره ډېره نه لګوي .

د بشري حقونو د نورو ډلو ترڅنګ ، د بشري حقونو د څار ټولنې په خپلو بې شمیرو ګزارشونو کې د شوروي د وسله وال ځواک او د هغه د لاسپوڅي دولت وحشت او ناتار په مستند یا لاسوند ډول را ټول کړی او هم یې د ۱۹۹۰زیږدیزې لسېزې په اوږدو کې د طالبانو جنایات او توحش مستند کړی دی. ملګرو ملتونو هم له ۱۹۷۸ز کاله نیولې تر ۲۰۰۱ ز کال پورې د جنګي جنایاتو او د بشریت پر وړاندې د ترسره شویو جنایاتو یو ټولګه چې په ټولیز ډول د شوروي د نیواک � طالب واکمنۍ پړاو را نغاړي په پېښلیکیزه بڼه را ټوله کړې ده ( دغه ګزارش هېڅکله خپور نه شو خو په ۲۰۰۵ ز کال کې افغان دولت ته وسپارل شو ). د شوروي � طالب د مهالیز واټن ناتار په نړیوالو رسنیو کې هم غبرګون موندلی دی .

Download from: ketabton.com

د ۱۳۷۱ لمریز کال په ګډون د ۱۹۹۰ ز لسیزې کلونو ته ډیره پاملرنه نه ده شوې. پر دغه مهالیز واټن یو شمیر نړیوالو پیښو سیورې واچاوه چې امله یې نړیواله پاملرنه بلې خوا ته واوښتله لکه په ۱۹۹۲ ز کال کې د کلنتن او جورج ایچ ډبلیو بوش تر منځ د ولسمشرۍ د ټاکنو کمپاین ، د شوروي اتحاد بانکي افلاس او په پخوانۍ یوګوسلاویا کې جګړه. له بلې خوا په کالیفرنیا او لاس انجلس کې د ۱۹۹۲ ز کال د اپریل د مېاشتې د وروستیو شپو ورځو اله ګولې ، د شوروي پلوي د رژیم د ړنګېدنې رنګ خړپړ کړ.

دا چې په رښتیا په ۱۳۷۱ لمریز کال کې څه پېښ شوېدي زموږ په لاس کې لا تر اوسه ډیر مالومات نه شته. په هغه مهال کې د افغان او نړیوالو ژورنالیستانو یوې کوشنۍ ډلې د جګړو ګزارشونه ورکول ، د رسنیو مقاله لیکونکو او پروډیوسرانو د جګړې د ډګر ګزارشونه خپرول. په افغانستان کې د ډاډ وړ خبري او کاري سرچینې نه وې. په هغه وخت کې د بشري حقونو د څار د ټولنې هېڅ غړی سیمې ته نه وو لېږل شوی ، یوازې د بشري مرستو څو ډلو هلته کار کاوه ، د ملګرو ملتونو یوه بېواکه ، ځان ساتې او شرمناکه ډله هم هلته وه او ویې نه شو کولای د بشري حقونو د ناتار ګزارش ورکړي. دغه ګزارش هڅه کوي چې دغه مالوماتي تشه را ډکه کړي .

پر دغه مهالیز واټن زموږ د پاملرنې د منځټکي دویم لامل دا دی چې د ۱۹۹۰ ز لسیزې لومړي کلونه له اوسني حالت سره نیغ په نیغه تړاو لري. په دغې څېړنې کې د داسې بولندویانو او سیاسي مشرانو د جنایاتو چاڼ او سپړنه شوې چې نن د افغانستان د دولت رسمي چارواکي دي --- دوی اوس په دولت ، پولیسو ، وسله وال ځواک او څارګرو څانګو ( استخباراتو ) کې لوړترینه دریځونه لري او ان یو شمیر یې د ولسمشر حامد کرزي مرستیالان او سلاکاران دي. یو شمیر نور یې دغسې دریځونو ته د رسیدا لپاره لوڅې پوڅې کوي. ډیري افغانان په ځانګړې توګه کابلیان باور لري چې ددغو ډلو د بولندویانو او سیاسي مشرانو وحشي چلند او د هغوی پخوانیو کارنامو ته په کتنې هغوی په داسې دریځونو کې د پاتې کیدا ورتیا نه لري .

موږ هم د افغان ولس له دغسې باور سره همغږي یو. له تیرو پینځوویشتو کالو را پدیخوا د بشري حقونو د څار ټولنه د نړۍ په څلورو لویو وچو کې د جګړو او له جګړو وروسته حالاتو کې د بشري حقونو څارنه کوي. موږ د سولې د رغښت د بېلا بېلو لړیو بریاوې او ناکامۍ څارلې � موږ په نړیواله کچه وخت په وخت د هغو مشرانو کړه وړه مستند کړي چې د جنګي سابقې په لرلو یې د سیاسي ناندریو هوارۍ ته په ډیره مېنه او لیوالتیا را دانګلي خو د قانون پر ځای یې له زور واکې څخه کار اخیستای دی � د هغوی دغو چلندونو یو ځل بیا بشري حقونه تر پښو لاندې کړي چې یا یې د بې قانوني دوام او یا یې د بې قانوني را ستنیدا ته لاره هواره کړې ده.

دغه نړیواله تجربې د افغانستان د نن ورځې له حالاتو سره سمون خوري. د ۲۰۰۱ ز کال د بن د تړون له ژمنې سره سره چې پایله یې د ولسمشر حامد کرزي تر مشرۍ لاندې د لنډ مهالي دولت پر جوړیدا و چورلېده د افغانستان ډیرې برخې لا تر اوسه د خپلسرو ځان ځانچورلیځو بولندیانو ، توپکواکانو او جنګسالارانو د واکمنۍ په ولکه کې دي

Download from: ketabton.com

، هغوی په بیلا بیلو کچو د ملیشاوو کوشنۍ او غتې ډلې لري او هڅه کوي چې په هیواد کې د ټینګښت او د سولې د بیا رغښت لړۍ له ګواښ او درېو ورېي کېدلو سره مخامخ کړي. په دغه ګزارش کې د هغو بولندویانو او توپکواکانو نومونه راغلي دي چې پخوا یې په جنایت او ځورونو کې لاس درلود او له ۲۰۰۱ز کال وروسته یې بیا هم د بشري حقونو په ځپنه کې ونډه لوبولې ده لکه د کورونو لوټـل ، سرې تښتونه ، د بندیانو ځورونه ، جنسي تیري او وژنه .

د بشري حقونو د څار ټولنې په خپلو پخوانیو ګزارشونو کې له بشري حقونو څخه د سرغړونې یو شمیر بیلګو ته نغوته کړې ده[1] .  په دغه ګزارش کې د ډیرو لوړ پوړو چارواکو نومونه راغلي دي چې زموږ په پخوانیو ګزارشونو کې هم ورته نغوته شوې وه او دوی هغه کسان دي چې په زورواکۍ یې د نورو خلکو ځمکې نیولي دي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون یا ( اې آی ایچ آر سي )[2] هم د زورواکانو ګزارشونه ورکړی دی .

لنډه دا چې د ۱۹۹۰ز لسیزې د توپکواکو جګړه مارو ډیري کسان متکرره تیریګر دي. ډیریو کابلیانو ته د  ریسیډیویزم یا د " جنایت د تکرر" [3] دغه لړۍ یوه عادي خبره ده ، په  تیرو دریو کالو کې هغوی د بشري حقونو د څار ټولنې ته په تکرار ویلي چې : " جنګسالاران ، جنګسالاران دي/ جنګسالاران، جنګ سالار هستند." خو  اوس داسې ښکاري چې ډیریو افغانانو او نړیوالو چارواکو پخوانۍ ترخې تجربې هیرې کړې دي.

ددغه ګزارش ځانګړې موندنې :

دغه ګزارش له بشري حقونو څخه د کلک سر غړاوي ، جنګي جنایاتو  او د بشریت پر وړاندې د ترسره شویو جنایاتو هغه ځانګړې لړۍ را سپړي چې د ۱۹۹۲ زکال د اپریل له مېاشتې وروسته تر سره شویدي � په بله وینا د ۱۹۹۲ زکال د اپریل له میاشتې نیولې د ۱۹۹۳ز کال د مارچ تر مېاشتې د شوروي پلَوي ولسمشرنجیب الله د واکمنۍ له ړنګیدا وروسته .

د ګزارش دویمه څپرکۍ چې له پیژندنې وروسته وړاندې کیږي ، د هماغه کال د ځانګړو پیښو مخینه او پېښلیک رانغاړي. د ګزارش د دریمې څپرکۍ د ( الف ) برخه  د ۱۹۹۲ ز کال د اپریل د مېاشتې په وروستیو شپو ورځو کې د نجیب الله ضد مجاهدینو د ځواکونو په لاس د کابل نیواک را سپړي او پر  هغه ناتار کره کتنه کوي چې د ۱۹۹۲ زکال د اپریل له مېاشتې بیا د همدغه کال د دسامبر تر مېاشتې پورې د مجاهدینو د ځواکونو د خپلمنځي جګړو په لړ کې رامنځته شو. دغه برخه د ځورونو هغه لړۍ په لاسونده ډول وړاندې کوي چې په همدغه مهال کې د هرې ویل شوې ډلې له پلوه تر سره شوي دي لکه : ړانده پوځي بریدونه ، په لوی لاس د ملکي وګړو په نخښه کول او د

Download from: ketabton.com

هغوی وژنه ، پر ملکي وګړو يرغل او د هغوی وژنه ، سړي تښتونه ، اجباري کار  او د ملکي وګړو د کورونو لوټول. ګزارش دې ته هم نغوته کوي چې د ځانګړو ډلو غړو ، پر ښځو ، نجونو او هلکانو جنسي تيري کړي دي .

د ګزارش د دريمې څپرکی د ( ب ) برخه دې ته نغوته کوي چې په ۱۹۹۳ زکال کې کورنيو جګړو څنګه وده وکړه. د همدغې څپرکی د ( ج ) برخه د ۱۹۹۳ زکال د فبروری په مياشت کې د جګړې د انځور هغه لوړه څوکه رانغاړي چې د افشار کمپاين بلل شوی دی � دا هغه پوځي بريد ته نغوته ده چې د کابل د ښار په لويديځ کې د مجاهدينو بيلا بيلو ډلې د شيعه مجاهدينو پر ځواکونو ور واوښتلې. هماغسې چې ګزارش څرګندوي ، پر دغو سيمو د بريد په لومړني پړاو کې په سلګونو کسان په ړنده توګه يا په لوی لاس له يوې مخې او له توپيره پرته ووژل شول ، د ملکي وګړو پر کورونو بريدونه وشول  او په زرګونو کسان بې ځايه شول. ګزارش په لاسوند ډول څرګندوي چې مليشيا ځواکونو ډير شمير کسان د هغوی د کورنيو د غړو تر مخ ووژل. په سلګونو نور کسان و تښتول شول او مخونه يې بيا چا ونه ليدل .

په څلورمه څپرکی کې موږ د پيښو قانوني اړخونه راسپړو ، موږ غواړو په قانوني ډول په مستندو جناياتو کې د مليشو د ډلو او د هغوی د بې شميرو مشرانو ښکيلتيا را وسپړو چې په دې کې د هغو بولندويانو نومونه ګډون لري چې د ۲۰۰۵ زکال تر نيماييو پورې د افغانستان په دولت کې لوړ دريځونه يې را خپل کړي دي .

د ګزارش پينځمه برخه ، زموږ سپارښتنې را نغاړي .

په جناياتو کې ښکېل ګوندونه او ډلې :

لاندې د هغو ډلو او د مشرانو نومونه اخيستل کيږي چې له بشري حقونو څخه په سرغړونو او جناياتو کې ښکېل دي :

د افغانستان اسلامي جمعيت / جمعيت اسلامي افغانستان :  چې له دې وروسته به ورته يوازې د جمعيت په نامه نغوته وشي. په ټوليز ډول تاجک توکمه سياسي پوځي ډله ده چې سياسي مشري يې برهان الدين رباني کوي او پوځي مشري يې احمد شاه مسعود وو. ( مسعود د ۲۰۰۱ز کال د سپتامبر په ۹ نېټه په يوې ځانوژونکې پيښه کې ووژل شو . )

د نظار شوری/ شوری نظار : د بيلا بيلو پوځي ځواکونو يوه ټولګه ده چې مشري يې د مجاهدينو بيلا بيلو ډلو کوله ، دغه ډلې د افغانستان په شمال او شمال ختيځ کې دي چې ټوله مشري يې د بولندوی مسعود تر پوځي بولنې لاندې وه .

Download from: ketabton.com

اسلامي گوند/ حزب اسلامي : د گلبدين حکمتيار تر بولنې لاندې پښتونواکه ډله ده ، دغې ډلې د ۱۹۸۰ز او ۱۹۹۰ز لسيزو په اوږدو کې د امريکا د متحده ايالاتو او پاکستان لويه پوځې مرسته تر لاسه کوله .

د افغانستان د خپلواکۍ لپاره اسلامي پيوستون/ اتحاد اسلامي براى آزادي افغانستان : چې له دې وروسته به د اتحاد به نامه وبلل شي ، د عبدالرب الرسول سياف تر مشرۍ لاندې يوه پښتونواکه ډله ده ، دغه ډله له سعودي عربستان سره تړاو لري او د سعودي عربستان له ملاتړه برخمنه ډله ده .

د افغانستان د اسلامي وحدت گوند/ حزب وحدت اسلامي افغانستان: له دې وروسته د وحدت په نامه بلل کيږي ، دا په افغانستان کې د هزاره واکو گانو شيعه ډله ده چې له ۱۹۹۲ تر ۱۹۹۳ ز کال پورې مشري يې عبدالعلي مزاري کوله او د ايران کلکه مرسته له ځان سره لري. عبدالعلي مزاري په ۱۹۹٦ز کال کې ووژل شو .

د افغانستان ملي اسلامي غورځنگ / جنبش ملي � اسلامي افغانستان : له دې وروسته د جنبش په نامه يادېږي ، د افغانستان په شمال کې وزبک � تورکمن واکه ډله ده چې مشري يې عبدالرشيد دوستم کوي [ دوستم د ۱۹۸۰ز لسيزې په اوږدو کې د شوروي پلوي افغان وسله وال ځواک جنرال دی ] دغه ډله د پخواني شوروي پلوي وسله وال ځواک او د افغانستان د شمال د مجاهدينو له يو شمير ډلو څخه جوړه شوې ده .

حرکت اسلامي افغانستان: له دې وروسته د حرکت په نامه يادېږي. د محمد آصف محسني تر مشرۍ لاندې شيعه واکه ډله ده ، دغه ډله د دغه گوند او حسين انوري له ډلو څخه جوړه يوه گډوله ده چې د ايران له ملاتړه برخمنه ده .

د گزارش په ټولو برخو کې هغه مهاليز واټن چې د گزارش د سپړنې منځټکی پرې راڅرخي د افغانستان د دولت نوم " د افغانستان اسلامي دولت " ياد شوی دی ، دغه دولت د ۱۹۹۲ز کال د اپريل په مياشتې کې د شوروي پلوي رژيم له ړنگېدا وروسته رامنځته شو. د دغه دولت مشري د ۱۹۹۲ زکال د اپريل له وروستيو نيولې د ۱۹۹۲ زکال د جون تر مياشتې پورې د دوه وو مياشتېو لپاره صبغت الله مجددي وکړه ، صبغت الله مجددي په پيښاور کې د مجاهدينو د يوې کوشني اوضعيفې ډلې مشر وو ، نوموړی د مجاهدينو د گڼ شمير ( نه د ټولو) مجاهد ډلو د تړون پر بنسټ چې نومونه يې پورته ياد شول د لنډې مودې لپاره د دولت د مشر په توگه و ټاکل شو. له هغه وروسته تر ۱۹۹٦ ز کال پورې يا کابل ته د طالبانو تر راتگ پورې د دولت مشري د جمعيت مشر برهان الدين رباني کوله .

د حکمتيار له اسلامي گوند پرته ، نورې ټولې ډلې په څرگنده د ۱۹۹۲ز کال د اپريل د مياشتې د دولت تر سيورې لاندې په يوه موتيې ډول راټولې شوې وې ( خو په دغه گزارش کې به وروسته را و سپړل شي چې د وحدت گوند خپل دريځ بدل کړ او د ۱۹۹۲ زکال په وروستيو کې له اسلامي گوند سره يو ځای شو. ) د پخواني شوروي پلوي رژيم پوليسو ، وسله وال ځواک او د څارگرو څانگو کار کوونکو چې ځانونه يې له يوې خوا په بېلا بيلو ډلو پورې تړلي ول ، لږ تر لږه په لومړيو شپو ورځو کې د همدغه دولت تر سيورې لاندې راټول شوي ول ؛ د ړنگ شوي دولت د ځواک

Download from: ketabton.com

ډيري برخه ځانونه د جمعيت او جنبش په ډلو ته وسپارل ؛ د مليشايي ځواکونو په توګه ټولو سپارل شويو ځواکونو د اتحاد ،وحدت او حرکت له ډلو سره تړاو درلود. ا کثرأ وختونه د جمعيت ، جنبش او اتحاد بولندويان د همغږۍ لپاره د ولسمشر په دفتر يا د دفاع په وزرات کې را ټوليدل .

په دغه ګزارش کې ويل شوي دي چې د حکمتيار اسلامي ګوند ، د رباني دولت په رسميت و نه پيژانده ، په کابل کې د ميشتو او دولتي ځواکونو پر وړاندې يې بريدونه پيل کړل. ( د ۱۹۹۲ز کال په پاى کې د مزاري د وحدت د ډلې ځواکونه د حکمتيار له ځواکونو سره يو ځاى شول.)

په دغه ګزارش کې دا هم ويل شوي چې په ۱۹۹۲ او ۱۹۹۳ زو کلونو کې هرې ډلې ځانته پوځي جوړښتونه درلودل ؛ هره ډله د يوه غښتلي او لوى بولندي تر مشرۍ لاندې وه ، د مشر بولندوى تر لاس لاندې سرتيري او په بيلا بيلو کچو نور بولندويان ول[4]. د بولنې يا قوماندې دغه وَل په وَل جوړښت د ډلو مشرانو او بولندويانو ته دا وسه په لاس ورکوله چې تر خپل لاس لاندې ځواکونه په خپل کنترول او ولکه کې ولري ، د ډلو مشرانو او بولندويانو د " وکړه او مه کړه " وسه درلودله ؛ دغسې يوه جوړښت د ډلې جنګيالي دې ته اړ ايستل چې ددوى امرونو ته غاړه کيښږدي. دغه ول په ول جوړښت نه روڼ وو او نه ټينګ --- ددغه پيچلي جوړښت جرړې په ژب توکميزو او کورنيو اړيکو کې ځغليدلې چې د بولنې يا قوماندې لپاره يې مرکزى خوځښت رامنځته کاوه. په زړه پورې دا وه چې ډلې سمبال وې او بولندويانو خپل جنګيالي کنترولول. په دغه ګزارش کې راټول شوي وحشتونه او ناتارونه هغسې وحشت او ناتار نه دى چې مخنيوې به يې نه شواى کيداى دغه جوړښت څرګندوي چې د هغوى مخنيوى کيداى شواى. په ګزارش کې د داسې وحشتونو يادونه شوې چې بولنه يې نيغ په نيغه د بولندوى له خوا ورکړل شوې ده .

د ډلو د کرکتر او جوړښت په اړه لومړنۍ ملپاڼې ته ولاړ شئ .

## د عدالت ارزښت :

د ټولو لاسونه په سرو وينو ککړ دي. دا هغه بله ګروپينه يا اصطلاح ده چې د افغانستان په تړاو په تکرار ويل کيږي. دغه ګروپينه د ډيريو افغانانو لپاره يو تورنلېک يا اتهامنامه ده ترڅو : د افغانستان په اوسني دولت کې هغه توپکوال جګړه ماران پرې سپک او سپور کړي چې پخوا په جنګي جناياتو کې ښکېل ول. که ټول افغانان نه وي ، خو ډيري افغانان د طالبانو له شډلې اوبد چلندې واکمنۍ څخه هم کرکه لري. له بله اړخه ډيري افغانان لا تر اوسه د افغانستان په اوسني دولت کې د لوړ پوړو سياسي او پوځي مشرانو له ناتارونو ډکه ونډه هم په ياد لري چې د طالبانو له واکمنۍ مخکې د کابل په پخواني دولت کې يې کار کاوه. هغوى په ياد لري چې دغو ډلو څنګه ښار لوټ کړ او د کابل په ښار کې يې واټ په واټ او سړک په سړک جګړه پيل کړه ، په دې جګړه کې پر ملکي وګړو د هيڅ چا

Download from: ketabton.com

رحم او زړه سواندی نه راته  او نه چا ته د ترحم وړ ول. افغانان د شورویانو او د شوروي پلویو دولتونو خونړۍ میچنې هم په یاد لري .

خو د ډیرو افغانانو او نړیوالو ټولنو لپاره نوموړې ګروپېنه یوازې یوه پلمه ده ؛ دا ګروپېنه د جګړه مارانو او پوپکواکو یوه ګروپېنه چې د ځان د توجیه لپاره یې کارَوي ځکه چې د هغوی د جنایاتو او له بشري حقونو څخه د هغوي د جدي سرغړونې پروړاندې کوم ګام نه دی اوچت شوی. ځینې وختونه دغه رسمي چاواکي دا هم ور زیاتوي چې د " هېڅ چا لاسونه پاک نه دي " ؛ په حقیقت کې دا په خونړي ناتار کې د پیاوړو مشرانود ونډې د پټولو لپاره د پلمې په توګه کارول کیږي ، خو په دغه باور ګروهنوالو له یاده ایستلې چې په هیواد کې دننه او له هیواده دباندې په میلیونونو افغانانو هیڅکله د افغانستان په دښمنیو کې برخه نه ده اخیستې خو افغانان د هغوی د خپلمنځي دښمنیو ښکار او بلهاریان شوي دي .

د میلیونونو افغانانو  " لاسونه په وینو ککړ" نه دي. د افغانانو په منځ کې ډیر کسان شته چې هر یو یې د دولت د لوړو رسمي چارو او یا و د لسمشرۍ د چارو د پرمخ بیولو پیاوړې وړتیا لري. یو شمیر یې لا پخوا خپل ولس ته چوپړ کړی دی. تر اوسه ډیري افغانان په دولتي چارو کې له ګډون څخه ویره لري ، هغوی د ملیشه مشرانو له هغو خیرنو لاسونو څخه ویره لري چې  په " سرو وینو رنګ او ککړلاسونه " یا په دَري کې یې " دستان آغشته به خون " بولي .

حقیقت دا دی چې ډیري افغانان د هغو بولندویانو او رسمي چاواکو محکمه غواړي چې په دغه مهال کې یې خونړي جنایتونه کړي دي � د افغانانو غوښتنه یوازې ددغه مهال د پازوالو پر محمکې نه را لنډیږي ، هغوی د شوروي د نیواک د وخت د چارواکو او د طالبانو د جنایاتو د محکمې غوښتنه هم کوي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په ۲۰۰۴ ز کال کې د یوشمیر پراخو مرکو پر بنسټ یوه سروې تر لاس لاندې و نیوله ، په دغې سروې کې د هیواد په هر ګوټ کې له افغانانو سره ژورې مرکې تر سره شوې دي ؛ د سروې د موخې منځټکی د پخوانیو جنایاتو پر ارزونې او له هغو سره د راتلونکي چلند د څرنګوالي په اړوند را څرخیده. د سروې پایلو څرګنده کړه چې اکثریت افغانان د پخوانیو جنایاتو د سپیناوي او محکمې غوښتونکي دي. دغه غوښتنه سړی نه هک پک کوي ځکه د افغانستان د ولس ټول وګړي په جګړو کې کړېدلي دي. نوموړی کمیسیون په خپل ګزارش کې وايي  :

"په افغانستان کې د تر سره شویو وحشتونو او ناتارونو شمیره پراخه ده ، له هغو وګړو سره چې موږ خبرې کړي څرګندوي چې د بلهاریانو کچه ډیره زیاته ژوره ده.  د مرکې نیږدې " هر " ګډونوال په یو ډول نه په یوه ډول کړیدلی دی . په سروې کې موږ له ۴۱۵۱ تنو سره مرکې وکړې ، د سروې موخه دا وه چې موږ څرګنده کړو څو تنه د جګړو په لړ کې نیغ په نیغه ځوریدلي او کړیدلي دي ، پایلو څرګنده کړه چې د مرکو ٦٩ په سلو کې ګډونوال یا په خپله او یا ددوی د کورنۍ ډیر نیږدې غړی/ غړې  د ۲۳ کلنې جګړې په اږدو کې له بشري حقونو څخه د سرغړونې په ناتار

Download from: ketabton.com

کې ځوریدلي او کړیدلي دي. په سروې کې د مرکو د ګډونوالو په ۲۰۰۰ تنو ځانګړې پاملرنه اوښتی وه ، له هغې ډلې څخه ۵۰۰ تنو وویل چې د دوی د کورنۍ غړي وژل شوي دي. څلور سوه تنو وویل چې یا دوی په خپله او یا ددوی د کورنۍ غړي یا بندیان شوي اویا وهل او ټکول شوي دي. دا هغه مغز کرختوونکې شمیرې دي چې د نړۍ په نورو شخړو او ناندریو کې یې ساری نه لیدل کیږي]".5[

د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون سروې ښيي چې ۹۴ په سلو کې افغانان د پخوانیو جنایاتو محکمه ترکومې کچې اړینه بولي : (۷۵،۹ ٪) ډېره اړینه او ( ۱۸،۵ ٪ ) یې یوازې اړینه بولي.د مرکې له ګډونوالو څخه پوښتنه وشوه چې که جنګي جنایتکاران محکمه شي ، د هغه ګټه به د افغانستان لپاره څه وي : د مرکو ۷٦ په سلو کې ګډونوالو وویل چې " دا به په هیواد کې ټینګښت او امن خوندي کړي " او یوازې ۷،٦ په سلو کې ګډونوالو وویل چې دا به " ټینګښت ترینګلی او امن ته به ګواښ " را منځته کړي . د سروی د مرکو څه د باندې نیمايي ګډونوالو وویل چې جنایتکاران دې همدا " اوس " محکمه شي ، او ۲۵ په سلو کې وویل چې د جنایت مرتکبین دې د " دوه وو کالو په اوږدو" کې محکمه شي] " .6[

د بشري حقونو د ځار ټولنې د یو شمیرنورو نړیوالو او غیر دولتي افغان بنسټونو ترڅنګ پر افغان چارواکو او په افغانستان کې پر ښکیلو نړیوالو بنسټونو په څو څو ځله غږ کړی چې د یوه خپلواک او بې پرې جوړښت او میکانیزم په جوړولو کې دې ورسره مرسته وکړي ترڅو د هغو کسانو پښه محکمې ته را وکاږي چې له ۱۹۷۹ ز [ ۱۳۵۷ ل ] کال وروسته یې جنګي جنایات او له بشري حقونو څخه کلکې سرغړونې کړي دي ، او موږ د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون سره همغږي یو چې دغې ستونزې ته دې په کلکه پاملرنه وشي .

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د " روزنې " تر نامه لاندې یو شمیر نور وړاندیزونه هم کړي چې په هغو کې د لنډ مهالو او بیړنیو ګامونو اوچتول ګډون لري تر څو دولتي چارواکي له هغو پخوانیو جنایاتکارانو څخه حساب او کتاب واخلي چې په پَرونیو دولتونو او د نن له دولت سره اوږه پر اوږه ولاړ دي او جنایات یې کړي دي ، د " روزنې" دغه وړاندیز د جنایي پیښو د لړۍ کاري ظرفیت او وړتیا لوړوي او په لړ کې یې بلهاریانو ته د سیکندې " تلافۍ " او ماتنیو " غراماتو" پر ورکړې هم ټینګار شوی دی .

د بشري حقونو د ځار ټولنه د افغانستان د خپلواک کمیسیون له سپارښتنو څخه په ځانګړې توګه د دولت د رسمي چارواکو د روزنې د اړتیا پر ټینګار ملاتړ کوي ( و ګورئ ، پینځمه برخه ) ، په دغه وړاندیز کې د قضایي ظرفیت د لوړوالي جوړښت نغښتی دی او د هغو کسانو لپاره د سالمې او وړندې محاکمې چاپیریال پرانیزي چې کلک نړیوال جرمونه یې کړي دي .

لنډه دا چې موږ له ډیریو افغانانو او د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون سره همغږي یو چې په افغانستان کې د پخوانیو جرایمو پر وړاندې عدالت اړین دی ، د سزا له معافیته برخمن اوسنی چاپیریال د افغانستان

Download from: ketabton.com

د پرمختګ او د قانون او مقرراتو د بیا رغښت ، قانون واکۍ او  د قانون د ټینګښت په لاره کې د ټولو هلو ځلو خنډ ګرځي .

د سزا له معافیته د مجرمینو پرله پسې برخمنوالی نه یوازې د پخوانیو جنایاتو بلهاریانو ته سپکاوی دی بلکه ټولو افغانانو ته سپکاوی دی ، دغه برخمنتوب د افغانستان د راتلونکی سولې پر لار د خنډ او ښوویبدنګ یو غټ کاڼی دی. د دغه ګزارش موخه د نورو سپرنو ترځنګ دا ده چې د سزا له معافیته د برخمنوالي د  روان حالت پر وړاندې پر افغان دولت او نړیوالی ټولنې دباو یا فشار زیات شي او پای کې د افغانانو غوښتنه تر لاسه شي  : عدالت

زموږ لومړنۍ سپارښتنه دا ده چې دولت دې د خپلو رسمي چارواکو لپاره د روزنې لړۍ پلې کړي. موږ ددې سپارښتنه هم کوو چې د قضایي اصلاحاتو په لاره کې دې بېړني ګامونه اوچت شي. موږ ټینګار کوو چې دولت دې د " ځانګړې محکمې" د جوړولو په لاره کې هڅه وکړي تر څو د پخوانیو جرمونو د عاملینو محکمې ته لاره پرانیستل شي ، دغه محکمه دې د افغان او نړیوالو ورمندګرو " قاضیانو" له ګډولې څخه جوړه شي خو په هغو کې دې د نړیوالو ورمندګرو د شمیرې ډډه درنده وي او د څارنوالانو دفتر دی د نړیوالو څارنوالانو له پلوه پرمخ بوتلل شي .

د دغو سپارښتنو بشپره لړۍ کولای شئ په ( ۱۳۳ پاڼه ) کې و ګورئ .

## د ګزارش میتودولوژي

دغه ګزارش د ۱۵۰ مرکو پربنسټ جوړ شوی دی ، د مرکو ګډونوال د ۱۹۹۲ او ۱۹۹۳ ز کلونو د ناتار بلهاریان ، د ډلو غړي او د ډلو چارواکي دي چې د نوموړي وخت له پیښو سره آشنایي لري. په دغو مرکو کې د کابل هغو استوګنو برخه اخیستې چې د جګړې په لړ کې په کابل کې ول ، همدارنګه په مرکو کې د افغان او نړیوالو چاپي ، راډیو یي او ټلویزیوني رسنیو ژورنالیستان برخه لري چې د جګړې پر مهال په کابل کې ول  او هم د کابل د روغتونونو د روغتیایي چارو کارکوونکي ، روغتیاپالان ، دولتي چارواکي او د ډلو چارواکي او سرتیري او نور هم ګډون لري. د بشري حقونو د څار ټولنې له هغو پوځي کارپوهانو سره مرکې کړي دي چې د افغان مجاهدینو  د ډلو له پوځي جوړښتونو او پوځي تاکتیکونو سره بلد دي په ځانګړې ټوکه هغه تاکتیکونه چې د ۱۹۹۲ او ۱۹۹۳ زو کلونو په اوږدو کې یې و کارول  .

د دغې سکالو د حساسیت او د واکمنو کړیو د ځواک په پام کې لرلو ، د مرکو په لړ کې ډیریو افغان او نړیوالو سرچینو په ډیرو برخو کې د خپل امنیت په اړه اندیښنې ځرګندې کړې چې ښایي دوی ته د هغو اوسنیو واکمنو کړیو له پلوه ګواښ رامنځته شي چې پخوایي په جنایاتو کې لاس درلود. له دې امله موږ د مرکو د ګډونوالو نومونه په یوه رمزي نوم لکه (  ګ ح ک ) یاد کړي دي چې نوموړي رمزي نومونه د هغوی د اصلي نوم استازیتوب نه کوي .

Download from: ketabton.com

په دغه ګزارش کې که د توکمونو نومونه یاد شوي دي ، دا  د دې مانا نه ښندي چې يو سړی دې د هماغه توکم استازيتوب وکړي. ډېري افغانان د خپلمنځي وَدونو له امله يوه ځانګړې توکميزه ريښه نه لري.. خو بيا هم يوګړي افغانان ځانونه په يوه ځانګړي توکم پورې تړلي بولي � او ډيري يې د پلرونو نومونه غوره کوي. که په ګزارش کې د توکمونو نومونه لکه ( تاجيک ،  پښتون ، وزبک يا هزاره ) راغلی وي ، دا د ټولو افغانانو مانا نه ښندي او نه د ( سني يا شيعه) مانا ښندي ، د مرکو ګډونوالو د ځان د پيژندنې لپاره دغه نومونه غوره کړي دي.

---------------------------------------------

[1]و ګورئ : د بشري حقونو د څار ټولنه : ستاسو وژنه موږ ته آسانه ده. په سويل ختيځ افغانستان کې له بشري حقونو څخه سر غړونې. د بشري حقونو د څار د ډلې لنډ ګزارش ، ۱۵ ګڼه. لينک ورکړل شوی لاندې وګورئ.  او د بشري حقونو د څار ډله : طالبانو د تيرو جناياتو بيه � په شمالي افغانستان کې د پښتــنـو ځورونه او ځپنه : د بشري حقونو د څار د ډلې څلورم لنډ ګزارش . لينک و ګورئ :

Human Rights Watch, �Killing You is a Very Easy Thing For Us�: Human Rights Abuses in

Southeast Afghanistan, A Human Rights Watch Short Report, vol. 15, no. 5 (C), July 2003, available at

http://www.hrw.org/reports/2003/afghanistan0703; and Human Rights Watch, Paying for the Taliban's

Crimes: Abuses Against Ethnic Pashtuns in Northern Afghanistan, A Human Rights Watch Short Report,

vol. 14, no. 2(c), n. 13, available at http://www.hrw.org/reports/2002/afghan2.

[2] AIHRC  Afghan Independent Human Rights Commission

[3] Recidivism

دا د لاتين ژبې له " رسيديوس" څخه په اخځ د بيا  ، يا د تکرار په مانا اخيستل شوی دی. په حقوقي اصطلاحاتو کې هغه چا ته ويل کيږي چې د خپل کرغيړن چلند تکرار ته د منفي پايلو له ليدلو وروسته بيا هم ليواله وي. همدارنګه د هغو کسانو په اړه کارول کيږي چې مخکې بندي شوي وي خو د جرم په بيا تکرار لاس پورې کوي. په ساينسي او

Download from: ketabton.com

حقوقي ادبیاتو کې د جنسي تیریو متکررو مجرمینو ته په نغوته ډېره یاده شوې اصطلاح ده. یا د الهکولي معتادینو په اړه هم کارول شوې ده. په امریکا کې د بدمعاشانو د ډلو هغو غړو ته ویل شوي دي چې په جنسي تیریو ، د مخدره توکو په قاچاق ، سرې وژنې کې ښکېل دي. (ژ)

[4]په دغه گزارش کې د ډلو د بولنې جوړښت د هغو بې شمیرو مرکو پر بنسټ لیکل شوی چې د ۱۹۹۲ او ۱۹۹۳ کال د پیښو د سرچینو په توگه بلل کېدلې ، چې هم مو د افغان د بشري مرستو له سرچینو ، ژورنالیستانو ، تاریخپوهانو ، دولتي چارواکو سره مرکې کړې دي ؛ هم مو د نړیوالو مرسته رسوونکو ټولنو له غړو ، د روغتیایي چارو له کارکوونکو ، ژورنالیستانو او دیپلوماتانو سره مرکې کړې او هم مو له مجاهدینو او د ډلو له مشرانو سره مرکې کړې دي. د دغه گزارش په څلورمه څپرکۍ کې د ډلو د بولنې یا قوماندې جوړښت را سپړل شوی دی. ددغې بولنې د جوړښت په اړه د زیاتو مالوماتو لپاره چې د ۱۹۹۰ز لسیزې په لومړیو کې مجاهدینو تصدیق کړې وگورئ :

Barnett R. Rubin, The Search forPeace in Afghanistan: From Buffer State to Failed State (New Haven: Yale, 1995) pp. 117-119; Amin Saikal,�The Rabbani Government, 1992-1996� in Fundamentalism Reborn? Afghanistan and the Taliban (WilliamMaley, ed., Lahore: Vanguard Books, 1998), pp. 34-36; Noor Mohammed Sangar, Neem Negahi BarE�telafhay-e Tanzimi dar Afghanistan (�A Brief Glance at Factional Alliances in Afghanistan�) (Peshawar:publisher unknown, 2003); and Tschanguiz Pahlavan, Afghanistan: The Era of Mujahedeen and the Rise ofthe Taliban (Tehran: Ghatreh Publishing House, 1999).

[5] Afghan Independent Human Rights Commission, �A Call for Justice: A Report on National Consultations on Transitional Justice in Afghanistan,� January 2005.

[6]هماغه

Download from: ketabton.com

## دویم : تأریخي مخینه

## ۲ .تاریخي مخینه

“د جګړې له پیلېدا مخکې ښار روغ رمټ وو. هک پک وم چې څنګه روغ رمټ پاتې دی. څرګنده دې چې له هغه وروسته هر څه د خاورو په کنډوالو بدل شول " .

دا د بي بي سي خبريال جرمي براون[1] دی چې په ۱۹۹۲ز کال کې  د شوروي پلوي رژیم له ړنګېدا وروسته د مجاهدینو د خپلمنځي جګړو په اړه خبرې کوي  .

د اوسني افغانستان د وسله والو نښتو تأریخي مخینه د ۱۹۷۸ز کال د اپریل له مباشتې وروسته هغه مهال را پیلیږي چې افغان کمونیست دولت د یوې وسله والې کودتا په ترڅ کې د ولسمشر سردار محمد داوؤد خان د واکمني په ړنګولو یې دولتي واک را خپل کړ ؛ سردار محمد داوؤد خان د پخواني پاچا محمد ظاهرشاه د تره زوي وو ؛ هغه په خپل وار په ۱۹۷۳ زکال کې د افغانستان پاچاهي د یوې سپینې کودتا په لړ کې ړنګه کړې وه] .2[

 د " غوایي انقلاب " له هماغې لومړۍ ورځې په خورا کرغیړنې بڼې پیل شو.  د کمونیستانو ګوند چې په کابل کې یې واکمني ټینګه کړې وه له دوه وو غټو ډلو ، د " خلق " او " پرچم " [3]  له ګډولې څخه جوړ یو ګوند وو. هرې ډلې ډیر لږ ټولنیز ملاتړ له ځان سره درلود په ځانګړې توګه له کابل او د هیواد له نورو لویو ښارونو دباندې ، د ټولنې پراخې پاړکې " طبقې" ، پولیس او وسله وال ځواک له کودتا سره په کلک ټکر کې ودریدل  .

د نوی دولت واکمني له لږ ځنډ وروسته د خلقي بېباکه تیرغمال " ظالم " مشر حفیظ الله امین منګولو ته ور پریوتله ؛ امین د ترهګرۍ ، نیونو او د مخالفینو د پاک کارۍ له لارې غوښتل په یوې شپې کې په افغانستان کې د کمونیستي اقتصاد پر ستنې ولاړ یو دولت رامنځته کړي. په ۱۹۷۹ز کال کې د نوي رژیم پر وړاندې ولسي پاڅون را وپارید ، شوروي د مړژواندي دړې وړې کېدونکي  " انقلاب " او ړنګېدونکي دولت د ژغورنې په موخه پر افغانستان تیری وکړ د پرچم د ډلې مشر ببرک کارمل یې د واکمنۍ پر ګدۍ کښیناوه .

خو د پاڅونوالو په ټـَکـَونه کې وار له واره تیر وو ځکه چې د پاڅون لمنه هرې خوا ته پراخه شوې وه. د یاغیانو ډلې د افغانستان د وسله وال ځواک له پخوانیو سرتیرو او افسرانو ، ایران او پاکستان ته د شړل شویو اسلامي ملیشاوو له غړو او د نورو خوا بدو شویو سیاسي ډلو له غړو څخه جوړې شوې وې. دغه خوَرې وَرې ډلې ټولې تر یوې موخې لاندې را ټولیدلې � د شوروي د نیواک او ایډیالوژۍ پر وړاندې له اسلامي او افغاني ارزښتونو څخه ننګه � دغو

Download from: ketabton.com

بیلا بیلو ډلو په افغانستان  کې دننه او له هیواده دباندې پراخ ملاتړ له ځان سره درلود. د دوې جګړه د " جهاد " او دوی ټول د " مجاهدینو " په نامه یاد شول .

د مجاهدینو د ګوندونو په منځ کې هیڅکله رښتونی یو موټیوالی نه وو : یو شمیر یې د یو بل پر وړاندې برالا دښمني درلوده او له یو بل سر یې جګړې کولې. خو د ۱۹۸۰ز لسیزې په اوږدو کې د مجاهدینو ډلو د امریکا د متحده ایالاتو ، د انګلستان ، سعودي عربستان ، چین، ایران او پاکستان د هراړخیزو مرستو په مټ د شوروي او د افغان د ملي وسله والو ځواکونو پر وړاندې کلکه او اغیزمنه ګوریلایي جګړه پیل کړه ؛ هغوی پر کاروانونو ، ګزمو ، وسلتونونو ، دولتي ودانیو ، هوایي ډګرونو او ان پر ملکي استوګنو سیمو بریدونه کول. افغان وسله والو ځواکونو او شورویانو په خپل وار د مجاهدینو اډې او د هیواد ټول کلي تر بمبارد لاندې ونیول ، د مجاهدینو ډلې او نور دولتي ضد فعالیتونه به یې په ډیرې بې رحمۍ درې وړې کول. د ۱۹۸۰ز لسیزې په اوږدو کې د هیواد هره سمه او غر ، لاره او ګودر ، لنډه دا چې هر ګوټ د جګړې په ډګر بدل شوی وو.

په افغانستان کې جګړې د پرګنو په ژوندانه ډیرې ناوړه اغیزې و شېندلې. د جګړې دواړو خواوو په کلکه له بشري حقونو څخه سرغړونه وکړه او نړیوال بشري قانون یې تر پښو لاندې کړ. شورویانو ډیري وختونه د خپلو پوځي بریدونو په لړ کې ملکي وګړي او ملکي میشتې سیمې په نښه کولې ، د شورویانو تر لاس او ولکې لاندې دولتي ځواکونو په ډیرې بیرحمۍ ملکي پرګنې و ځپلې. د مجاهدینو ځواکونو هم ځینې او ټکونې کولې ، هغوی به دبریدونو لپاره ملکي سیمې غوره کړې او غیرقانوني میتودونه [4] به یې کارول. اټکلي شمیري وایي چې د شوروي د نیواک په وخت کې د شخړو او وحشت په کړس کې څه دباندې یو میلیون وګړي ووژل شول او ( ۷ ) میلیونه کسان کډوال شول[5 ].

له پوځي اړخه سترې او له مالي اړخه مفلسه شوروي د " بیا رغښت "[6] د پالیسۍ د څپیړې په رڼا کې په ۱۹۸۹ ز کال کې له افغانستانه په شا شوه. خو د نجیب الله تر مشرۍ لاندې خپل شوري پلوي دولت ته یې د مرستو لړۍ جاري وساتله ، نجیب الله له دې مخکې د شوروي په لاس د روزل شوې څارګرې څانګې " خاد " مشر وو .

شورویانو او کمو نیستي واکمنۍ ، دواړو ،  افغان ولس ډړې وړې  او په څو ټوټو ویشلی وو. تر ۱۹۸۹ز کال پورې د ټول ولس له وګړو څخه څه د باندې ۵/۱ وګړي له هیواده د باندې وتلي ول او د افغانستان د ټولو کلیو بنسټونه نړول شوې ول . د افغان ولس ، د ولسي اړیکو او د ملي یووالي بنسټونه په ډیر بد ډول ویجاړ شول؛ هم د مجاهدینو د ډلو په منځ کې اوهم د رژیم په منځ کې د ټولنیزو ، ژب توکمیزو ، مذهبي � ګروهنیزو او د سیاسي بیلتونپالنې کرښې په ژوره توګه کېندل شوې وې .

همداشان جګړو ، د هیواد هر ګوټ د وسلو په زیرمو او وسلتونونو بدل کړ. له کمونیستي کودتا مخکې افغانستان تر ۱۹۷۰ز لسیزې پورې ډیرې ځانګړې وسلې نه درلودلې او یو پوځي هیواد نه وو. په ۱۹۷۹ز کال کې مجاهدینو له شوروي لښکرسره د ډغرو وهلو لپاره وسلې نه درلودلې ، هغه څه یې چې درلودل ډیرې وروسته پاتې وسلې وې ، له

Download from: ketabton.com

بلې خوا افغان کمونیست وسله وال ځواک هم کنډ و کپر او نامظمه وو او ډیرې وروسته پاتې وسلې یې درلودلې. له هغې وروسته هر څه بدل شول. د ۱۹۸۰ز لسیزې په اوږدو کې د امریکا متحده ایالاتو او سعودي عربستان ، او تر یوې کچې چین او ایران د مجاهدینو ډلو ته په اټکلیز ډول د ٦ تر ۱۲ بیلیونو ډالرو په ارزښت پوځي مرسته ځانګړې کړه ، له بله اړخه شوروي اتحاد د ۳٦ تر ۴۰ بیلیونو ډالرو په ارزښت پوځي مرسته د خپل لاسپوځی افغان دولت د ملاتړ لپاره ځانګړې کړه. ( پاکستان د مجاهدینو د ډلو کوربه هیواد وو او هغوی ته یې پوځي روزنې ورکولې او هم یې د امریکا او سعودي عربستان مرستې په مجاهدینو باندې ویشلې ) . د ۱۹۸۰ز لسیزې په اوږدو کې افغانستان په نړۍ کې لومړنی هیواد وو چې ډیرې سپکې وسلې یې درلودلې ؛ د ۱۹۹۲ز کال اټکل شوې شمیرې ښې ګندوې که د هند او پاکستان سپکې وسلې سره یو ځای کړو نو شمیره به یې بیا هم د افغانستان د سپکو وسلو تر کچې ونه رسیږي. سرچینه و ګورئ [ لمنلیک ]] 7[

د ۱۹۸۹ او ۱۹۹۱ز کلونو په اوږدو کې له افغانستانه د شوروي له په شا کېدنې وروسته د مجاهدینو او دولتي ځواکونو ترمنځ کلکو جګړو دوام وکړ. د مجاهدینو ډلو د ټرونونو او وراندیزونو له لارې د سولې څو هڅې وکړې خو نجیب الله په سرټمبه ګۍ پښه بنده کړه او له



پر شوبلې ناست شوروي سرتیری د پوځي پرید پر مهال � دا ۱۹۸۸ز کال دی چې شوروي سرتیري له افغانستانه په شا کیږي. Robert Nickelsberg1988

Download from: ketabton.com

واکمنۍ نه په شا کېده. د مجاهدينو د ډلو ترمنځ د مذهبي او ژب توکميز بيلتانه ژورې کرښې ايستل شوې وې � کله چې مجاهدينو له دولت څخه يو شمير سيمې ونيولې ، په خپلو منځو کې له يو بل سره ونښتل. سره له دې چې پاکستان ، سعودي عربستان او ايران هم د مجاهدينو ډلو ته د مرستو لړې وغځوله خو امريکا له افغانستانه خپل مخ وا ړاوه او پښه يې سپکه کړه. شوروي د نجيب الله حکومت ته په خپلو مرستو کې پرله پسې اوږه ورکړه. په افغانستان کې د وسله والو ډلو د لا درې وړې کيدلو د مخنيوي او پر هغه د پټېي د ايښودلو لپاره څو نړيوالې هلې ځلې وشوې. د سولې مأموريت تر ډيرې کچې د ملګرو ملتونو د سکرترجنرال دفتر ته پريښودل شو خو ملګرو ملتونو دومره سياسي ځواک نه درلود او نه يې اغيزمنې اړيکې دومره پراخه وې چې د ښکېلو خواوو ترمنځ سوله رامنځته کړي. دلته ده چې له شوروي سره بهرنۍ جګړه د څو ګوندونو ترمنځ په کورنۍ جګړې واوښتله او وَدَه يې وکړه.



ولسمشر نجيب الله � د شوروي له ملاتړه برخمن د افغانستان وروستنی ولسمشر � له هغه مخکې نجيب الله د شوروي د روزل شوې ځارګرې اداري " خاد " مشر وو � د شوروي له وتلو وروسته نومونړی تر ځلورو کالو پورې ولسمشر پاتې شو � شوروي د ۱۹۹۲ز کال د مارچ په مپاشت کې خپلې مرستې وربانديې بندې کړې، له هغې مودې درې مپاشتې وروسته نجيب الله استعفی ته غاړه کښيښودله � نجيب الله په ۱۹۹٦ز کال کې طالبانو وواژه.

په دغه مهال کې د سولې په لاره کې د خنډ کيليدي ټکي د افغان مجاهدينو ترمنځ يو موټيوالی وو او د امريکا ، پاکستان او سعودي عربستان پاليسی چې د نورو ګوندونو په پرتله يوازې يوه ګوند ته يې بې انډوله مرسته ورکوله دغه خنډ لاپسې پراخ کړ � دغه ګوند د ګلبدين حکمتيار اسلامي ګوند [8] وو. د ۱۹۸۰ز لسيزې په اوږدو کې حکمتيار له نومړو هيوادونو څخه تر ټولو ډيره وسله ترلاسه کوله او په ۱۹۹۱ز کال کې سي آی اې ( د پاکستان په

Download from: ketabton.com

مرستې ) د امریکا د مرستو ډیرې برخه حکمتیار ته ورکوله � په دغو وسلو کې هغه روسي وسلې او شوبلې هم وې چې امریکا د فارس د خلیج په لومړۍ جګړه کې له عراقه ولجه کړې وې ( له دغو وسلو څخه حکمتیار په کابل کې د ۱۹۹۲ � ۱۹۹٦ کلونو په اوږدو کې کار واخیست. ) [9] حکمتیار د نجیب الله د حکومت له ړنګېدا وروسته په دولت کې تر ټولو لوړه ونډه غوښتله ، دغې غوښتنې د مجاهدینو ترمنځ د پیوستون او یووالي ستونزه لا پسې کړکیچنه کړه ؛ د مجاهدینو نورو ډلو هم د حکمتیارد دریځ پر وړاندې قهر او کرکه څرګنده کړه او ټینګار یې کاوه چې د لږ مرستې په تر لاسه کولو یې د حکمتیار د ګوند په څیر د شوروي پر وړاندې جګړه کړې ده[10]. اټکل کیده چې د شوروي له نړیدا سره سم به شوروي پلوي رژیم هم ړنګ او ورسره جوخت به په افغانستان کې د جګړو د دوام لړۍ هم پراخه شي .

* * * * * * * * * * * *

د ۱۹۹۱ ز کال د سپټامبر په مباشت کې شوروي اتحاد او امریکا په دوه اړخېزه ډول تړون وکړ چې دواړه به د ۱۹۹۲ ز کال د جنورۍ د مباشتې له لومړۍ وروسته په یوه وخت کې د نجیب الله دولت او د مجاهدینو ځواکونو ته خپلې مرستې بندې کړي. په دغه پړاو کې ټولو ګوندونو ته څرګنده وه چې د نجیب د دولت ورځې په شمار راغلي دي. د پاکستان سرحدي لیکې ته ورڅیرمه د ټولو پرتو سیمو په ګډون ، د هیواد ډیرې برخې د مجاهدینو لاس ته ورغلې وې ، د شوروي د مرستو له بندېدا سره سم په کابل کې د نجیب الله پر رژیم مرګڅپاڼې تبه خپره شوه او دولت خپله ولکه وار په وار له لاسه ورکوله] .11[

له دغه پرمختګ سره سره ، د مجاهدینو مشرانو بیا هم د نجیب الله د دولت له پرځیدا وروسته په واکمنۍ کې د ونډې د ویشاک پر پلان یو بل ته غاړه نه ایښودله. د ۱۹۹۲ز کال په پسرلي کې ملګرو ملتونو د پاکستان او سعودي عربستان د چارواکو په ملتیا د یوه دولت د جوړلولو په موخه د مجاهدینو له سني او شیعه ډلو سره اوږه په اوږه کار وکړ.

د ۱۹۹۲ز کال د مارچ په ۱۸ نېټه د نجیب الله دولت د پاکستان او امریکا د پیاوړي دباوله امله ( د ملګرو ملتونو له لارې ) ومنله چې د لنډ مهالې واکمنې " عبوري " ډلې له رامنځته کیدا سره سم به ددولت له مشرتابه څخه لیرې کیږي او خپله استعفی به وړاندې کړي. نجیب الله په افغان ټلویزیون کې را څرګند شو او استعفی یې وړاندې کړه[12]. په سبا یې په شمال کې ځواکمن پوځي مشر جنرال عبدالرشید دوستم دولت ته شا کړه او د وحدت او جمعیت له بولندویانو سره په یو ځای کېدلو یې پریکړه وکړه چې دهغوی له ځواکونو سره به یوځای یو ټلواله دولت جوړوي. د نوي ټلوالې ځواکونو ، د مزار شریف ښار او ور څیرمه سیمې په خپلې ولکې کې راوستلې.[13] د هغې ترڅنګ د مجاهدینو نورو ډلو ټولې هغه سیمې لاندې کړې وې چې له پاکستان سره په ورڅیرمه کرښه کې پرتې وې ، اوس هغه شېبه را رسیدلې وه چې کابل د اغیزمنې کلابندۍ په منګولو کې راښکېل وو .

Download from: ketabton.com

د ۱۳۷۱ لمريز کال د پسرلي د برابرو شپو ورځو په پيلېدا چې د ۱۹۹۲ز کال د مارچ له ۲۱ نېټې سره سمون خوري ، ټولو ته ښکاره وه چې په افغانستان کې د کمونيستي واکمنۍ ټغر مخ په ټوليدا دی خو دا ښکاره نه وه چې ۱۳۷۱ لمريز کال به د سولې کال وي که نه. په دغه موده کې ملګرو ملتونو د نجيب الله له واکمنۍ وروسته د واکمنۍ د ويشاک پر پلان کار کاوه او د کابل دولت بيا هم په پښو ولاړ وو .

د اپريل د مياشتې په لسمې نېټې ملګرو ملتونو ، سکرترجنرال پتروس پتروس غالي پلان د مجاهدينو ډلو ته وړاندې کړ او د مجاهدينو ډلو هم و مانه ؛ په پلان کې ويل شوي ول چې د مجاهدينو ډلې به لومړی " د بې پـَرې افغانانو له منځه يوې جوړې شوې شورې" ته غاړه کښيږدي ترڅو له نجيب الله څخه واکمنۍ واخلي ؛ له هغه وروسته به نوموړې شورى په کابل کې لويه جرګه را بولي چې يو لنډ مهالی دولت و ټاکي[14]. په پلان کې ويل شوي ول چې ملګري ملتونه به له هيواده دباندې توکميز مشران او سپين روبي په خپلو الوتکو کې د اپريل د مياشتې په ۱۵ نېټه کابل ته و رسوي او نجيب الله به له هيواده دباندې بل چيرې و ليږدوي. په پلان کې ويل شوي ول چې په دغه پړاو کې به د مجاهدينو ټولې ډلې له ښاره د باندې دريږي .

ددغه پلان برعکس په پوځي سياسي ډګر کې بل ډول پرمختګونه رامنځته شول. د مسعود ځواکونو د کابل شمال ته د بګرام په هوايي ډګر او د پلازمېنې شمال ته د شمالي پر ټولو سيمو منګولې ښخې کړې ، د مسعود ډلو د دوستم له ډلو سره يو ځای کار کاوه ، دوستم په دغه مهال کې خپل پوځي- سياسي ګوند " ملي اسلامي غورځنګ ' جنبش' " جوړ کړی وو. دواړه ځواکونه د کابل په څنډو کې پراته ول. د حکمتيار ځواکونه د ښار په سويلي څنډو کې ديره شول .

دولتي ځواکونه هر يو په خپل وار د مجاهدينو بيلابيلو ډلو ته تسليمېدل او هر يوه ته يې د کابل ښار په ور ننوتلو کې د مرستې وړانديز کاوه. حکمتيار او مسعود دواړو د دولت د تسليميدونکو امنيتي ځواکونو په منځ کې خپل زړي کرلي ول ، دوستم خو پخوانی دولتي چارواکی ووچې لا وختي يې د کابل له چارواکو سره تړاوونه درلودل .

د تسليميدنې دغه لړۍ په ژوره توګه د ژب توکميز تړښت په ځرنګوالي پورې تړلې وه. د کورنيو چارو په وزرات کې ( خلقي ) پوليسان او افسران له حکمتيار سره د پښتو د جوړولو په هڅه کې شول ، د وسله وال ځواک او دولت چارواکي ( پرچميان ) له مسعود سره غاړه غړۍ شول. توركمن او وزبک چارواکي دوستم ته ور واوښتل .

د اپريل په ۱۵ نېټه کله چې نجيب الله د واکمنۍ پريښودلو ته چمتو کېده ، د مجاهدينو ګوندونو د ملګرو ملتونو له ترون څخه ډډه وکړه او ترون يې له ګواښ سره مخامخ کړ. په هماغه شپه د ملګرو ملتونو منځګړی بنن سيوان د نجيب الله د راپورته کولو لپاره د کابل پر لور والوت. کله چې نجيب الله د کابل هوايي ډګر ته نيږدې شو مليشيا ځواکونو د هغه بدرګه موټر و دراوه. نجيب الله بيرته د کابل پر لور ستون شو او په کابل کې د ملګرو ملتونو په ودانۍ کې يې پناه واخيستله ( نوموړی تر څلورو کالو د طالبانو تر راتګ پورې دلته پاته شو او بيا ووژل شو. ) [15]

Download from: ketabton.com

سیوان بیرته پاکستان ته والوت چې د خبرو لړۍ ته دوام ورکړي. په همدې لړ کې د نجیب الله د رژیم د واکمنې د کورنیو او دفاع د وزارتونو پښتون توکمو افسرانو د حکمتیارد اسلامي گوند ځواکونو ته د اجازې په ورکولو پیل وکړ چې ښار ته دننه شي او هم يې ښار ته د هغه د ننوتلو لپاره ځانونو سمبالول. د مسعود او دوستم ځواکونه د ښارپه شمال کې دیره پاتې شول او په بل اړخ کې د مجاهدينو استازو په پيښاور کې د ځواک د ویشاک پر پلان کار کوه .

د اپریل په ۲۴ نېټه حکمتیار نیږدې وو چې د ښار ولکه را خپله کړي خو د مسعود او دوستم ځواکونه پر کابل ور ننوتل اود ټولو وزارتونو او دولتې ودانیو ولکه يې په لاس کې ونیوله. د جمعیت او جنبش ځواکونو د اسلامي گوند پر ځواکونو چې د کورنیو چارو د وزارت او د ولسمشرۍ ماڼۍ " ارگ " يې نیولی وو برید وکړ او هغوی يې د ښار سویل ته په شا و تمبول. د اپریل په ۲۵ او ۲٦ نیټو پر ښار توغندي و وریدل او سړک په سړک جگړې دوام وکړ .

د مجاهدینو مشران چې لا تر دغه دمه په پاکستان کې ناست ول د اپریل په ۲٦ نېټه اعلان وکړ چې د واکمنۍ د ویشاک پر یوه تړون چې د " پیښاور تړون " نومیده له یو بل سره سلا شوي دي. په تړون کې سلا شوې وه چې د کوشنۍ خپلواکې مذهبي ډلې مشر صبغت الله مجددي دې د کالخوای " سرپرست " ولسمشر په توگه د دوه وو میاشتو لپاره کار وکړي او له هغه وروسته به د جمعیت سیاسي مشر برهان الدین رباني د څلورو میاشتو لپاره دغه دنده په غاړه واخلي. له رباني وروسته به یوه شوری یو لنډ مهالی دولت غوره کړي او نوموړی دولت به تر اتلسو میاشتو پورې واکمن وي او له وروسته به د ولسمشرۍ ټاکنې تر سره شي. د تړون پر بنسټ پتیېل شوې وه چې مسعود دې د لنډ مهالي دولت د دفاع د وزارت کالخوای وزیر وي. حکمتیار په بشپړه توگه له دولت څخه گوښې ودریده .

د اپريل تر ۲۷ نېټې پورې د حکمتیار د ځواکونو ډیری برخه د کابل د ښار سویلي برخې ته په شا تمبول شوې وه چې توپچي ځواکونو يې کولای شوای ښار تر کلک گواښ لاندې ونیسي. ښار د څو ډلو په منځ کې ویشل شوی وو ، په دغه موده کې د اتحاد ، وحدت او حرکت ځواکونه هم پر کابل ننوتلي ول. د پخواني دولت د پولیسو او وسله والو ځواکونو په زرگونو کسانو یا ځانونه د خپلې خوښې ملیشو او یا د مجاهدینو په نوي دولت کې د مسعود تر مشرۍ لاندې ځواکونو ته سپارلي ول. یو شمیر نور يې تښتېدلي ول. یو شمیر پښتـنانه چارواکي چې مخکې له مخکې يې له حکمتیار سره اړیکې درلودلې د ښار سویل ته ولاړل او له حکمتیار سره یو ځای شول ، یو شمیر نور يې پښتونواکه گوند اتحاد ته ور واوښتل[16]. تر دغه مهاله سره له دې چې په کابل کې جگړې رواني وې ، بیا هم ښار دومره نه وو ویجاړ شوی. شوروي پلوی رژیم په داسې حال کې ړنگ شو چې ښار ته ډیر لږ تاوان اوښتی وو.

Download from: ketabton.com



۱۹۹۲ز کال د اپریل ۱۸ نېټه : د جمعیت � نظار شورى بولندوى احمد شاه مسعود دجنبش له مشر جنرال عبدالرشيد دوستم سره له کتنې وروسته له نورو بولندويانو سره د يوه دښـتني تيلفون له لارې خبرې کوي. شپږ ورځې وروسته کله چې د حکمتيار ډلې د ښار له سويلي لوري پر ښار ننوتلي د جمعيت او جنبش ځواکونه هم پر کابل ور ننوتل. Robert Nickelsberg 1992



Download from: ketabton.com

۱۹۹۲ز کال د اپریل ۲۵ : د شوروي پلوي رژیم تسلیمېدونکي ځواکونه د جلال آباد د سړک پر غاړې ځانونه د جمعیت مجاهدینو ته سپاري. د نجیب الله له استعفی وروسته دولتي ځواکونو د مجاهدینو پر وړاندې له مقاومته لاس واخیست ؛ او کابل له جګړې پرته تسلیم شو. له هغه وروسته د مجاهدینو د ډلو د سیالیو له امله وحشت رامنځته شو. Robert Nickelsberg 1992



۱۹۹۲ ز کال د اپریل ۲۵ : د جنبش سرتیري د کابل په ختیځ کې د اسلامي ګوند د ځواکونو پر وړاندې د سړک په سړک جګړې په حال کې. Robert Nickelsberg 1992

Download from: ketabton.com



۱۹۹۲ز کال د اپریل ۲۵ : د جنبش سرتیري د اوړو د سر توغندي لیږدوي. د کابل سویل. Robert 1992 Nickelsberg



Download from: ketabton.com

۱۹۹۲ ز کال د اپریل ۲۷ : ملکي وګړي د جنبش او اسلامي ګوند د ځواکونو په اورکې ګیر او ټپیان شوي دي . 1992
Robert Nickelsberg



۱۹۹۲ زکال د کابل ختېځ د دریمي کارتې روغتون : تنکی هلک د ۱۹۹۲ز کال د مې په مباشت کې د سړک پر سړک جګړو په لړ کې ټپي شوی دی. د ۱۹۹۲ � ۱۹۹۳ ز کال په لړ کې په لس ګونو زره ښاریان ټپیان او ووژل شول. 1992
Robert Nickelsberg

-------------------------------

[1] Jeremy Bowen,

د بشري حقونو د څار د ټولنې مرکه دبی بي سي له خبریال جرمي براون سره. نوموړی له ۱۹۹۲ز نیولې د ۲۰۰۴ز کال د اپریل د مباشتې تر ۱۴ نېټې پورې په کابل کې وو .

[2]په دې اړوند د نورو مالوماتو لپاره کولای شـئ لاندینـئ سرچینې و ګورئ :

Download from: ketabton.com

For information about the periods discussed in this section, see Barnett R. Rubin, The Fragmentation of

Afghanistan: State Formation and Collapse in the International System, Second Edition (New Haven: Yale,2002) and Rubin, The Search for Peace in Afghanistan; Olivier Roy, Islam and Resistance in Afghanistan(Cambridge: Cambridge University Press, 1986); and Steve Coll, Ghost Wars: The Secret History of theCIA, Afghanistan, and Bin Laden, from the Soviet Invasion to September 10, 2001 (New York: Penguin, 2004).See also Mohammad Nabi Azimi, Ordu va Siyasat Dar Seh Daheh Akheer-e Afghanistan (�Army and Politicsin the Last Three Decades in Afghanistan�) (Peshawar: Marka-e Nashrati Mayvand, 1998); Sangar, NeemNegahi Bar E�telafhay-e Tanzimi dar Afghanistan; and Mir Agha Haghjoo, Afghanistan va Modakhelat-eKhareji (�Afghanistan and Foreign Interferences�) (Tehran: Entesharat Majlesi, 2001).

[3]د دغو دوه وو ډلو نومونه د هغوی د اړوندو ورځپاڼو له نومونو د " خلق " او د " پرچم " له ورځپاڼو څخه اخیستل شوي نومونه ول.  د غوایي د کودتا په شپو ورځو کې د خلق او پرچم دواړو ډلو د " افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند" تر نامه لاندې یو موټي شوي وې.

[4] د شوروي د نیواک په کلونو کې د بشري حقونو د ځپنې او د نړیوال قانون د ترپښو لاندې کولو په اړه د لا مالوماتو لپاره د بشري حقونو د له ۱۹۷۹ز کال څخه ۱۹۸۴ ز پورې وګورئ Tears, Blood, and Cries : ښار د ټولنې ګزارشونه وګورئ::

A Helsinki Watch and Asia WatchReport, 1984; Human Rights Watch, �To Die in Afghanistan,� A Helsinki Watch and Asia Watch Report, 1985; Human Rights Watch, �To Win the Children,� A Helsinki Watch and Asia Watch Report, 1986;Human Rights Watch, �By All Parties to the Conflict,� A Helsinki Watch and Asia Watch Report, 1988.See also, Jeri Laber and Barnett R. Rubin, A Nation is Dying (Illinois: Northwestern University Press, 1988); Amnesty International, Afghanistan: Torture of Political Prisoners (London: Amnesty International Publications, 1986).

[5] Rubin, The Fragmentation of Afghanistan, p. 1.

[6] Perestroika, Перестройка

Download from: ketabton.com

دا یوه سیاسي ګروپینه ده چې په ۱۹۸۷ز کال کې شوروي ولسمشر میخائیل ګرباچف شوروي د اقتصادي ریفرم لپاره و کاروله او نن یې د انګیسي ژبې ته لاره موندلې ده. (ژ)

[7] See Larry P. Goodson, Afghanistan�s Endless War: State Failure, Regional Politics, and the Rise of the

Taliban (Seattle: University of Washington Press, 2001), pp. 63 and 99; Coll, Ghost Wars, pp. 65-66,

151, 190, and 239. See also generally, George Crile, Charlie Wilson�s War: The Extraordinary Story of the

Largest Convert Operation in History (New York: Atlantic Monthly Press, 2003); Human Rights Watch,

Crisis of Impunity: The Role of Pakistan, Russia, and Iran in Fueling the Civil War, A Human Rights Watch

Short Report, July 2001, vol. 13, no. 3 (C); Haghjoo, Modakhelat-e Khareji, pp. 106-160; and

Mohammed Nabi Azimi, Ordu va Siyasat, pp. 225-325.

[8]سرچینه و ګورئ :

See Haghjoo, Modakhelat-e Khareji, pp. 168-189; for a broad discussion of the disunity among

mujahedin groups, see Mohammed Zaher Azimi, Afghanistan va Reeshey-e Dardha 1371-1377

(�Afghanistan and the Roots of the Misery 1992-1998�) (Peshawar: Markaz-e Nashrati Mayvand, 1998).

[9]سرچینه و ګورئ :

See Coll, Ghost Wars, p. 226; and Steve Coll, �Afghan Rebels Said to Use Iraqi Tanks,� The

Washington Post, October 1, 1991.

[10]سرچینه و ګورئ:

Download from: ketabton.com

See Rubin, The Fragmentation of Afghanistan, pp. 196-201; Saikal, �The Rabbani Government, 1992-

1996� in Fundamentalism Reborn, pp. 30-31.

[11]ددغه پړاو د پېښو په اړوند د لا زياتو مالوماتو لپاره و ګورئ :

Rubin, The Fragmentation of Afghanistan, pp. 266-274, and The Search for Peace in Afghanistan, pp. 127-135; Saikal, �The Rabbani Government, 1992-1996� in Fundamentalism Reborn; M. Hassan Kakar, Afghanistan: The Soviet Invasion and Afghan Response, 1979-1982 (Epilogue) (Berkeley and Los Angeles: University of California Press, 1995).

[12]سرچینه و ګورئ :

See Rubin, The Search for Peace in Afghanistan, p. 128.

[13]د مزار شريف د پرځېدنې په اړه د لا مالوماتو لپاره دغه سرچينې وګورئ :

For a detailed discussion of the political background and details of the fall of Mazar-e Sharif, see

Assadollah Wolwalji, Safehat-e Shomal-e Afghanistan dar Fasseleh-e Beyn-e Tarh va Tahaghghogh-e Barnamey-e Khorooj-e Artesh-e Sorkh az een Keshvar (�What Occurred in the Northern Plains of Afghanistan During the Planning and Implementation of the Withdrawal of the Red Army from This Country�) (Unknown, likely Peshawar: Edareh-e Nashrati Golestan, 2001); see also Mohammed Nabi Azimi, Ordu va Siyasat, pp. 512-525 (regarding the conduct and views of the Afghan national armed forces in the north during

this period).

[14]سرچینه و ګورئ :

U.N. Department of Public Information, �Statement of the Secretary-General on Afghanistan,�

Download from: ketabton.com

April 10, 1992.

[15]محمد نبي عظيمي چې په دغه وخت کې د افغان وسله وال ځواک لوړ پوړی چارواکی وو د خپل کتاب " اردو و سیاست " په ۵۵۷ او ۵٦۳ پاڼو کې وايي چې هغه د کابل له پرځېدا وروسته د نجيب الله او بنن سيوان تر منځ د خبرو شاهد وو او ټينګار کوي چې  نجيب الله له خپلو ډېرو نيږدې ملګرو سره له کابله د تللو په اړه خبرې نه وې کړې .

[16]ددغه مهال د سياسي او ژب توکميز جوړښت او پيژاندلپاره کولای شـئ دغه سرچينه و ګورئ :

Saikal, �TheRabbani Government, 1992-1996� in Fundamentalism Reborn, pp. 30-37, and Rubin, The Search for Peacein Afghanistan, pp. 128-129.

Download from: ketabton.com

## ۳ : د کابل جګړه : ۱۹۹۲ ز کال اپریل ۱۹۹۳ ز کال مارچ

[ واشنګتن پُست : ۱۹۹۲ ز کال د مې مپاشتې ۲ نېټه ] : د نن کابل هرڅه دی ، مګر د بریا وو او سوبو په لمر کې سوځېدونکی ښار. د ملکي وګړو پر کورونو د توغندیو او د شوبلو د مرمیو وَریا دوام لري .... دغه توغندي د ګوریلایانو د بنستپالي مشر ګلبدین حکمتیار ځواکونه وَرَوي. په سلګونو ملکي وګړي په روغتونونو کې خواره واره پراته دي ، په روغتونونو کې بریښنا ، اوبه نسته او طبي وسایل په نست دي. نور ټپیان هم هره ورځ روغتونونو ته راوړل کیږي .... په درندو وسلو سمبال او په ژب توکمیزو ډلو ویشل شوې ملیشیاوې پر سړکونو او واټونو په پټه او ښکاره ګرځي ، هغوی له خپلو سیالانو څخه د څو ګامونو په واټن کې خپلې نیول شوې سیمې ساتي ، د خپلو بیلابیلو غلیمانو په اړه په ترخه او تونده ژبه خبرې کوي او کله کله کورونه او هتۍ ګانې لوټي] .1[

وروسته له دې چې د حکمتیار ځواکونه د سویل پر لور په شا و تمبول شول ،د امن او ټینګښت لپاره د کوشنیو ګامونو اوچتول ډیر دوام ونه کړ. په ښار کې ډیرې میشتې ډلې یو بل ته د دښمنۍ په اور کې په څرګند ه برګې وې او حکمتیار په نوي دولت کې د زیاتې ونډې پر غوښتنې ټینګار کاوه .

د مې په ۲۵ نېټه د مسعود او حکمتیار تر منځ د سولې خبرې وشوې ، دولت په لومړي سر کې ومنله چې حکمتیار ته به په نوي دولت کې د سروزیرۍ څوکۍ ورکړي ، خو دغه تړون له یوې اونۍ څخه په لږه موده کې هغه مهال شنډ شو کله چې له اسلام آباد څخه د کابل پر لور د ولسمشر مجددي الوتکه د توغندي تر اور لاندې راغله. مجددي دعوی وکړه چې د حکمتیار اود نجیب الله د پخواني دولت ایجنټانو دواړو په ګډه دده د سپرلۍ الوتکه په نخښه کړې او دا چې حکمتیار له دې مخکې هم د هغه د الوتکې د راغورځولو ګواښ کړی وو.[2] په همدې لړ کې حکمتیار ټینګار کاوه چې د دوستم وزبکې ملیشاوې دې له کابله ووځي ( دغه کار حکمتیار ته دا شېبه په لاس ورکوله چې په آسانۍ مسعود له کابله دباندې وباسي او ښار په خپله ولکه کې راولي.)[3] د مې د مپاشتې په ۳۰ نېټه د جمعیت او جنبش د ځواکونو ګډولې د ښار په سویلې برخه کې د حکمتیارد ځواکونو پروړاندې جګړې پیل کړې. حکمتیار د ښار ټولې برخې د شوبلو په مردیکو او توغندیو وویشت او د جمعیت او جنبش ځواکونو د ښار سویلي برخې تر اوریزو پنډوسکو لاندې ونیولې. له بلې خوا د ښار په لویدیځه برخه کې د اتحاد د سُني ډلې او د وحدت د شیعه ډلو ترمنځ د جګړو لمنه پراخه شوه .

په لاندنۍ برخه کې د جمعیت او اسلامي ګوند ، د اتحاد او وحدت د ګوندونو او د جمعیت او وحدت ترمنځ د جګړو بنه په پیښلیکېزه ډول ویل شوې چې په ترڅ کې یې په زرګونو ملکي وګړي ټپیان او ووژل شول او په سلګونو زره نور اړ شول که له کابله د باندې کډوال شي.

Download from: ketabton.com

الف : ۱۹۹۲ زکال : له اپریله تر دسامبره

د کابل په لویدیځ کې ژبتوکمیزې � گروهنیزې جگړې او پر کابل پر ښارد اسلامي گوند برید دغه برخه د کابل په لویدیځ کې د ډلو ترمنځ د خپلمنځې دښمنیو اړخونه او هم د کابل پر سویلي برخې باندې د اسلامي گوند د توپونو بریدونه راسپړي. دهمدغې برخې په پای کې یوه ځانگړې جاج اخیستونکې برخه راځي چې ددغو دښمینو او تربگنیو پر لړ کې له نړیوال بشری قانون او د بشري حقونو له قانون څخه سرغړونه پکې ویل شوېده.

---------------------------------------------------------------

[1] Steve Coll, �Afghanistan�s Fate: Healing or Disintegration?� Washington Post, May 3, 1992.

[2]سرچینه و گورئ :

Sharon Herbaugh,

له اسوشیـئـتد پرس څخه شیرون هرباوغ ۱۹۹۲ زکال د مې د مېاشتې په ۳۱ د " ولسمشر یاغیان او کمونیستان د هغه په وژنی تورنوي" تر سرلیک لاندې یوه مقاله لیکلې ده. هرباوغ ددغو تورونو په غندنه کې د اسلامي گوند د ویاند عبدالقدیر کریاب که خولې وایې چې : " که موږ دا کار کړای وای ، موږ به دا کار لږ تر لږه په ۲۰ توغندیو کړای وای چې د ژندوي پاتې کیدلو هیڅ چانس نه وای پاتې ، خو موږ دا کار نه دی کړی.

[3]په دغه مهالیز واټن کې د حکمتیار د ویناوو په اړه د لا زیاتو مالوماتو لپاره د سنگر لیکنې د [ نیم نگاهې بر ائـتلاف های تنظیمي در افغانستان] له ۱۱۵ تر ۱۱٦ پاڼې پورې او ورسره مل سرچینې و گورئ.

Download from: ketabton.com

## دویم : تأریخي مخینه

## جنګي جنایتونه : په وینو سره لاسونه )پرلپسې لړۍ)

ژباړه : رحمت اریا

د کابل لویدیځ : وحدت ، اتحاد او جمعیت

د ۱۹۹۲ زکال د مې په مېاشت کې یوازې څو ورځې وروسته له دې چې حکمتیار د کابل له ښاره دباندې په شا و تمبول شو ، د کابل په لویدیځ کې د ( عبدالرب الرسول سیاف تر مشرۍ لاندې ) د اتحاد پښتونواکه ډله او د ( عبدالعلي مزاري تر مشرۍ لاندې ) د هزاره واکه شیعه ډله په خپلو منځو کې له یو بل سره و نښتلې ، پر یو بل یې د توغندیو ویشتل پیل او سړک په سړک یې د یو پر ضد بریدونه وکړل. هرې ډلې هڅه کوله چې یو بل د خپل ګاونډېتوب له هغوسیمو او دولتي ودانیو څخه په شا و تمبوي چې ځواکونو یې لا مخکې نیولې وې .

جګړې په داسې ځایونو کې را پیل شوې چې د ملکي وګړو پراخه ګڼه ګوڼه وه او هر چا ددې اټکل کولای شوای چې ډېر ملکي وګړي به ووژل شي ، د ملکي وګړو ډېر کورنه او نورو ملکي بنستېونه به و نړول شي. جګړه هغه مهال بې ګټې اوبې مانا شوې چې ښکېلو خوا وو ، ودانۍ په ودانۍ او سړک پر سړک جګړه کوله او ټولې ودانې له خاورو اوایرو سره یو شوې. د کابل د ښار لویدیځه برخه د ۲۰۰۵ ز کال تر نیماییو پورې هماغسې د کنډوالو په شان ښکاریدله څنګه چې د ۱۹۹۲ او ۱۹۹٦ زیږدیزو کلونو په لړ کې نړول شوې وې .

هیڅ داسې ډاډ منه سرچینه نشته چې په زباد ورسوي کومې خوا ، اتحاد یا وحدت ، دغه جګړې را پیل کړې. ځینې څارونکی باور لري چې دغه شخړې د ډېرو کوشنیو خبرو پر سر راپیل شوې : پوسترونه. د اتحاد او وحدت ډلو هرې یوې د بلې ډلې د مشرانو سیاف او مزاري پوسترونه څیرل � خبره د دواړو خواو د ځواکونو او جنګیالیو ترمنځ په لفظي شخړو واوښتله او وروسته د دواړو ځواکونو ترمنځ پخه جګړه راپیل شوه .

د شوروي د نیواک د مهال لوړپوړی جنرال ، محمد نبي عظیمي چې غوښتل یې په نوي دولت کې د ملي وسله وال ځواک په جوړولو کې جوګه شي ، د خپلو د ۱۹۹۸زکال په یادښتونو کې د وحدت او اتحاد د ډلو ترمنځ نښتې داسې راسپړي :

" د هزاره ګانو او اسلامي اتحاد ترمنځ جګړه د ۱۹۹۲ زکال د مې د مېاشتې په ۳۱ نېټه پیل شوه. په لومړي سرکې د وحدت د ګوند د مشرتابه څلور تنه د کابل د سیلو په سیمه کې ووژل شول : کریمي ، سید اسماعیل حسیني ، چمن علي ابو ذر او وثیق. لومړني درې تنه د وحدت د ګوند د مرکزي کمیټې غړي ول. د نظار شورۍ [ دولتي چارواکو ] د وحدت ګوند ته خبر ورکړ چې د سیاف سړیو ، نوموړي کسان وژلي دي . له هغه وروسته [ د اتحاد د یوه پیاوړي

Download from: ketabton.com

بولندوي ] حاجي شيرعلم موټر د کابل سره پله [ پل سرخ ] ته په نيږدې سيمه کې درول کيږي ، کله چې نوموړی بولندی د هغوی له منګولو راخلاص شو په موټر کې جګړه وشوه او له سپرليو څخه يو تن ووژل شو] 1. [

پرته له دې چې د وحدت او اتحاد ترمنځ د لومړنيو نښتو لامل په پام کې ونيول شي ، د دغو ډلو ترمنځ نښته نه بايد ځوک هک پک کړي. د وحدت د شيعه مسلمانې ډلې او د اتحاد د سني مسلمانې ډلې ترمنځ ترينګلتيا لا له پخوا خپلې تر لوړې کچې رسيدلې وه ، د اتحاد ډله په کلکې محافظه کارې ګروهنې باورلري چې وهابيزم بلل کيږي او شيعه ييزم ته د ارتداد په سترګه ګوري. د ترينګلتيا بل لامل کيدای شي د دواړو ډلو په منځ د بهرنيو جنګياليو ، جنګي سلاکارانو ايجنټانو اغيزه وبلل شي چې له ايران او په شوني توګه له سعودي عربستان څخه ول � دغو بهرنيو له دواړو ډلو سره کار کاوه � ايرانيانو له وحدت او سعوديانو له اتحاد سره. د وحدت په ګوند کې دننه بې شميرو ايراني ايجنټانو کار کاوه او موخه يې د وحدت د ډلې د پوځي ځواک غښتلواله او پياوړتيا وه چې له دې لارې دولت تر خپلې اغيزې لاندې راولي. له بلې خوا سعودي ، شخصي يا دولتي ايجنټانو د سياف د اتحاد د پياوړې کولو لپاره په هماغې موخې کار کاوه .

کله نا کله به د جمعيت د بولندويانو ، د مجددي يا د رباني د استازو يا د سره صليب د نړيوالې ټولنې د رسمي چارواکو په منځګړيتوب اوربند وشو خو اوربند به د څو ورځو په لړ کې بيرته مات شو. د دغې شخړې د اور د لا تود ساتلو او پر هغې د نورو تيلو او ځځلو د شيندلولپاره به ، يو شمير نورې ډلې په بيلابيلو وختونو کې د ښکيلو خواوو ملاتړ ته ورغلې. د حرکت ډلې به د اتحاد پر وړاندې له وحدت سره يو ځای شوې. وروسته له دې چې د وحدت ډلې د ۱۹۹۲ زکال د جولای په مياشت کې پر جمعيت بريد وکړ د مسعود سرتيرو د کابل د ښار پر لويديځې برخې غچ اخيستونکي بريدونه تر سره کړل ( او بې شميره ملکي وګړي يې ووژل )]2. [

د بشري حقونو د څار ټولنې د کابل د ښار د لويديځې برخې د ۱۹۹۲ز کال د جګړو له بلهاريانو او شاهدانو سره مرکې کړې دي ، په دغو مرکو کې پر هغوی باندې تير شوې وحشت او د ملکي وګړو پر ژوندانه باندې د جګړو اغيزې راسپړل شوي دي .

س ک د کابل په لويديځ کې يو روغتيا پال وو ، نوموړی د هغه ورځنې ناتار او وحشت په اړوند خبرې کوي چې د ښار په لويديځ کې د ميرويس ميدان او د هغه په ور څيرمو سيمو کې تيريده:

" څه ووايم ؟ ما په دغو شپو ورځو کې داسې پيښې ليدلې چې د ژوند تر پايه به يې هيرې نه کړم. کله چې هغوی جګړې کولې په سلګونو کسان به يې ټپيان کړل � هغوی هر وخت جګړې کولې. روغتون له ټپيانو او ناروغانو ډک وو ، نور ځای نه وو موږ نه شوای کولای د هر راوړل شوي ناروغ درملنه وکړو. خلک د روغتون په دالانونو کې مړه کېدل. د خلکو درملنه نه کېدله. هرې خوا مړي پراته ول او هر ځای په سر وينو رنګ وو. کله چې جګړو زور اخيست ، موږ نه شوای کولای ناروغان بلې خواته يوسو ، روغتون به په اونيو اونيو له مړيو ډک وو ، هر کله به چې له روغتونه

Download from: ketabton.com

مړي و ایستل شول ، روغتون به بیا په مړیو ډک شو. کله به چې خبریالان راتلل هغوی ټولو یو پوښتنه کوله : " څومره توغندي منښتي دي؟ څو تنه وژل شوي دي؟ څو تنه ټپیان شوي دي؟" خبریالان یوازې همدغو پوښتنو ته لیوالتیا درلودله...

ما د کابل د ښار په لویدیځ کې پر سړکونو او هرې خواته مړي لیدلي دي. په روغتون کې د ناروغانو په پرتله ډیري مړي ول ، د هغوی خپلوانو نه شوای کولای چې راشي او خپل مړي واخلي] "3.]

س ک زیاته کړه چې د کابل په لویدیځ کې روغتونونه په څو څو ځله د اتحاد/جمعیت او وحدت جګړو په لړ کې په توغندیو ویشتل شوي دي. " یو ځل د روغتون د ماشومانو څانګه وویشتل شوه او دوځله د عملیاتو خونه. ناروغان او ورغتیایي کارکوونکي یې ټول ووژل] . "4 ]

د کابل ښار یوه استوګن د بشري حقونو د څار ټولنې ته په خپلو سترګو لیدلی هغه وحشت څرګند کړ چې د ۱۹۹۲ زکال په دوبي کې یې د کابل په لویدیځ کې لیدلی وو :

"میرمنې مې زموږ لومړنی ماشون زیږاوه. موږ بې وزلي وو ، په کور کې وو، موږ نه شوای کولای هغه چیرې [ روغتون ته] بوزو. میرمنې مې راته وویل چې د هغې خور د مرستې لپاره راولم. له دې امله د کابل لویدیځ ، قرغې ، ته ولاړم [ قرغه له پغمان سره په پوله کې پرته ده ]. کله چې زه هلته وم جګړه پیل شوه . موږ د افشار سړک و نیو چې کورته ولاړ شو. موږ پر سړک روان وو ، د بایسکل ترشا مې خوښینه را سره وه .

د قرغې او افشارو ترمنځ د سړک پر سر ما د مړیو جسدونه ولیدل � اوه لس ، اتلس ، نه پوهیږم ، خو ټول یې ملکي کسان ول. هغوی پلي لارویان او سپرلۍ ( د بایسکلونو ) ول ، هغوی جنګیالان نه ول. د مړیو جسدونه پړسیدلي ول. ما هزاره جنګیالي ولیدل ، په ونو پورې تړل شوي ول او بیا په ډزو وژل شوي ول. ما څلور تنه په همداسې یوه حالت کې ولیدل. زما خوښینه ډیره خواشینې وه ، هغې کانګې پیل کړې ، زه اړ شوم چې و دریږم. هغې ډیرې کانګې کولې ، موږ نه شوای کولای پر مخ ولاړ شو. هغه ، تر نن ورځې پورې غوښه نه خوري.... موږ اړ شوو چې په راغلې لار بیرته ولاړ شو. موږ بیرته قرغې ته ولاړو او له هغه ځایه مو بل سړک ونیو.... کله چې کورته راورسیدلو ، میرمن مې زموږ لومړی ماشوم زیږولی وو ، زما لومړی ماشوم مړ شوی وو. د مړه ماشوم ښخول موږ ته ډیر ګران کار وو ،ډیره درنده جګړه روانه وه او ښخول یې ګران ول] "5. ]

یوه افغان خبریال چې تل یې په ۱۹۹۲ز کال کې د کابل په لویدیځ کې کار کاوه ، څرګندوي چې ورځنۍ جګړې څنګه پرمخ تللې:

Download from: ketabton.com

"د کابل پر لویدیځ او افشارو به شپه او ورځ د شوبلو مرمۍ او توغندي وریدل ... د نظار شورى به د ژوو له بڼ او سیلو څخه بریدونه کول. د سیاف ځواکونو به له لویدیځ لوري پر دشت برچي او د ښار د لویدیځ پر مرکز میرویس میدان بریدونه کول. د کابل لویدیځ د اتحاد ، وحدت او جمعیت د جګړو له امله په کنډوالو بدل شو ، د مسعود تر مشرۍ لاندې د نظار شورى به د کابل د ښارد زړه له منځه له دوه وو لوړو څوکو د تلویزیون د غره او د مأمورینو د کارتې د غونډۍ له پاسه د توپونو ډزې کولې او توغندي به یې ویشتل.... زه ډیریو هغو ځایونو ته تللم چې توغندي به لګیدلي ول. ما ډیر مړي ولیدل ، ډیرې وحشتناکې پیښې وې]" .6[

د ۱۹۹۲ ز کال د جون د مېاشتې لومړنۍ اونۍ له ځانګړي بدوالي برخمنه اونۍ وه ، له بلې خوا د حکمتیار ځواکونو هم د سویل له لوري ښار د شوبلو تر مردکو لاندې ونیو.[7] ( پر ښار باندې د حکمتیار د ډزو په اړه لاندینۍ برخه و ګورئ. ) د کابل ښار یوه استوګن جمیل الرحمن کامګار د کابل د پیښو یوه پیښلیکنیزه برخه نېټه په نېټه لیکلې او وروسته یې خپره کړې ده ، نوموړی د وحدت او اتحاد د ځواکونو ترمنځ او د جګړې د دَرولو په موخه د ( جون په دویمه نېټه ) پر دولتي منځګړو د برید خبره لیکي ؛ نوموړی لیکي چې د ( جون په دریيمه نېټه ) د اتحاد سرتیرواو هزاره جنګیالیو په سلګونو ملکي وګړي و تښتول ؛ هغه زیاتوي چې د ( جون په پینځمه نېټه ) په سلګونو ملکي وګړي ووژل شول ، د سره صلیب په روغتون کې نور ځای نه وو او په سلګونو کورنۍ د هغوی د کورونو له ړنګیدا وروسته اړ ایستل شوې چې کډه وکړي] .8[

د اسوشـئـتد پرس خبریال شیرون هرباوغ [9] چې په ۱۹۹۳ز کال کې د کابل په شمال کې د چورلکې د رالویدلو په پیښه کې ووژل شو ، د جون په پینځمه نېټه دغه لنډ ګزارش لیږلې دی :

]"آدینه ' جمعه' ، د جون ۵ ، ۱۹۹۲ زکال]: بریدونه دوام لري ،ښایي نور بریدونه هم وشي ، په ویجاړې شوې پلازمېنې کې کورونه او ښوونځي نړیدلي دي. نن لږ ترلږه ۲۰ تنه ووژل شول او ۱۰۰ تنه نور ټپیان شول.... سیال ځواکونه د یو بل خواووې په توغندیو او د شوبلو په مرمیو ولي ، دا بریدونه دومره پیاوړي دي چې په یوه لیکه کې د پرتو کورونو او هټیو لړۍ له خاورو سره یوه کوي او د بریښنا مزي پر ځمکه را پریوتلي دي. د کابل د ښار په زړه کې پر دریو تشو ښوونځیو توغندي و موښتل ، څلور تنه لار رویان یې ووژل او ښوونځي د اور د خولې مَړۍ شول. شاهدانو وویل چې نن هم د کابل په شمال کې توغندي منښتي دي او په یوې کورنۍ کې یې شپږ تنه وژلي دي. شاهدانو وویل چې نا پیژندل شویو وسله والو کسانو د کابل د ژوو بڼ ته څیرمه د هټیو لړۍ پاکې او و نړولې او لس تنه یې ټپیان کړل. په شیعه میشتو سیمو کې شاهدانو وویل چې سني یاغیانو کورونه او هټۍ و لوټلې ، لارویان یې ووژل او د ټپي شویو ګوریلایانو سترګې یې د سترګو له ګاټو را و ایستلې او د مړیو جسدونو ته یې اور ورته کړ] ".10[

Download from: ketabton.com

په همدې اونۍ کې د فرانسپرس د ایجنسۍ یوه خبریال د ښار په لویدیځ کې په سلګونو ملکي وګړي ولیدل چې له کورونو وتلي ول او د خوندي ځای د موندلو په لټه کې په تیښته ول ، هغه ولیدل چې ملکي وګړي په ړندو ډزو کې وژل کیدل ، هغه ولیدل چې ټپي ماشومان به د خاورو په لاسي کراچیو کې روغتون ته ځغلول کېدل] .11[

یوه ملکي وګړي چې د کابل په لویدیځ کې د سیلو په شااو خوا کې یې ژوند کاوه د وحدت او اتحاد د ډلو ترمنځ د جګړو په اړه چې د هغه په باور د ۱۹۹۲ ز کال د جون په مپاشت کې له یوه لنډ اوربند وروسته رامنځته شوه داسې وايي:

"خلک ډیر هېله من ول چې اوربند به دوام وکړي: خلکو دیخوا ایخوا تګ راتګ پیل کړ او هغه کارونه یې چې تر دغه دمه نه شوای کولای وکړل... د سهار نهه بجې وې.

ناڅاپه چاودنې او د وسلو ډزې پیل شوې. هرې خواته مرمۍ وَریدلې لنډه دا چې هر شی به په خپله مرمۍ ګرځېدلې ، ډیر بد حال وو. هر چا هڅه کوله چې و تښتي او ځان یوه خوندي ځای ته ورسوي. میړونو خپلې میرمنې هیرې کړې وې ، وروڼو خپلې خویندې هیرې کړې وې ، میندو خپل ماشومان هیر کړي ول ، او ترونو خپل وریرونه هر چا هرې خواته ځغستل او هر څه په خوځښت راغلي ول ، ټول یوازې په یوه شي پوهیدل او هغه دا چې ځان یوه خوندي ځای ته ورسوی. خلکو زموږ د ګاونډیتوب سیمو ته را ځغستل ځکه چې د نظار د شورى په ولکه کې وې. د وحدت ډلې د سیلو له سویلي برخې د میرویس میدان له سیمې څخه چې له ورایه په سترګو ښکاریدله ډزې کولې. د اتحاد ډلې د سیلو له لویدیځې برخې د خوشحالخان له سیمې څخه ډزې کولې. دواړو غاړو غوښتل چې سیمه تر ولکې لاندې راولي ، هغه لوټ کړي او بیا خپلې پوځي اډې په کې ځای پر ځای کړي. دواړو غاړو د ملکي وګړو پر کورونو ور ودانګل ، کور په کوربې مورچلونه جوړ کړل. هغوی د یو بل پر لورتوغندي ، درندې وسلې لنډه دا چې هر ډول وسلې کارولې.

زما کور د نظار د شورى یوې پوستې ته نیږدې وو. ما لیدل چې ښځې او نارینه له سړکونو زموږ پر خوا راځغستل او د ډزو له ویرې یې غوښتل ځانونه خوندي کړي. په دې لړ کې به خلک په مرمیو او د چاودنو په چړو لګېدل. خلکو به د سړک پر مخ پروت وکړ. چا چې سرونه پورته کول نو په ډزو کې به و نښتل او بیرته به پر ځمکه راپریوتل. یو شمیر کسانو بیا هم منډې وهلې او شا ته به یې نه کتل چې څوک و لګید یا ووژل شو. هر چا منډې وهلې ترڅو ځان خوندي وساتي. ډیره بوږنوړې ورځ وه....

هرې خواته ډزې رواني وې. مرمۍ په هر څه او هر چا ښتلې : ملکي وګړي لګېدل ، لنډه دا چې مرمۍ هر چیرې لګېدلې. د سیاف ځواکونو ځایونه ونیول هغوی د توپکو ډزې کولې او توغندي یې ویشتل ، هغوی د سیلو تر شا د کارته مأمورین پر لور د مرغانو په شان را الوتـل او د خلکو د کورونو ترشا پټېدل. هرې خواته توغندي وَریدل. جګړې

Download from: ketabton.com

تر تیاره ماښامه پورې دوام وکړ. د سیاف ځواکونه زموږ د سیمې ګاونډ ته راغلل. موږ د سیاف د جنګیالیو په منځ کې کندهاریان ولیدل] .12[

په کابل کې یوه ژورنالیست د ۱۹۹۲ زکال د جون په ۴ نېټه د هزاره ګانو پر سیمو باندې د اتحاد کلک بریدونه مستند کړي دي او د سیمې له استوګنو وګړو سره یې مرکې کړې دي ، هغوی وویل چې د اتحاد ځواکونو پر هغوی د میرویس میدان په سیمه کې برید وکړ او شپږ تنه ملکي وګړي یې ووژل. د سیمې یوه ترهیدلې وګړي وویل : " ګوریلایان کور په کور ګرځېدل ، هغوی ویل چې موږ شیعه ګان وژنو" .13[ ]

د همدې مباشتې په اوږدو کې جګړو دوام وکړ او لړۍ یې تر دوبي پورې و غځېدله. د جمهوریت روغتون چې د کورنیو چارو د وزارت تر څنګ وو ، ټولې هینداري یې ماتې شوې وې ، روغتون د جون په ۲۴ نېټه و تړل شو. کله چې ژورنالیستان د همدې اونۍ په ترڅ کې له روغتونه لیدنه وکړه د " نومیدې یوه زړه بوږنوونکې ننداره یې ولیدله " � ډاکټران ، رنځورپالان نه ول ، د جراحي نومیده ناروغان په خپلو مرداریو او میتازو کې اوږده غځېدلي ول.[14 ]

-----------------------------------------------------------------------

[1]محمد نبي عظیمي " سیاست و اردو" پ: ٦٠٦ [ دغه برخه د بشري حقونو د څار ډلې ژباړلې ده ]

[2]سرچینه و ګورئ :

John Jennings, �Warring rebel groups blast Afghan capital,� Associated Press, July 19, 1992;

Suzy Price, �Kabul shelling injures hundreds of people,� Reuters, July 19, 1992.

[3] سرچینه و ګورئ :

Human Rights Watch interview with S.K., Afghan medical worker in Karte Seh (West Kabul)

during early 1990�s, Kabul, July 9, 2003.

[4]هماغه

[5]سرچینه وګورئ :

Human Rights Watch interview with F.R.G., Kabul resident, Kabul, July 3, 2003.

[6]سرچینه و ګورئ

Human Rights Watch interview with O.U., Afghan journalist, Kabul, July 13, 2003.

Download from: ketabton.com

[7] په کابل کې روغتیایي چارو چارواکو فرانسپرس ته د ۱۹۹۲ز کال د جون د میاشتې په ۹ نېټه وویل چې د جون د میاشتې په لومړۍ اونۍ کې ۱۰۰ تنه وژل شوي او ۴۰۰ تنه ټپیان شوي ول .

[8]جمیل الرحمن کامګار: حوادث تأریخي افغانستان: ۱۹۹۰ � ۱۹۹۷: پېښاور د میوند خپرندویه ټولنه. ۲۰۰۰ زکال ، له ٦٦ تر ٦٨ پاڼې پورې ژباړه [ د بشري حقونو د څار ټولنه ] کامګار دا هم زیاتوي چې د حکمتیار پر ځواکونو به د شپې له خوا د توغندیو او د شوبلو د مرمیو وریا وې پیل شوې ، دغه وریا وې به ډېرې وختونه جنرال عبدالرشید دوستم ته پالیاله ځواکونو کولې د جون د میاشتې د لسمې نېټې پر شپه دومره توغندي او د شوبلو مرمۍ و وریدلې چې توره شپه یې په رڼا ورځ اړولې وه .

[9] Sharon Herbaugh

[10]سرچینه و ګورئ :

Sharon Herbaugh, �Pro-Government militias intervene as fighting continues in Kabul, � Associated

Press, June 5, 1992. See also Andrew Roche, �Gunbattles rage in Kabul, death toll over 100, �

Reuters, June 5, 1992: �At least three civilians were shot dead on Friday morning [June 5], witnesses

said. Residents scurried out of the area and units from neutral guerrilla factions sealed off road

junctions around the maze of alleys near Temur Shahi Park as bullets flew over rooftops. . . .�

[11]سرچینه :

Agence France-Presse dispatch, June 2, 1992.

[12]سرچینه:

Human Rights Watch interview with F.K.Z., resident of west Kabul, Kabul, July 9, 2003.

[13] Andrew Roche, �Gunbattles rage in Kabul, death toll over 100,� Reuters, June 5, 1992.

Download from: ketabton.com

[14] Kurt Schork, �Fighting Erupts in Center of Kabul,� Reuters, June 25, 1992; and �Kabul��Beirut

without the Green Line,�� Reuters, June 26, 1992.

Download from: ketabton.com

## دویم : تأریخي مخينه

## جنگي جنایتونه : په وینو سره لاسونه )پرلپسې لړۍ)

ژباړه : رحمت اریا

د اسلامي ګوند توغندي او د شوبلو ډزې

یوازې د کابل لویدیځ د خطر سیمه نه وه. هماغسې چې د ښار په لویدیځ کې اتحاد او وحدت جګړې کولې د جمعیت او اسلامي ګوند تر منځ به هم په سویلي سیمو کې د جګړو د لمبو څپې خپرې وې ، په ښار باندې به د توغندیو او د شوبلو د مرمیو د باران وریا وه � دغه بریدونه د ښار پر هر ګوټ کېدل ، د هغوی موخه ځانګړې پوځي سیمې نه وې. دغه جګړې د خپل د وخت تر ټولو ویروونکې مرګڅپاڼې جګړې وې .

ولسمشر مجددي د پېښاور د تړون پر بنسټ د جون په پای کې واک رباني ته و سپاره � لا تر دې مخکې رباني او د مسعود ځواکونو ټول وزارتونه او د امنیتي چارو فعالین په خپله ولکه کې درلودل. حکمتیار بیا هم له دولت سره یو ځای کیدل و غندل. د حکمتیار اسلامي ګوند خپلو بریدونه ته لا پونده ورکړه او پر ښار یې توغندي او د شوبلو مرمۍ وَرَولي. هر لور ته توغندي لګیدل.

په ټول کابل کې حالات په یوه ډول ول ، هر څوک په هره شېبه کې او هر چیرې وژل کیدای شواى : توغندوي پر کورونو ، ښوونځیو، دفترونو ، د بسونو پر تمځایونو او مارکټیونو مښتل.[1] د کابل ښاریانو د بشري حقونو د څار ټولنې ته وویل : هغوی لیدل چې توغندي او د توپونو مرمۍ د ښار پر لور راتلې ، دوی وایي موږ پوهیدلو چې دا د حکمتیار د ځواکونو له لوري راځي ځکه د توغندیو د راتګ کرښه د ښار د سویل لویدیځ برخې وې ، دوی وایي چې دغه سیمې د اسلامي ګوند په ولکه کې وې او یا یې اوریدل چې توغندي له همدغه لوري ویشتل کیږي.

Download from: ketabton.com



۱۹۹۲ز کال ، د مې ۲۹ نېټه : د ولسمشر صبغت الله مجددي ویشتل شوې الوتکه د کابل هوايي ډګر د ځغاستې پر لېکه راکوزه شوې ده. دغه الوتکه له اسلام آباده را خوځېدلې وه او د کابل هوايي ډګر ته نېږدې د راکوزیدلو په وخت کې ویشتل شوې ده. د برید پر مهال د الوتکې پزه الوتې ده ، مرستیال پیلوټ د توغندي په چرې ټپي شو خو پیلوت الوتکه خوندي را کوزه کړه. مجددي چې روغ رمټ پاتې وو د برید پړه پر حکمتیار او د کمونیستي رژیم پر ایجنټانو و غورځوله. په بله ورځ یې د جنبش او جمعیت ځواکونو د کابل پر سویل برید وکړ.

� 1992 Ed Grazda

د کابل ښار یو استوګن د بشري حقونو د څارڅولنې ته د ۱۹۹۲زکال د دوبي د توغندیو په اړه داسې وویل :

" حکمتیار هر وخت پر ملکي سیمو توغندي وَرَول. یوه ورځ زه په ده افغانانو کې د ښوونې او روزنې د وزارت د ودانۍ تر شا ولاړ وم. بس ته سترګې په لاره وم. یو زوړ سړی مې ولید چې په یوې کراچۍ کې یې چاکلیټ ، مندکې او بادام پلورل. بس راغی ، زما له مخې تیر شو ، ما په بس پسې و ځغستل او د بس شا ته و ختلم. بس ته د ختلو په حال کې وم چې ناڅاپه یو توغندی و منبت ، توغندی پر هاغه ځای و منبت چې زه ولاړ وم. بوډا سړی له خپله ځایه تری تم شوی وو. چا د هغه د ځان یوه ټوټه هم ونه موندله. تری تم شو. ګومان کوم شل تنه هلته وژل شوي ول او نور ټپیان هر لور ته خواره واره پراته ول] "2.[

Download from: ketabton.com

د کابل د ښار د لویدیځ یوه استوګنه میرمن د ۱۹۹۲ز کال د جون د مېاشتې د ړندو توغندیو پیښې په یاد راولي. د هغې په باور چې بریدونه د حکمتیار ځواکونو د کابل د سویل له لوري کول ، ځکه هغې اوریدل چې د توغندیو د برید د ډزو غږ د سویل له لوري راته:

"د مازیګر څلور بجې وې ، د باندې مې د نغري پر سر ډوډۍ پخوله. ناڅاپه یوه درنده چاودنه وشوه. زه پر ځمکه پریوتم. بله چاودنه وشوه. دغه میرمن زما ګاونډۍ ده ، کله چې را پورته شوم و مې لیدل چې هغه ژاړي او دباندې راوتلې وه. [ ګاونډۍ میرمن ، دغې میرمن ته وویل چې د هغې کیسه مورږ ته وکړي. کله چې دغې میرمن کېسه کوله نو هغې به ور سره سر ښوراوه چې رښتیا ده.] د دې زوې د باندې دیوال ته نیږدې ناست وو او توغندی پر هماغه ځای چې دی ناست وو ومښت ، هغه درې ورې او ټوټې ټوټې شوی وو. دې هرې خواته منډې وهلې او په چیغو او کوکارو یې په خپله لمن کې د خپل د زوی د غوښو ټوټې راټولولې. د هغه نوم سخي وو. هغه ټوټې ټوټې شوی وو او ورک وو. د دې لمسی مختار هم په همدغه چاودنه کې ووژل شو]" .3[

د منځني عمر خاوند یو بل استوګن په همدغه مهال کې د یوې بلې چاودنې کیسه کوي چې حکمتیار پر ښار د شوبلو او توغندیو برید کاوه :

"مورږ په دریم مکروریان کې وو [دغه سیمه د جمعیت او جنبش د ځواکونو په ولکه کې وه] ، د ماسپښین درې بجې وې. زه د یوه سړي کورته نیږدې چې الیاس نومیده ولاړ وم. مورږ په انګړ کې د ونو ترڅنګ ولاړ وو. هغه د رومي بانجانو پټي درلودل ، ډیر ښه بانجان یې درلودل او ما د هغو د بیو پوښتنه کوله. ناڅاپه یو توغندی زمورږ په څلوېښت متری کې ومښت. ما پر ځمکه پروت وکړ. یوه دقیقه وروسته مې الیاس ولید ، په وینو کې لیت پیت وو. هغه ژوندی وو. ما ورته وویل چې " روغتون ته به دې بوزم." هغه وویل : " نه ، دومره وخت نه دی پاتې. زه مړ کیږم." ما په غیږ کې ټینګ نیولی وو ، ما ژړل او له سترګو مې اوښکې را بهېدلې. د هغه له یوې ډډې وینې بهېدلې ، کېڼه ډډه یې وه. زما جامې په وینو رنګ وې. د هغه کورنۍ راغله ، ټول را ټول شول ، ټولو ژړل. لس دقیقې وروسته هغه سا ورکړه او مړ شو. دا د مکرو ریانو ۱۹ بلاک وو]" .4[

یوه ژورنالیسټ چې په دغه مهال کې یې په کابل کې کار کاوه ، د کابل پر رغتونونو د توغندیو د بریدونو ناوړه اغیزې په یاد لري ، کله چې د ښار له سویلي برخې توغندي راتلل نو روغتونونه به په ټپیانو ډک شول :

" د دغو ورځو ډیر بدې پیښې په ځانګړې توګه په روغتونونو کې زما په یاد دي. ما تـنکي کوشنیان ، ماشون او میرمنې ولېدل چې ټپیان ول. داسې ماشومان به هم لیدل کیدل چې پښې به یې چاودنو ور پریک کړې وې. د هغوی پښې نه وې. یو ځل مې یو موټر ولید چې روغتون ته راغی ، موټر له ماشومانو ډک وو ، هغوی سر پرسر په موټر کې اچول شوي ول او پښې یې نه درلودلې. د ښار پر هرګوټ توغندي وَریدل. ما ولیدل چې دا د حکمتیار ځواکونه ول .
]5"[

Download from: ketabton.com



دوه وو تنکیو ځوانانو د اسلامي ګوند د سیاسي او پوځي مشر ګلبدین حکمتیار پوسترونه په لاس کې نیولي دي .

� 1992 Ed Grazda

یوه انځوراخیستونکي ژورنالیست هم پورتني ژورنالیست ته ورته په روغتون کې له بریدونه وروسته حالت په ورته ډول ځرګند کړ : " د دروازې په خوله کې به د مړیو ځلور پینځه جسدونه پراته ول ، تابوتونه به هم لیدل کیدل ، دننه هم مړي پراته ول.... ډیر غملړلی او ویروونکی حالت وو. دغه توغندي سړی ټوټه ټوټه کوي[ ".6]

د ۱۹۹۲ز کال د اګست په مباشتې کې چې تر دې مخکې هم د حکمتیار ځواکونو ښار د توغندیو تر برید لاندې نیولی وو ، د توپونو او توغندیو تندریزه برید تر لاس لاندې ونیو او د کابل ټولې هغه سیمې چې د جمعیت ، جنبش ، اتحاد او حرکت په ولکه کې وې تر اور لاندې ونیولې ، په حقیقت کې ټول ښار د اور تر برید لاندې راغی. د دغه تندریزه برید موخه دا وه چې دولت سازښت او ترون ته غاړه کنښیږدي ، داسې ښکاري چې حکمتیار د پاخه او برخلیک ټاکونکي برید لپاره ډیر جنګیالي او سرتیري نه درلودل .

په دغه برید کې ډیر کورونه و نړېدل ، اټکل شوې چې له ۱۸۰۰ تر ۲۵۰۰ تنو پورې ووژل شول او په زرګونو نور ټپیان شول.[7] دولتي چارې لا وختي په ټپه درېدلې وې. د ولسمشرۍ پرمانې ، د سره صلیب پر نړیوال دفتر او د سره صلیب پرروغتون توغندي و مښتل. د ښار لوی بریښنا کوټ درې ورې شوی وو.[8] ځینې ورځې به پر ښار دومره توغندي راغلل چې لړۍ به یې هېڅ نه درېدله ، ټول ښار ترهیدلی وو او په وحشت کې یې لوځې پوځې کولې .

د کابل د اوسیدونکي جمیل الرحمن کامګار یادښتونه چې د پیښو د پیښېدا لړۍ یې هره ورځ په پیښلیکنیزه بڼه لیکلي ده په یوه ځای کې داسې وایي :

Download from: ketabton.com

۱۹۹۲ ز کال ، د اگست ۱ : د کابل هوايي ډګر تر برید لاندې راغی. اسلامي ګوند د بريدونه پازوالي د راډيو له لارې واخيستله او تينګار يې وکړ چې دغه بریدونه د دولت د پرونيو بريدونو په ځواب کې ول چې د ښار پر سویلې برخه یې کړي ول .

۱۹۹۲ ز کال د اګست ۲ : د کابل پر بيلابيلو برخو نيږدې ۱۵۰ توغندي و مښتل ؛ دولت د برید پړه د حکمتيار د ځواکونو پر غاړه واچوله. د برید له امله ډیر کسان ووژل شول .

۱۹۹۲ ز کال د اګست ۵ : د نن ورځې د توغنديو بريدونو پينځوس تنه ووژل او څه دباندې ۱۵۰ تنه يې ټپیان کړل .

۱۹۹۲ زکال د اګست ۱۰ : د نن سهار په پينځو بجو د دولت او د حکمتيار د ځواکونو ترمنځ جګړه و نښتله. دولت وايي چې د حکمتيار ځواکونو د ښار له دريو اړخونو ، چهلستون ، دارالامان او د مرنجان د غره له خوا برید پیل کړ. په روغتونونو کې روغتيايي توکي په نست دي او روغتيايي کارکوونکي نه ليدل کيږي. د سره صليب په روغتون توغندی و مښت .


۱۹۹۲ ز کال د اګست ۱۱ :  نن د کابل پر ښار نيږدې ۱۰۰۰ توغندي و مښتل. لږتر لږه ۲۵۰ توغندي پر هوايي ډګر مښتلي دي. ښايي په زرګونو کسان وژل شوي وي. د توغنديو دغه بريدونه له هغه لوري ويشتل شوې چې حکمتيار پکې ديره دی .

۱۹۹۲ زکال د اګست ۱۴ : جګړه په ډیره چټکۍ مخ په ودې ده. د کابل ښاريان تښتي. د څرخي پله پوسته د کډوالو په اډې بدله شوې ده] .9 [

د اتحاد او جمعيت ځواکونو په خپل وار د ښار د سويل پر لور د حکمتيار پر مورچلو بريدونه کول ، د دوی ډزې هم د کابل په سويل لويديځ کې د ملکي وګړو پر کورنو نيغې وې .

د افغانستان اوسنی ولسمشر چې په هاغه وخت کې د بهرنيو چارو مرستيال وزير وو د ۱۹۹۲ ز کال د آګست په ۹ نېټه خبريالانو ته وويل  : " زه نه پوهيږم چې څه به پيښ شي ... موږ يوازې يو بل وژنو. احساس نشته].10[

Download from: ketabton.com



۱۹۹۲ ز کال د جون مېاشت : ولسمشر صبغت الله مجددي خبري کنفرانس ته وینا اوروي. مایکرفون ته څیرمه د بهرنیو چارو مرستیال وزیر حامد کرزي هم لیدل کیږي .

1992 Ed Grazda

د کابل روغتونونو ته هم ډېره ګرانه وه چې په روان وحشت کې کارته دوام ورکړي. په کابل کې د آی سي آر سي یا د سره صلیب د نړیوالې کمیټې استازي په ۱۹۹۲ز کال کې د ملګرو ملتونو په یوه یادښت لیک کې د ۱۹۹۲ز کال د اګست د مېاشتې حالت په لاندې ډول انځوروي :

"موږ نن ماسپښین په خپل روغتون کې ۳۵۳ تنه ناروغان لرو او یوازې ۳۰۰ بسترونه لرو. د روغتون د ننوتلو د دروازې په دالان او د روغتون په انګړ کې ناروغان پراته دي.اته دیرش تنه مخکې له دې چې تر درملنې لاندې ونیول شي ، مړه شول ، ۷۷ تنه د عملیات خونې ته سترګې په لاره دي ، نن ماسپښین ٦۰ تنه نور راوړل شول ، ۹۱ تنه پرون راوړل شوي ول او د پیلنۍ " یکشنبې " په ورځ ۱۸۳ تنه راوړل شوي ول] " .11[

د آګست په ۲۰ نېټه په کابل کې د ملګرو ملتونو د مأموریت مشر خبریالانو ته وویل :

" حالت ډېر وحشتاک دی. دولت په هېڅ شي واک نه لري او هېڅ شی نه شي کنترولای ؛ د قانون او مقرراتو په نامه څه نشته. سړکونه له وګړو تول تش شوي دي ، یوازې وسله وال سرتیري پر سړکونو ګرځي. یوه اونۍ کیږي چې

Download from: ketabton.com

نه بریښنا شته او نه اوبه ، زما ملګري چې د روغتیا د نړیوال سازمان غړي دی ویره لري چې ساري ناروغۍ به خپرې شي" .12[

ملګرو ملتونو اټکل کړی چې د همدغه کال د دوبي تر پای پورې څه ناځه ۵۰۰۰۰۰ ښاريان د کابل له ښاره او له افغانستانه دباندې د خوندي سیمو د لټون په موخه د حکمتیار د توغندیو او د شوبلو د مرمیو له امله و تښتېدل.[13[

----------------------------------------------------------------

[1]د ۱۹۹۲ز کال د دوبي په اوږدو کې بيلابيلو رسنيو د کابل ښار ورځنی وحشت او شډلتيا مستنده کړې ده. د همدغه کال د اپريل او اګست د میاشتو په منځ کې د بي بي سي د آرشيف لاسوندونه ښيي چې د کابل پر بيلابيلو سيمو د شوبلو مرمۍ او توغندي لګيږي او چاودنې تر سره کيږي، د کابل په بيلابيلو روغتونونو کې د وژل شويو او ټپيانو انځورونه ليدل کيږي. چاپي رسنيو د همدغه کال په اوږدو کې د بې شميرو قصابيو ګزارش په پراخ ډول ورکړی دی. و ګورئ :

John Pomfret

"توغنديو د خرابات پر سيمې سور اور بل کړی دی." اسوشيـئـتـد پرس ، ۱۹۹۲ز کال د مې ۵ نېټه . شيرون هرباوع ": ياغيانو پر پلازمېنې سور اور بل کړی دی ." اسوشيـئـتـد پرس ، ۱۹۹۲ز کال د مې ۵ نېټه ؛ او نور : لکه :

Associated Press, May 5, 1992; �Fighting follows attempt

on Afghan leader�s life,� Associated Press, May 31, 1992; Kurt Schork, �Afghan Factions Battle on

Edge of Kabul,� Reuters, June 24, 1992; �At least 48 killed in Kabul by rocket barrage,� Reuters, July

4, 1992; �At least 100 dead in heavy fighting in Kabul,� Agence France-Presse, July 5, 1992; �Rebel

rocket attacks kill at least 50,� Associated Press, July 5, 1992; �Rebels Rocket Kabul,� Associated

Press, August 6, 1992; John Jennings, �Rival Factions Shell Afghan Capital,� August 8, 1992.

Download from: ketabton.com

[2] Human Rights Watch interview with A.S.F., Kabul resident, Kabul, July 2, 2003.

[3] Human Rights Watch interview with F.W., woman in Afshar, Kabul, July 2, 2003.

[4] Human Rights Watch interview with G.M.A., Kabul resident, December 7, 2003.

[5] Human Rights Watch telephone interview with Jeremy Bowen, correspondent with the British

Broadcasting Corporation in Kabul in 1992, April 12, 2004.

[6] Human Rights Watch interview with R.N., photojournalist, New York, December 18, 2004.

[7]سرچینه او نور مالومات و گورئ :

Interim Report on the Situation of Human Rights in Afghanistan, prepared by Felix Ermacora,

Special Rapporteur on Afghanistan for the U.N. Commission on Human Rights, November 17, 1992,

U.N. Doc A/47/656, para. 34 (citing reports of 1,800 killed, thousands wounded); Human Rights

Watch interviews with former U.N. officials working in Afghanistan in 1992, Kabul, December 10

and 11, 2003.

[8]سرچینه او نور مالومات وگورئ :

For detailed accounts of the August 1992 attacks on Kabul, see Interim Report of the Special

Rapporteur, November 17, 1992, para. 34; Barnett R. Rubin, The Fragmentation of Afghanistan, pp. 272-

273 (citing U.N. Department of Humanitarian Affairs, �Note on Winter Emergency Needs in

Afghanistan,� November 1, 1992, and U.N. Office for the Co-ordination of Humanitarian and

Download from: ketabton.com

Economic Assistance Programmes Relating to Afghanistan, �Immediate Humanitarian Needs in

Afghanistan Resulting from the Current Hostilities,� press release, August 23, 1992); Saikal, �The

Rabbani Government, 1992-1996� in Fundamentalism Reborn, p 33; Goodson, Afghanistan�s Endless War,

pp. 74-75. See also, John Jennings, �Rival factions shell Afghan capital,� Associated Press, August 8,

1992; �Residents curse rebel rivalries,� Associated Press, August 15, 1992; Mushahid Hussain, �Kabul

and rebels claim advances,� Inter Press Service Global Information Network, August 21, 1992.

[9] Kamgar, Havadess-e Tarikhi, pp. 78-80 [translation by Human Rights Watch].

[10] �Fighting in Afghanistan�s Capital Kills 35,� Associated Press, August 9, 1992.

[11] Interim Report of the Special Rapporteur, November 17, 1992, para. 35.

[12] Philip Bruno, �La seconde bataille de Kaboul �Le gouvernement ne contr�le plus rien,�� Le Monde,

August 20, 1992.

[13] Rubin, The Fragmentation of Afghanistan, pp. 272-273 (citing U.N. documents).

Download from: ketabton.com

## دویم : تأریخي مخینه

### د بشري حقونو له قانون څخه سرغړونه:

په افغانستان کې د ۱۹۹۲ � ۱۹۹۳ز کال نښتې غیرنړیوالې نښتې وې ، دغه نښتي کورنۍ وسله والې نښتې وې چې د ژنیوا د کنوانیسون او د بشري حقونو دودیز قانون یوازې د دولتي ځواکونو او غیر دولتي ځواکونو په اړه د پلي کېدلو وړ دی. ( د شخړې قانوني اړخونه د ځانګړو کسانو د سزا قابلیت لاندې په څلورمه برخه کې ویل شوې ده).

ډیري هغه پیښې چې پورته وویل شوې د جنګي جنایت په اډانه کې شمیرل کیږي. هغه ړانده بریدونه چې له امله یې د ملکي وګړو وژنه پیښیدای شي ، او یا هغه په لوی لاس بریدونه چې پکې ملکي وګړي او د ملکي وګړو بنسټونه له منځه ولاړ شي د نړیوالو بشري حقونو د قانون تر پښو لاندې کول بلل شوي او د جنګي جنایت په نامه یادیږي. په بله څرګنده وینا ، نړیوال دودیز قانون دا اجازه نه ورکوي چې د یوازیني پوځې موخې لپاره دې ځوک ټول ښار تر اور او برید لاندې ونیسي[1] ، قانون د جګړو له ښکیلو غاړو غواړي چې د بریدونو پر وړاندې دې د ملکي وګړو د ژوند د خوندي ساتلو په موخه تر شونې کچې له احتیاط څخه کار واخلي ، په دې کې له هغو میتودونو او وسلو څخه په نه کار اخیستلو ټینګار شوی چې له مخې یې د ملکي وګړو ژوند ته ګواښ رامنځته کیږي او د جګړې خواوې باید له هغو بریدونو څخه ځان لیرې و ساتې او یا دې بریدونه و ځنډوي چې ملکي وګړو ته د غیر ضروري تاوانونو لامل ګرځي. د هغې ترڅنګ په لوی لاس بریدونه او د ملکي وګړو پراخه وژنه چې د توغندیو او توپونو د پرله پسې او ناپایه بریدونه امله رامنځته کیږي د بشریت پرضد د جنایت په نامه بلل شوی دي] .2[

د انفراي کسانو ، جنګیالیو او ان د ملکي کسانو جنایتکاره چلند د جنګي جنایت په نامه پیژندل کیږي او هر څوک د خپلو کړو وړو پازوالي په غاړه لري. بولندویان د هغو امرونو او هڅونو په تړاو په جنایت کې ښکېل او د جنګي جنایتکار په نامه پیژندل کیږي چې تر لاس لاندې کسانو ته یې د تر سره کولو امرونه ورکړي دي. د بولنې " قوماندې " پازوالۍ یو بولندوی په جنګي جنایت کې هغه وخت پړ ګڼي چې د هغه تر لاس لاندې کسان یې تر سره کوي ، که بولندوی پوهیده ، پوهیږي او یا یې دلیل درلود او یا دلیل لري چې دده تر بولنې لاندې دغسې جنایات تر سره کیږي او د هغه د مخنیوۍ لپاره یې هیڅ ګام نه دی اوچت کړی او یا یې تر لاس لاندې کسانو ته د تر سره شوي جنایت په ځواب کې سزا نه وي ورکړي نو بولندوی د جنګي جنایتکار په نامه پیژندل کیږي] .3[

د کابل په لویدیځ کې د اتحاد ، وحدت او جمعیت د دښمنیو په اړه انکار نه منونکي لاسوندونه شته چې هرې ډلې په پرله پسې ډول او په لوی لاس ملکي وګړي او د ملکي وګړو استوګنې سیمې په توغندیو ویشتلي ، دوی د ملکي وګړو پر دغو سیمو په بې پروایۍ او په ړندو سترګو بریدونه کړی دي. ډیر لږ لاسوندونه شته چې دغو ډلو د خپلو

Download from: ketabton.com

دښمنیو په ناندریو او شخړو کې ملکي وګړو ته د تاوان د مخنیوی په لاره هڅه کړې وي او یا یې پر ملکي سیمو د بریدونو مخنیوی کړی وي .

یوه افغان ژورنالیست چې پورته مو هم د هغه له خولې یادونه وکړه د بشري حقونو د څار ټولنې ته وویل چې هغه په ۱۹۹۲ ز کال کې په خپلو سترګو لیدلې چې د اتحاد او وحدت ډلو په لوی لاس د ملکي وګړو پر هغو کورنو د توغندیو بریدونه کول چې یوې ډلې به نیولې ول.[4] هغه دا هم وویل کله چې د جمعیت ډله د ۱۹۹۲ ز کال په پای کې د اتحاد له ډلې سره یو ځای شوه هغوی په ړندو سترګو او په پر له پسې ډول د کابل په لویدیځ کې د ملکي وګړو پر سیموډزې او بریدونه کول. هغه وایي :

"د کابل د تلویزیون " آسمایي " [ آشا مایي � ژ ] او د مأمورینو د کارتې د غونډۍ له پاسه د توغندیو ویشتنه او د شوبلو ډزې یوه عادي ورځنۍ خبره وه چې هغوی به د دشت برچي او دهمزنګ سیمې تر اور لاندې نیولې وې. همدارنګه د توپ د غونډۍ له پاسه [ له ۱۹۷۳ ز کال مخکې به د پاچا په وخت کې د غرمې توپ ویشتل کېده] د جمعیت ډلې توپ ځای پرځای کړی وو. هغوی د دغو غرونو له غونډیو له پاسه هر ځای تر اور لاندې نیوه].5 [

د نظار د شورى یوه پخواني لوړپوړي چارواکي منلې چې د جمعیت سرتیرو د مأمورینو د کارتې ( د تلویزیون د غره له لویدیځې لوړې څوکې ) څخه شپه او ورځ د توغندیو او شوبلو ډزې کولې او د ۱۹۹۲ � ۱۹۹۳ ز کال په اوږدو کې یې له دغه ځایه د ملکي وګړو کورونه او ملکي بنسټونه تر اور لاندې نیول].6[

" د بشري حقونو د څار ټولنې ته یوې نړیوالې ژورنالیستې د وحدت ، اتحاد او جمعیت ترمنځ د جګړو په اړه وویل ["دغو ډلو " ملکي وګړو ته د تاوان په مخنیوي کې ډیر لږ هڅې کړي دي]. [7][ مسعود او سیاف یوې خواته ، او هزاره ګان بلې خواته. دهمزنګ د جګړې د ډګر بیلوونکې کرښه وه. هغوی په هر چا او هرڅه یې چې مخې ورتلل ، ډزې کولې.]]" 8[

له روغتیاپال س.ک. څخه مو مخکې یادونه وکړه ، هغه د بشري حقونو د څار ټولنې ته دا هم وویل چې د جمعیت ځواکونو د ټلویزیون د غره له پاسه د کابل مرکز تر سره اور لاندې نیولی وو :

"داسې وختونه به راغلل چې د جمعیت سرتیرو به د ټلویزیون د غره له پاسه د علاألدین پر سړک [د کارته سه عمومي سړک] پر هر شي ډزې کولې. هغوی یوازې پر هغه شي چې خوځېده ان پیشو ګان او سپیان به یې هم ویشتل.

یو وخت مې په یاد راځي چې کلنیک ته د طبي وسایلو لپاره تللی وم ، کله چې زه یې د غره له پاسه ولیدلم ډزې یې پیل کړې.

Download from: ketabton.com

هغوی ته هرڅه چې د انسان په بڼه ښکارېدل ، ډزې يې پرې کولې. هغوی هر ډول وسلې کارَولې لکه توغندي ، د توپ مرمۍ او د توپکو ډزې. داسې وختونه به راغلل چې سړک به په مرميو ډک شو]" .9[

يوه انځور اخيستونکي ژورناليست چې د ۱۹۹۲ز کال کې يې په کابل کې په پرله پسې ډول کار کاوره او له بيلابيلو پوځي پوستو څخه ليدنه کوله ، د بشري حقونو د څار ټولنې ته وويل چې د جمعيت ځواکونو د هماغو غرونو او غونډيو له پاسه د ملکي وګړو سيمې تر اور لاندې نيولې وې :

"هو! هغوی به د ټلويزيون [ آسمايي / آشامايي] د غره له پاسه هر وخت ډزې کولې. د ليونتوب په ناروغۍ اخته کسانو به د څېلو ساعت تيريو لپاره هر څه کول. هغوی به د غره له پاسه تر څپلو سترګولاندې ملکي بنسټونه او د ملکي وګړو کورونه د سره اور تر باران لاندې ونيول. يوازې او يوازې د ساعت تيرۍ لپاره. هغوی د ژوو بڼ ته نېږدې د ترافيکو د رياست ترشا ټول کورونه ، د سيلو تر شا کورونه تر اور لاندې ونيول. هغوی پر دولتي او د وزارتونو پر ودانيو ډزې نه کولې ، هلته د دوی ملګرو پوستې درلودلې او د شګو او خاورو د کڅوړو مورچلونه يې جوړ کړي ول. هغوی يوازې د وحدت پر مورچلونو ډزې نه کولې ، ټول کورونه يې تر اور لاندې نيولي ول. په هغو کورونو کې يوازې هزاره ګان نه ول ، هلته تاجيکان هم ول چې د جمعيت د ډلې هم توکمه ول] ".10[

د وحدت ، اتحاد او جمعيت ډلو د بيلابيلو وسلو له ګډولې څخه يو نوی سيستم جوړکړی وو چې نخښې يې په ځير نه شي ويشتلای ، له دغو وسلو څخه به دوی نخښه و نيوله خو کله چې مرمۍ له دغه سيستم څخه وتله ، هرځای چې لګېدله ، وبه لګېدله ، په دغو وسلو کې د " سکر" توغندي ، د " يو � بي � ١٦ " او " يو � بي � ٣٢ " " ايس - ٥ " د چورلکې توغندي ويشتونکو هم ګډون درلود چې د شوبلو پر سر به يې ايښودل. د توغندي ويشتونکي د سيستم د نخښې ويشتلو دغسې ډول ورټيا ته له تخنيکي اړخه " ګنګ" [ زموږ په عوامو اصطلاح کې بې خريطه ډزې بلل کيږي � ژ] يا غير دقيق ويل کيږي. [11] يو پوځي کار پوه وايي چې " سکر " توغندي د بوتلي توغنديو په څير دي چې له ځان سره يو انجن لېږدوي [12] دغه سيستمونه د لاس او ګريوان جګړو لکه ښاري جګړو يا سړک په سړک جګړو لپاره نه دي جوړ شوي : په لاس او ګريوان جګړو کې لکه په ښاري جګړو کې دغه ډول سيستيمونه کار نه کوي او نه شي کولای چې د پوځي او ملکي نخښو ترمنځ توپير وکړي. د " ايس � ٥ " د توغنديو ويشتلو دغوسيستيمونو چې په ځانګړي ډول د کابل په ښار کې يې جوړ او په کاريې و غورځول ، ښرګنده کړه چې دغه ډول وسله بيکاره او په هغه ډول چې وکارول شوه څرګندوي چې دغه وسله د ملکي او پوځي نخښو تر منځ نه شي کولای . [ 13[

د جمعيت ، اتحاد او وحدت د بولنې " قوماندي " د دقيق او څرګند جوړښت په اړه چې په پورتنيو جګړو کې د هغوی د ښکيلتيا په اړه نغوته وشوه ، ډيرې څيړنې ته اړتيا ليدل کيږي. موږ په څلورمه برخه کې د جمعيت ، اتحاد

Download from: ketabton.com

او وحدت د ځواکونو د بولنې د جوړښت او د ځانګړو بولندویانو د پازوالۍ " مسؤولیت" په اړه په څه نا څه ډول خبرې کړې دي .

که د اسلامي ګوند د ځواکونو ( توپچي ځواک ته پام وکړو) نو د هغوی توپونه او توغندي په دې ډول کارَول کېدل چې په لوی لاس يې د ملکي وګړو سیمې په نخښه کولې او د پوځي نخښه په ځير ويشتنه کې پاتې راتلل ، او که د هغوی ( د توغنديو د ويشتلو بڼه پام کې ونیسو) هغوی خپل توغندي په بې باکۍ ویشتل او دغسې ډول وسلې په هغو ځايونو کې چې د ملکي وګړو ګڼه ګوڼه وي نه باید کارَول شوی وای ، هغوی ټول ښار د يوې واحدې نخښې په توګه په نخښه کړی وو.

د اسلامي ګوند د توپچي وړتیا په اړه لاسوندونه شته او دې ته نغوته کوي چې دغه ګوند د پوځي نخښو د ويشتلو وړتیا درلودله خو یا يې په بې باکۍ له دغې وړتیا څخه کار وانه خیست او یا يې په لوی لاس د خپل توپچي ځواک مخه په ملکي وګړو او د ملکي بنسټونو پر خوا را اړولې وه او دا له نړیوال بشري قانون څخه سرغړونه ده. اسلامي ګوند د نورو په پرتله د نړیوالو مرستو لویه برخه تر لاسه کوله او مجاهد ځواکونه يې د پاکستان ، امریکا او انګلستان تر ټولو ښه روزنه تر لاسه کړې وه او دغه ځواک په هغه وخت کې تر ټولو ښه روزل شوی ځواک وو. د توغنديو او توپچي ځواک په برخه کې د اسلامي ګوند ډيري بولندويان او جنګيالي پاکستاني ، امریکايي او انګلیسي کارپوهانو روزلي ول. هغو ژورنالیستانو چې د کابل په سویل کې د اسلامي ګوند د ځواکونو له سیمو څخه هر وخت لیدنه کوله وايي چې هغوی " ډي- ۳۰ ۱۲۲ ملي میتري " توپونه لیدلي ول چې اسلامي ګوند پر کابل د برید پر مهال کارَول � د توپچي ځواک دغه سیستم نخښه په ځير ويشتلای شي. [14] د اسلامي ګوند د ځواکونو د ۱۹۹۲ او ۱۹۹۳ ز کال ویډیويي انځورنه او ګزارشونه دې ته نغوته کوي چې هغوی کولای شوای پوځي نخښې ځای پر ځای او په ا ځير په نخښه کړي : د بي بي سي د ۱۹۹۲ز کال د مې د مباشتې ویډیويي انځورونه څرګندوي چې د اسلامي ګوند ځواکونو د جنبش او جمعیت د ځواکونو مورچلونه په ډير ځير په کابل کې ويشتل.[15] تیرینس وایټ [16] د فرانسپرس خبریال ګزارش ورکړ چې د اسلامي ګوند ځواکونو د ۱۹۹۳ ز کال په پیل کې[17] د کابل په سویل کې د جمعیت مورچلونه په ډیر ځیروويشتل. خو ددغه ګزارش په ګډون نور ګزارشونه څرګندوي چې د اسلامي ګوند توپچي ځواک او توغنديو ملکي بنسټونه په نخښه کړي ول او دې ته نغوته کوي چې یا يې په لوی لاس ملکي بنسټونه په نخښه کړي ول او یا يې ټول کابل په بې باکۍ په نخښه کړی وو. د جګړو د دوام د مهالیز واټن اډانه ، پراخوالی او د نخښو پرله پسې خطا وتنه په ډيرې پیاوړتیا په دې ټینګار کوي چې د اسلامي ګوند د توپچي ځواک د نخښې ویشتنې په درجه بندۍ کې یا د وسلو په سیستم کې کومه ستونزه نه وه. پر ملکي بنسټونو او د ملکي وګړو پر کورونو داسې وسلې ويشتل شوې چې په ډير ځير يې نخښه ويشتلای شوای او د دغه ډول وسلو کارول له نړیوال بشري قانون څخه سرغړونه ده. د حکمتیار ځواکونو هم " بي ایم � ۴۰ " ، ' بي ایم � ۲۲ " او " بي ایم ۱۲ " توغندي ويشتونکي او شوروی " سکر" توغندي پر کابل د برید په مهال کارولي دی.[18] هاغسې چې مخکې مو ورته ګوته ونیوله ، د

Download from: ketabton.com

توغنديو دغسې سيستمونه " ګنګ " بلل شوي دي چې نخښه په ځير نه شي ويشتلای: دغه ډول وسلې د نيږدې او لاس او ګريوان جګړو لپاره نه دي جوړې شوې او په ښارونو کې نه شي کولای نخښې په ډير ځير وولي او نه شي کولای د نخښه نيولو پر مهال د ملکي او پوځي ځايونو ترمنځ توپير وکړي.[19] په کابل کې ددغه ډول سيستم کارَول چې په ړندو سترګو تر سره کيده له نړيوال بشري قانون څخه څرګنده سرغړونه بلل کيږي .

د بريدونو لړۍ او کرکترستيک څرګندوي چې حکمتيار او دهغه بولندويانو ټول ښار په نخښه کړی وو او يا يې ټول ښار د يوې واحدې نخښې په توګه په نخښه کاوه] .20 [

د جنرال محمد نبي عظيمي يادښتونه د جولای او آګست د مياشتو د توغنديو د باران په ترڅ کې څرګندوي چې د حکمتيار ځواکونو ملکي سيمې په لوی لاس بمباردَولې:

"د حکمتياردرندو وسلو بيا پر کابل د ګوليو او اور وريا پيل کړه. د ۱۹۹۲ زکال د جولای وروستۍ ورځې او د آګست د مياشتې پيلنۍ ورځې د جګړو د لوړ پړاو ورځې وې. کله چې جګړې سوکه شوې د حکمتيار توغندي ويشتونکي اوتوپچي ځواک پياوړي بريدونه وکړل. همدا اوس د " تخت شاهي " لوړې څوکې د حکمتيار په لاس کې دي ، دغه لوړې څوکې د سويل له لوري د کابل پر ښار سپرې دي. دوی هلته د بې سيم د اړيکو مخابرې درلودلې. د حکمتيار د توپچي ځواک ملا ، روزل شويو افسرانو ورتيېنګوله... حکمتيار کولای شوای پوځي نخښې وولي. خو هغه غوره بلله چې ښار او بې دفاع وګړي تر اور لاندې ونيسي تر څو د مسعود او رباني پر وړاندې د خلکو په منځ دباو او ناخوښي زياته کړي] " .21[

يوه ژورناليست چې پر کابل د پرله پسې بريدونو شاهد وو د بشري حقونو د څار ټولنې ته وويل : " هغوی پر پوځي سيمو بريدونه نه کول . کله چې د توغنديو ډزې پيليدلې ، توغندي به د ښار په هره برخه کې منبتل. د ښار په هرګوټ کې به د توغنديو د چاوديدلو غږونه اوريدل کېدل." [22] د ملکي وګړو د وژل کيدا او د هغوی لوړه شميره دې ته نغوته کوي چې پر ملکي سيمو ډزې په لوی لاس تر سره کېدلې...." هو زه ګومان کوم چې هغوی يو شمير پوځي ځايونه وويشتل ، خو هر څه چې ول ډير توغندي د ښار پر بيلابيلو برخو لګېدل او ملکي وګړو ته ډير کلک تاوانونه اوښتل ، تاسو ولاړ سـئ روغتونونه وګورئ] ".23[

مارک بايوټ [24]چې د جمهوريت په روغتون کې د روغتيايي چار چارواکی وو د بشري حقونو د څار ټولنې ته وويل : " هره شېبه او هر چيرې به دا ويره وه چې توغندی به کله او چيرې و موښلي.... کله به چې تا پښه دباندې کښيښودله ته نه پوهېدلې چې توغندی به کله ستا پر ککره ومښلي. هغوی په ړندو سترګو توغندي ويشتل ، توغندي به هر لوري لګېدل : پر سړکونو ، مارکيټونو او کورونو .... تر ټولو غټه ستونزه دا وه چې د توغنديو د لګېدلو ويره هره شېبه او هر چيرې هرچا ته په تيندکو وه. په داسې ډول ، يوه پټه سياسي ليوالتيا ليدل کېدله چې ټول ښار د

Download from: ketabton.com

يوي نخښې په توګه په توغنديو په نخښه کړي او د اور باران پرې جوړ کړي- دا باران پر ټول ښار او د ملکي وګړو پر کورونو کېده. هر لوري او هر چيرې د ګوليو او توغنديو باران وو] ".25[

له يوه ژورناليست څخه چې مخکې مو يادونه کړه او تل يې د کابل په سويل کې د اسلامي ګوند له مورچلونو څخه ليدنه کوله د بشري حقونو د څار ټولنې ته وويل داسې بريښي چې د توپچي ځواک د نخښه ويشتلو مخه بايد په لوی لاس د ملکي وګړو پر سيمو راټاو شوي وي :

"مو به تل له افسرانو سره خبرې کولې � هغوی د نخښه ويشتلو وسايل او کشافان درلودل. هغوی ټينګار کاوه چې دوی پوځي ځايونه په نخښه کړي دي او هماغه ځايونه ولي. خو افسران پوهيدل چې څه تيريږي. مسعود او حکمتيار دواړو روزل شوي افسران درلودل. هغوی نخښه ويشتلای شوای. د نخښې ويشتلو زاويه ، کښته او پورته والی بدليدلای شوای. خو هغوی [ د اسلامي ګوند ځواکونو] ښار په نخښه کړی وو. هغوی په ښار کې کشافان او جاسوسان درلودل : اسلامي ګوند کولای شوای پر ښار ننوځي يا په ښار کې نفوذ وکړي ، دا کار هغوی ته آسانه وو. خو موخه دا وه چې د ملکي وګړو په ترهولو ويره خپره کړي] " 26 [

پورتنې لاسوندونه دې ته نغوته کوي چې اسلامي ګوند او حکمتيار د کابل ټول ښار په نخښه کړی وو تر څو ملکي وګړي و ترهوي او ويې وژني .

په دغو بريدونو کې د ځانګړو بولندويانو د ونډې د سپړلو لپاره ډيرو څيړنو ته اړتيا شته. د افغانستان لپاره د عدالت پروژه چې يوه خپلواکه غيردولتي ډله ده او له ۱۹۷۹ز تر ۲۰۰۱ ز کال پورې يې په افغانستان کې د پوځي عملياتو په اړه پلټنې کړي باور لری چې په اسلامي ګوند کې د حکمتيار تر څنګ لاندنينو بولندويانو هم د عملياتي بولنې پازوالي په غاړه درلوده چې له خپلو پوځي پوستو څخه يې د ګزارش د مهاليز واټن په اډانه کې پر کابل د توپچي ځواک او توغنديو بريدونه کړي دي :

بولندوی تورن خليل � د اسلامي ګوند د توپچي ځواک لوړپوړی افسر چې د ۱۹۹۲ او ۱۹۹۳ ز کلونو په اوږدو کې يې د توغنديو او توپچي ځواک د اور د څارنې پازوالي په غاړه درلوده ، نوموړی د کابل په سويل کې د چهار آسياب د سويل د تيلو د ز يرمتون بولندوی وو

بولندوی امان الله � د " سما" د فرقې بولندوی ، دغه فرقه د کابل په سويل کې په ريشخورو کې پرته وه .

بولندوی زر داد � د " شورواکي په ليسه کې " [27] د پرتې پوځي اډې بولندوی

انجنيرزلمی � د کابل په سويل کې د چهلستون سويل ته " د هيندکي د کوتل په غاښې کې "[28] د " لشکر ايثار " د پوځي اډې بولندوی .

Download from: ketabton.com

نوررحمان پنجشيری � د کابل په سويل ختيځ کې د " شاهک " [29] د کلي بولندوی ، د دغه کلي څارنه د " سما" فرقې کوله .

جنرال وليشاه � د نجيب الله د رژيم شوي دولت افسر چې په ۱۹۹۲ زکال کې اسلامي ګوند پناه ور وړه ، نوموړی د کابل په سويل کې د لوګر د " سنګ نوشتې " د پوځي اډې بولندوی وو .

پوځي سلاکاره ډله " شورى نظامي " بولندويان � : فيض محمد ، کشمير خان او سباوون

د حکمتيار په ګډون د اسلامي د ګوند د دغو بولندويانو د قانوني پازوالۍ په اړه نوره کره کتنه په څلورمه برخه کې لوستلای شـئ .

[1] Section IV below. Provisions of Article 51 of the Geneva Conventions Additional Protocol I,

which are considered generally to amount to customary international law for international or noninternational

conflicts, prohibit indiscriminate attacks �by bombardment� which treat �as a singlee

military objective a number of clearly separated and distinct military objectives located in a city. . . .�

Protocol I (1977) Additional to the Geneva Conventions of 1949 (�Protocol I�), art. 51 (5).

[2] For more on the definition of crimes against humanity, see section IV below.

[3]څلورمه برخه وګورئ

[4]د لا زياتو مالوماتو لپاره څلورمه برخه وګورئ

[5]هماغه ځای

[6] Human Rights Watch interview with S.A.R., former Shura-e Nazar official, Kabul, July 20, 2003.

[7] Human Rights Watch interview with Suzy Price, correspondent for the British Broadcasting

Corporation and Reuters, New York, April 1, 2004.

[8]هماغه ځای

Download from: ketabton.com

[9] Human Rights Watch interview with S.K., Afghan medical worker in Karte Seh (West Kabul)

during early 1990�s, Kabul, July 9, 2003..

[10] Human Rights Watch interview with R.N., photojournalist, New York, December 18, 2004.

[11] Human Rights Watch telephone interview with Colonel Ron Bailey, weapons system expect, United

States Marine Corps, December 20, 2004. Human Rights Watch interview with A.G., military analyst,

New York, April 9, 2004.

[12] د بشري حقونو د څار ټولنې  د جمعیت د ډلې د ۱۹۹۲ ز کال د توغندیو ویشتونکي سیستم انځورونه د وسلو جوړولو کارپوه ته وښودل

د توغندي ویشتونکي دغه ډول سیستم په ساده ژبه یو بې پروا او بیکاره سیستم دی چې نخښه نه شي ویشتلای او توغندی  چې هر چیرې ورځخه ولاړهماغتله ځي : هغوی د روسي چورلکي له " هیند" ځخه د توغندي ویشتونکي سیستم را اخیستی او د ټانک پر سر یې ایښی دی. خو ستونزه دا ده چې په دغسې سیستم کې چورلټ ځیروالی نشته او نخښه نه شي ویشتلای. ته کولای شی چې د ټانک خول کښته پورته کړئ ، زوایه ته یې بدلون ورکړئ خو دغه سیستم له ټانک سره کار نه کوي ځکه د ټانک له کښته پورته کیدو یا د ټانک په نخښه ویشتونکي کې د زاویې په بدلون د توغندي ویشتونکي زاویه بدلون نه مومي هغه لاسي او خود کاره نه دي ، هغه اتوماتیک دي او د لیرې واټن لپاره دي.دا د توپ هغې مرمۍ ته ورته ده چې یوازې پرته له نخښې نیونې اور ور واچوئ. ته کولای شي چې نخښه دې یوې خواته و نیسې خو دا چې توغندی چیرې ځي ستا له واکه نه ده ، هرې خواته چې ولاړ ، ځي درځخه .

Human Rights Watch telephone interviewwith Colonel Ron Bailey, weapons system expert, United States Marine Corps, December 20, 2004.

[14] Human Rights Watch telephone interview with John Jennings, April 10, 2004; Human Rights Watch

telephone interview with Anthony Davis, July 9, 2004.

Download from: ketabton.com

[15] This information is based on viewing by Human Rights Watch of stock film footage from April and

May of 1992, on file with the libraries of the British Broadcasting Corporation.

[16] Terence White

[17] Terence White, �South Kabul under intense rebel bombardment, many casualties,� Agence France-

Presse, January 21, 1993 (Chelsitoon palace gardens in south Kabul, �once likened to a Greek temple

setting, were being chewed up by the very accurate Hezb artillery barrage�).

[18] Human Rights Watch telephone interview with John Jennings, April 10, 2004; Human Rights Watch

telephone interview with Anthony Davis, July 9, 2004. The Afghan Justice Project (see footnote 75

and accompanying text) also interviewed witnesses who described Hekmatyar�s weaponry to include

BM-21 rocket launchers.

[19] Anthony DavisHuman Rights Watch telephone interview with Anthony Davis, July 9, 2004.

انتوني ديويس چې د جينز ډيفينس ويكلي شننونكى دى په ۱۹۹۲ز او ۱۹۹۳ ز كلونو كې په كابل كې د حكمتيار د " سكر" د توغنديو د كارَولو او څيروالي په اړه داسې وايي : " دا دوسله وال څواک وسلې دي ، نه د نيږدې واټن جګړو لپاره. دغه وسلې ډيرې پيچلې دي. ته كولاى شـې چې وې ولې خو نخښه وربانديې نه شي نيولاى ، هر لور چې ولاړ ، ځي ".

[20] See text in Section IV below outlining prohibitions on indiscriminate attacks including attacks �by

Download from: ketabton.com

bombardment� which treat �as a single military objective a number of clearly separated and distinct

military objectives located in a city. . . .� from Protocol I (1977) Additional to the Geneva

Conventions of 1949 (�Protocol I�), art. 51 (5).

[21] Mohammed Nabi Azimi, Ordu va Siyasat, pp.626-627 [translation by Human Rights Watch].

[22] Human Rights Watch telephone interview with Jeremy Bowen, correspondent with the British

Broadcasting Corporation in Kabul in 1992, April 12, 2004.

[23]هماغه

[24] Marc Biot

[25] Human Rights Watch telephone interview with Marc Biot, official at Jamhuriat hospital in Kabul in

1992-1993, July 10, 2004..

[26] Human Rights Watch telephone interview with John Jennings, Associated Press correspondent in

Kabul 1992-1993, April 10, 2004.

[27] Lycee Shorwaki

ما ژباړونکي ته دغه نوم سم نه ښکاري ، که لوستونکي ورسره مخامخ کيږي ، هيله من يم چې د هغه سمونه لپاره دې د بينوا د ويبپاڼې له چلوونکي سره اړيکه ونيسي (ژ)

[[28] Kotal Hindki pass

ما ژباړونکي ته دغه نوم سم نه ښکاري ، له لوستونکي ورسره مخامخ کيږي ، هيله من يم چې د هغه سمونه لپاره دې د بينوا د ويبپاڼې له چلوونکي سره اړيکه ونيسي (ژ)

Download from: ketabton.com

[29] Shahak,

ما ژباړونکي ته دغه نوم سم نه ښکاري ، له لوستونکي ورسره مخامخ کيږي ، هيله من يم چې د هغه سمونه لپاره دې د بينوا د ويبپاڼې له چلوونکي سره اړيکه ونيسي (ژ)

Download from: ketabton.com

# دویم : تأریخي مخینه

سړي تښتونې ، " تري تم کېدنې " ځورونې او له بندیانو سره د بوږنوړو چلندونو نورې بڼې

[ رویټر : د ۱۹۹۲ زکال د جون څلورمه ] : چاودنو او د درندو وسلو ډزو په کابل کې ازانګې خپرې کړې دي .... کابل پوهنتون ته نیږدې د وحدت د ګوند د ټلوالې ګوریلایي جنګیالي د اسلامي اتحاد د سني جنګیالیو پر وړاندې جګړه کوي ، شیعه ډلو ، کابل پوهنتون په خپلې پوځې اډې بدل کړی دی. د منځنۍ " سه شنبې" او څلنۍ " چهار شنبې" په ورځو د دواړو ډلو ګوریلایانو د توپک په وچ زور په سلګونو ملکي وګړي و دَرَول او هغوی یې خپلو خوځندونو زندانونو ته بوتلل ، هرې ډلې په خپلو پوستو کې له نیول شویو ملکي وګړو څخه د هغوی پیژند پاڼې وغوښتلې تر څو هر څوک د توکمیز تړاو پر بنسټ و پیژني ، بیا یې بوتلل. شیعه ډلو پښتانه سُنـي مسلمانان له ځان سره بوتلل ، او د اتحاد ډلې هزاره شیعه ګان له ځان سره بوتلل. هغو کسانو چې دغه پیښې په سترګو لیدلي وایي چې دغو ډلو نیول شوي کسان د توپکو تر ویرې لاندې په سوټیو او لرګیو په وهلو وهلو له ځان سره بوتلل] ".[1]

په ۱۹۹۲ زکال کې د جګړې د وحشت تر څنګ ، د اتحاد او وحدت تر منځ جګړو د یوې بلې کرکېچنې ستونزې لپاره لمن پراخه کړه : سړي تښتونه د ژب � توکمیز تړښت پر بنسټ. د اتحاد او وحدت ډلو د ملکي وګړو تښتونې ته په دې موخه وده ورکړه چې یا یې بیرته د پیسو په بدل او یا یې د یرغملو کسانو په بدل کې خوشي کړي � اتحاد هزاره ګان تښتول او وحدت پښتانه ، تاجیګان او غیر هزاره ګان تښتول. یو ژورنالیست د بشري حقونو د څار ټولنې ته وویل :

"د کابل ښار په لویدیځ کې د سړي تښتولو لمنه ډیره پراخه وه. د سیاف او وحدت تر بولنې لاندې ، بولندویانو موټران ، بسونه او پلې تلونکي وګړي درول او هزارګان او پښتانه یې لټول. سیافیان هزاره ګانو پسې ګرځېدل او وحدتیان پښتـنو پسې] ".[2]

هغسې چې لاندې ښودل شوې ، سړي تښتونې د ۱۹۹۲ز کال د مې له مېاشتې وروسته پیل شوې. مخکې مو له لوړ پوړي چارواکي جنرال محمد نبي عظیمي څخه یادونه کړه ، نوموړی وایي چې دواړو ډلو خپلې پوستې په هر ګوټ کې ځای پر ځای کړې وې چې له هغه وروسته سړي تښتونې پیل شوې:


" پښتـنو چې هر چیرې هزاره ګان لیدل هغوی به یې نیول ، او هر چیرې چې هزاره ګانو پښتانه لیدل هغوی به یې نیول. هغوی د نیول شویو کسانو نوکان ایستل ، د بندیانو سرونه یې پریکـول ، د بندیانو پښې یې ور غوڅولې او ان د بندیانو د ککرو په کوپـړیو کې به یې میخونه ټکوهل. هغوی به انسانان په کانتینرونو کې واچول او بیا به یې

Download from: ketabton.com

کانتینرونو ته اور واچاوه..... وحشت ، شډلتیا ، بی عدالتي او د انسانیت نشتوالی د یوې ساري ناروغۍ په څیر پیل شو ؛ هر لور ته وحشت خپور وو او انساني پرتم له ستوني زیندی شوی وو] ".3[

د ډیرو تښتول شویو کسانو مخونه چې دواړو ډلو تښتولي ول ، بیا چا ونه لیدل. یو لږ شمیر را خلاص شول خو یا د یرغملو په بدل کې ، یا د دولتي منځګړو د منځګړیتوب له امله او یا له مذهبي � توکمیزو مشرانو سره د بندیانو د شخصي تړاو له امله .

د بشري حقونو د څار ټولنې په ۲۰۰۳ز کال کې له دغو نیول شویو کسانو سره یو شمیر مرکې ترسره کړې دي ، دغه نیول شوي کسان هزاره ګان ، پښتانه او تاجیکان ول ، ډوی ټولو خپلې کیسې موږ ته وویلې چې لنډیز یې لاندې وړاندې کیږي.



د ۱۹۹۰ز لسیزې په لومړیو کې د وحدت د ګوند سیاسي او پوځي مشر عبدالعلي مزاري. د مزاري د وحدت ډلې او هم د عبدالرب الرسول سیاف د اتحاد ډلې د ۱۹۹۰ز لسیزې په پیل کې د کابل په لویدیځ کې جنګي جنایات او نور بیلا بیل وحشتونه تر سره کړي دي

. � 1994 Robert Nickelsberg

Download from: ketabton.com

## د وحدت د ګوند سړي تښتونې

د کابل په لوېدېځ کې یو ځوان تاجیک چې د ده په وینا د ۱۹۹۲ز کال په دسامبر کې د سیلو څنګ ته د سړک په سړک د جګړو په لړ کې تښتول شوی وو د بشري حقونو د څار ټولنې ته وویل چې دی د وحدت د ګوند هغه غړي پیژني چې دی یې تښتولی وو[4: [

"ورور مې راغی او له مورې څخه یې وغوښتل چې له دغې سیمې څخه ژر تر ژره ووځو. مورې چای څښه او په همدې اړه مو خبرې کولې چې ناڅاپه زمونږ د کور د انګړ دروازه و ټکول شوه ، ګورم چې د وحدت د ډلې کسان دي او زمونږ د کور دروازه تکوي .

د وحدت بولندوی پوښتنه وکړه : " دا کور د چا دی؟ " ما ورته وویل " زما کور دی." بیا یې پوښتنه وکړه " ستا نوم څه دی ؟ " ما ورته وویل " زما نوم " ......" دی [مونږ د مرکه کوونکي د خوندیتوب لپاره نوم پاک کړی دی] . بولندوی پوښتنه وکړه " تاسو د کابل یاست؟ " ما ورته وویل زه د .........یم." بولندوی راته وویل " ته درواغ وایې" بولندوی یو نوملیک را وایست، په نوملیک کې یې زما ، زما د پلار او زما د وروڼو نومونه وموندل. زمونږ د نومو تر څنګ لیکل شوی ول چې مونږ د شمالي یو. [ شمالي د کابل شمال ته سیمه ده چې ډېری تاجیکان پکې ژوند کوي.] بولندوی وویل " تاسو د شمالي یاست؟ " ما ورته وویل " هو مونږ د شمالي یو." ما ورته وویل چې زه په کابل کې خپلې زده کړې کوم. بولندوی را ته وویل درځه چې دننه ولاړ شو. هغه زه د خپل کور انګړ ته دننه ټېل وهلم. کله چې دننه انګړ ته ننوتلو ما خپل ورور د لاس په اشاره پوه کړ چې ځان پټ کړي خو هغه پوه نه شو. بولندوی هغه هم ولید. مخکې له دې چې د وحدت بولندوی مونږ له ځان سره بوزي ، هغه یو وړدکي ځوان هم نیولی وو ، هغه ډېره سرټکونه کوله ، د هغه سترګې یې ور وتړلې. هغوی مونږ ټول په یوه موټر کې واچولو خو کله چې میرویس میدان ته ورسیدلو زمونږ سترګې یې هم را وتړلې. وروسته له هغه پوه نه شوو چې مونږ چیرې یو او چیرې مو بیایي ".

کله چې موټر ودرید ، تښتول شویو کسانو ګومان وکړ چې هغوی د وحدت د ګوند په پوځي اډې دشت برچي کې دي خو وروسته ورته څرګنده شوه چې هغوی د دریمې کارتې د لویدیځ په څلور کیلومترۍ کې د دشت برچي شمال ته په اونچي باغبانان کې دي.

"مونږ له موټره را وایستل شوو. مونږې په کانتینر کې واچولو... وروسته یو بولندی سره له دوه تنو ساتونکو راغی ، بولندوی له ساتونکو سره کانتینر ته راغی او پوښتنې یې پیل کړی. هغه وویل : " تاسو شمالي وال یاست ، د مسعود مرسته کوئ." ما وویل " زه د طب محصل یم ، نه ما او نه مې ورڼه هېڅ یو د چا سرتیري او جنګیالي نه یو. مونږ شمالي وال یو خو د چا جنګیالي نه یو." � هغه وویل " خوله دې وتړله." بیا د هغه ساتونکو د کلاشنیکوفونو

Download from: ketabton.com

شاژورونو ته مرمۍ ور تیرې کړې. بولندوې خپلو ساتونکو ته وویل چې موږ بوزي. زموږ سترګې يې را ترلې وې. لغتې او د سوټيو وهل پيل شول او په وهلو وهلو وخوځېدلو ، وروسته پوه شوو چې په يوې کوشنۍ خونې کې يې بنديان کړي يو ".

تښتول شوي سړي وويل چې هغه او نورو بنديانو ته يې يوازې يو غاب وريجې ورکولې چې ټولو خوړلې. په هماغه شپه نور بنديان راوستل شول او ټول بنديان له دغه ځايه بل ځای ته وليږدول شول :

"موږ يې په موټر کې بوتلو. بيا يې په د يوې ودانۍ په کښتنۍ خونې " زير زميني" کې واچولو � نه ، نه ، دا داسې ځای وو چې [ تر زيرزمينې لاندې بله زيرزمينې وه] تيه تياره وه کرغيړنه ، بوينه او ډيره سړه وه. موږ اوريدل چې له پاسه د ماشينګنو غړونه راځي. موږ ګومان کاوه چې موږ په داسې يوه ځای کې يو چې د ځګړې لومړۍ کرښه ده ځکه ډزې ډيرې وې.

په هماغه شپه يې درې تنه نور هم راوستل : يو ځوان د ننګرهار وو ، بل يې يو شمالي وال کارګر وو او دريم تن يې د پوهنتون استاد وو. هغوی يې هم له موږ سره په تنګه او تياره خونه کې واچول. د ټولو لپاره دومره ځای نه وو ، به سختۍ ځايدلو. هوا ډيره ککړه وه ، تپه تياره او تور تورتم وو ، هېڅ شی په سترګو نه ښکاريدل. موږ يې د څو ورځو لپاره وساتلو. په ورځ کې يې دوه ځله تشناب ته بيولو " .

دغه تر ځمکې لاندې خونه د کنګل کيدلو تر درجې سړه وه او دغه ځوان وايي چې هغه ويريده چې د سړې هوا له امله مړ نه شي. دغه ځوان له خپل ورور سره له يوې اونۍ وروسته خوشې شو ، داسې ښکاري چې د خپلوانو د منځګړيتوب له امله چې د وحدت د ګوند له بولندويانو سره يې اړيکه درلودله خوشې شول. خو ده وويل چې له هغه سره نور بنديان له بيلابيلو برخه ليکونو سره مخامخ شول :

"له موږ سره نور بنديان هېڅکله خوشې نه شول. هغوی تري تم شول. زه پوهيږم ، بنديانو موږ ته وويل چې د هغوی کورنيو ته خبر ورکړو. زه د هغوی کورنيو ته څو ځله ورغلم او خبر مې ورکړ. د هغوی کورنۍ ورپسې ډيرې و کړېدلې چې پيدا يې کړي. موږ ورته يو شمير لارښوونې وکړې. خو بنديان تر يوې مېاشتې پورې نه ول خوشې شول. څو موده وروسته کله چې ما د هغوی د کورنيو له غړو سره خبرې وکړې پوه شوم چې هغوی نه ول خوشې شوي او تري تم شوي ول " .

يو پښتون سپين روبی وايي چې نوموړی د ۱۹۹۲ز کال د مېاشتې په نيماييو کې د وحدت ځواکونو نيولی وو او هغه ليدلې چې د وحدت د ګوند غړو بنديان وژل :

"سهار مهال وو. غوښتل مې د چهلستون د بڼ پر لور ولاړ شم . لس کلن زوی هم را سره وو. د لارې په اوږدو کې وحدتيانو ودرَولو. هغوی دوه تنه ول. موږ يې د حببې ليسې ته راوستلو. کله چې موږ يې ونيولو په لومړي سر کې

Download from: ketabton.com

يې له مورې سره بد چلند ونه کړ، يوازې پوښتنې يې کولې..... خو يو کانتينر مې وليد چې له بنديانو ډک وو. هغو دوه وو تنو چې مورې نيولي وو په خپلو منځو کې خبرې کولې ، يوه يې ويل چې " خوشې يې کړه دغه دواړه بې گناه دي." بل يې ويل " نه ، مورې ښه وکړل چې دوی مو ونيول ځکه دوی پښتانه دي." هغوی ډير نور پښتانه هم نيولي ول او ليدل مې چې هغوی يې په کانتينر کې اچول.

لومړي جنگيالي ويل چې :" دوی دواړه په کانتينر کې واچوه! " بل يې ويل چې " نه ، له ده سره کوشنی هلک دی." لومړني سړي ويل : " څه کيږي ، په کانتينر کې يې واچوه ، دوی پښتانه دي ، ما درته وويل چې په کانتينر کې يې واچوه!" ددوی دغې شخړې تر څو دقيقو پورې دوام وکړ. وروسته يې پريښودلم چې ولاړ شم او مورې خوشې شولو ".
]5[

دغه سړي وويل چې د دوی له خوشې کېدا سره سم وحدتيانو له بنديانو ډک کانتينر په توغندي وويشت .

"له زوی سره مې نوی په لاره خوځېدلی وم. مورې د چاودنې غږ واوريد. وحدتيانو کانتينر له بنديانو ډک کړی وو ، بيا يې د کانتينر دروازه ور پسې تړلې وه. چاودنه مې تر غوږ شوه ، شا ته مې وکتل ، و بيريدلم او د زوی لاس مې ونيو او په ځغاستو مو پيل وکړ ، مورې خپل ژوند له مرگڅپاني گواښ سره مخامخ ليده. بيا مې شا ته و کتل ،له ډېر سره سم گورم چې له کانتينره ليرې ، په شا او خوا کې وحدتيانو هم په ځغاستو پيل وکړ.... د ويشتل شوي کانتينر له منځه د بنديانو د بې وسو کوکارو ډک غږونه مې اوريدل ، د سوري سوري کانتينر له منځه چيغې راختلې. توغندی نيغ په نيغه په کانتينر ننوتلی وو او هلته چاوديدلی وو] "....6[

د بشري حقونو د څار ټولنې له هغو پښتنو او تاجيکانو سره مرکې کړې دي چې په ۱۹۹۲ز کال کې د وحدت د گوند جنگياليو نيولي ول ، دغه کسان د هغوی د کورنۍ د غړو او يا د هغوی د ملگرو په مرسته خوشې شوي دي چې دبيلابيلو ډلو له مشرانو سره يې اړيکې درلودلې. د جمعيت د دولت يوه لوړ پوړې ملکي چارواکي د بشري حقونو د څار ټولنې ته وويل چې د وحدت د گوند د سړي نيولو او سړي تښتولو په اړه دولت ته ډير شکايتونه وشول ،او دولت داسې لاسوندونه په لاس کې لري چې د وحدت ډلې د کابل په لويديځ کې په يوه ځای کې چې " قلعه خانه ' نوميږي يو زندان جوړ کړی وو ، د دغه زندان بولندوی " شفيع ديوانه " نومېده. نومونړي بولندوی په دغه زندان کې خلک وهل ، ټکول او هغوی يې همدلته وژل. د جمعيت چارواکو ته داسې غوښتنليکونو هم راغلل چې د وحدت جنگياليو ژوندي بنديان د خښتو جوړولو په داشونو کې سوځول] .7[

د کابل په لويديځ کې يوه روغتياپال چې مخکې مو ورڅخه هم يادونه وکړه د بشري حقونو د څار ټولنې ته وويل چې د کابل په لويديځ کې د روغتون کارکوونکي پوهېدل چې د وحدت جنگياليو په زرگونو تنه بې گناه ملکي وگړي دشت برچي ته تښتولي ول ، ځينې وختونه به يو شمير کسان د منځگړو او مخورو کسانو د منځگړيتوب او خبر اترو له امله خوشې شول خو ډيري کسان هېڅکله خوشې نه شول او نه يې چا مخ وليد] .8[

Download from: ketabton.com

--------------------------------------------------

[1] Andrew Roche, �Guerrillas clash in Kabul, some hostages freed,� Reuters, June 4, 1992.

[2] Human Rights Watch interview with O.U., Afghan journalist, Kabul, July 13, 2003.

[3] Mohammed Nabi Azimi, Ordu va Siyasat, p. 609 [translation by Human Rights Watch].

[4] Human Rights Watch interview with F.K.Z., resident of west Kabul, Kabul, July 9, 2003.

[5] Human Rights Watch interview with Y.N., Kabul, December 6, 2003.

[6] هماغه

[7] Human Rights Watch interview with R.D., former official in the interim government 1992-1995,

Kabul, July 16, 2003

[8] Human Rights Watch interview with S.K., Afghan medical worker in Karte Seh (West Kabul) during early 1990�s, Kabul, July 9, 2003.

Download from: ketabton.com

## دويم : تأريخي مخینه

## د اتحاد د ډلې سرې تښتونې:

مخکې مو هم ورته نغوته وکړه چې د اتحاد ډلې هم سړي تښتونې کولې. یوه پښتون توکمه تښتول شوي سړي د بشري حقونو د څار ټولنې ته وویل سره له دې چې دی پښتون وو خو بیا هم نوموړی د ۱۹۹۲ زکال په دوبې کې د اتحاد ځواکونو نیولی وو ځکه د اتحاد له جنګیالیو سره یې شخړه کړې وه. هغه وویل چې د اتحاد په زندان کې له ده سره څه دباندې دیرش تنه هزاره توکمه بندیان ول او دده په وینا یوازې په دې ګناه نیول شوي ول چې هزاره ګان ول. [1] هغه د خپلو سترګو لیدلی حال داسې وايي :

"د سیاف یو شمیر پغمانیو جنګیالیو ونیولم. هغوی زما له اوښي سره یوه مالي شخړه درلودله او د هغه پر ځای یې زه د یرغمل په توګه و نیولم . زه یې سیلو ته نیږدې د خوشالخان مېنې د بریښنا کوټ اډې ته بوتلم . زه یې په یوه خونه کې واچولم ، او راته یې وویل چې نن شپه به همدلته تیروم او سبا به مې خوشې کړي. د هغوی د بولندوی نوم تورګل وو. خو په سبا ورځ یې د اتحاد او وحدت ترمنځ جګړه ونښتله " .

دا سړی وايي په هماغه شپه کله چې د کلکو جګړو لمنه پراخه شوه ، د اتحاد جنګیالیو نور هزاره ګان راوستل : " د سیاف ځواکونو دیرش یا څلویښت تنه هزاره ګان راوستل..... هغوی جنګیالیان نه ول ، ټول بې ګناه ملکي وګړي ول ، په هغوی کې ځوانان او بوډاګان ول." دغه سړی زیاتوي چې د اتحاد جنګیالیو په هماغه شپه  له ده سره ناست بندیان په اتوماتیکو وسلو ووژل :

"کلکه جګړه روانه وه. موږ د توپونو ډزې اوریدلې. ډیرې زیاتې ډزې وې . ما د سیاف د جنګیالیو غږ اوریده چې ورو ورو په شا کیږي. په دې لړ کې یو تن په بولندوی تورګل غږ وکړ : " له بندیانو سره څه وکړو؟ " هغوی په پښتو خبرې کولې ، هزاره بندیان په پښتو نه پوهېدل. زه په پښتو پوهیدم. یو یې وویل : " ورسه او بندیان ووژنه "!

زه د دروازې څنګ ته وم. کله مې چې دا واوریدل د دروازې له خولې لیرې شوم او ځان مې یوې ګوښې ته کړ.یو سړی راغی او دروازه یې پرانسیتله ، توپک یې په ټولو را تاو کړ او د کلاشنیکوف اتوماتیک ډزې یې پیل کړې. هغه د کوټې هرې خواته ړندې ډزې کولې. لس تنه ووژل شول ، او څلور تنه ټپیان شول. هېڅ څوک نه ښوریدل. موږ چې ژوندي پاتې وو ، په ویره کې ترهیدلي وو ، واښې وانې مو تښتېدلې وې. د باندې ډیره بده او کلکه جګړه روانه وه ، بولندوی د خونې کړکې ته راغی او پر ډزې کوونکي سړي یې غږ وکړ چې له دوی سره جګړې ته ولاړ شي او په دې توګه هغه ووت ".

Download from: ketabton.com

بندیان ویریدل چې وژل شوي کسان و ښوروي. خو کله چې جګړه و درېدله بندیانو په ډېرو ننواتو  او زاریو له جنګیالیو وغوښتل چې هغوی خوشې کړي. " دا ځل چې جنګیالي راغلل ، ما ورته وویل چې واورئ ! زه پښتون یم او زه له دغو کسانو سره نه یم نیول شوی."  یو تن جنګیالي وویل چې ما دې بلې خونې ته بوزي ځکه چې زه هزاره نه وم. دا سړی وایي چې " زه د نورو بندیانو له برخه لیکه خبر نه شوم ".

ددغه سړي خپلوانو چې د اتحاد د ډلې بولندویان پېژندل او له سیاف سره یې په پغمان کې لیدلي ول ، و شو کولای چې د سیاف د جنګیالیو له منګولو څخه ځان خوشې کړي. د بشري حقونو د څار نړیوالې ټولنې ته ددغه سړي خپلوانو وویل چې سیاف  [ ......... ] وزیر ته وویل چې دا سړی دې خوشې کړي.[2] [ د وزیر نوم د بشري حقونو د څار نړیوالې ټولنې لیرې کړی دی]. ددغه بندي خپلوانو وویل چې له هغه وروسته وزیر ، بولندوی تورګل ته لیکلی امر ورکړ او دی یې خوشې کړ. په څو پیښو کې دا په زباد رسېدلې چې سیاف په خپله خبر وو چې د اتحاد ډله هر وخت ملکي بې ګناه وګړي نیسي او هغوی بندي کوي او سیاف پر خپلو ټولو بولندویانو ولکه او کنترول درلود .

د بشري حقونو د څار نړیوالې ټولنې له بې شمیرو هزاره ګانو سره مرکې کړي دي چې په ۱۹۹۲ او ۱۹۹۳ ز کال کې د اتحاد ځواکونو نیولي ول او له هغوی څخه یې په اجباري کارونو کې کار اخیست ( د دغو خلکو کیسې  " پر افشار " د برید په برخه کې راغلې دي. )

[1] The quotes and descriptions of this case are taken from a Human Rights Watch interview with

F.R.G., Kabul resident, Kabul, July 3, 2003.

[2] Human Rights Watch interview with L.R.G., relative of the prisoner, Kabul, July 3, 2003.

Download from: ketabton.com

## د بندیانو ځورونه:

د بشري حقونو د څار ټولنې ته ډېر ګزارشونه او لاسوندونه را سیدلي چې ډېر ملکي وګړي د اتحاد او وحدت ډلو نیولي ول او له هغوی څخه يې په اجباري کارونو کې کار اخیستی ، هغوی وهل ، ټکول او ځورول شوي دي. مخکې مو له روغتیا پالې س. ک څخه یادونه وکړه ، هغه وايي چې د ډیرو هغو بندیانو درملنه یې کړې ، ددې ناروغان دواړو ډلو نیولي ول ، بندیان په ټپي ځانونو خوشې شوی ول ، بندیانو نوموړي روغتیاپالې ته وویل چې له دوی سره په بندیتوب کې ډېر بد چلند شوی او ډېر کلک وهل شوي دي .

"ما داسې یرغمل شوي ناروغان ولیدل چې ډېر کلک ځورول شوي ول: ملکي او غیر ملکي.  د دواړو خواو له پلوه د خلکو نیول او خوشې کول یوه عادي خبره ګرځېدلې وه ، یرغمل نیول شوي کسان د هغوی خپلوانو روغتون ته راوستل [ هغوی د بندیتوب په وخت کې وهل شوي ول] . وحدتیانو پښتانه او تاجیکان نیول او د اتحاد سړیو هزاره ګان نیول .

ما لیدل چې له هغوی سره څه ډول چلند شوی دی : خلک وهل شوي ول ، خلک شکنجه شوي ول . د هغوی په معقدونو کې آر پي جي ننه ایستل شوي ول. داسې نجونې هم وې چې پر هغوی ډله ییز جنسي تیري شوي ول. زما ناروغان دغسې بلهاریان " قربانیان " ول]" .1[

د بشري حقونو د څار ټولنې له یو شمیر ژورنالیستانو سره مرکې کړي دي ، دغو ژورنالیستانو په ۱۹۹۲ او ۱۹۹۳ ز کلونو کې له نیول شویو بندیانو او یرغملو سره مرکې کړي دي او یرغمل نیول شویو ویلي چې هغوی ډېر کلک شکنجه شوي دي. [2] د بي بي سي او اسوشیئټد پرس خبریالانو له بیلابیلو بندیانو سره چې له بیلابیلو توکمونو سره يې توکمیز تړاو درلود مرکې کړې دي او هغوی ته يې د خپلو نیونو او په بندیتوب کې د ډیرو کلکو ځورونو په اړوند خپلې کیسې کړي دي] .3[

ډیره شوني ښکاري چې د سړي تښتونو او د هغوی د ځورونو لړۍ په روان وحشت کې د غچ اخیستنې یوه برخه وه. د مجاهدینو بولندوی عبدالحق چې په ۱۹۹۲ زکال کې د کابل د پولیسو د اداري مشر وو ( د ۲۰۰۱ز کال د اکتوبر په میاشت کې په ختیځ افغانستان کې طالب ځواکونو اعدام کړ) ، په ۱۹۹۲ز کال یوه ژورنالیست ته وویل چې د جون د میاشتې په لومړۍ اونۍ کې غیراتحادي او غیر وحدتي بولندویانو هڅه وکړه چې د یرغمل نیول شویو کسانو په خوشې کولو کې د مبادلې په ډول مرسته وکړي خو د یرغملانو د بدلونې دغه لړۍ هغه مهال په ټپه و دریدله کله چې دواړو خوا ولیدل یو شمیر یرغملان په ډیره بده بڼه وهل او ټکول شوي ول] .4[

Download from: ketabton.com

) د بندیانو د ځورونو ، وهلو او ټکولو په اړه نور مالومات د " جنسي تیریو " په برخه کې یا " پر افشار " له برید وروسته راغلي دي(

## د خلکو تري تم کېدنه:

د بشري حقونو د څار ټولنې د کابل په لویدیځ کې له څو کورنیو سره مرکې کړې دي ، دغو کورنیو ویل چې په ۱۹۹۲ زکال کې یا د هغوی خپلوان یا د کورنۍ غړي ، یا وحدت یا اتحاد تښتولي او بیا یې مخونه نه دي لیدلي. دغو کورنیو د نوموړو ډلو له ویرې د بشري حقونو د څار ټولنې ته د تښتول شویو کسانو نومونه ور نه کړل .

د بشري مرستو یوه افغان کار کوونکي چې د کابل په لویدیځ یې کار کاوه په ۱۹۹٦ ز کال کې یې د کابل په لویدیځ کې د یو شمیر تښتول شویو " تري تم شویو" کسانو نومونه او انځورونه " خپاره کړل.[5] دغه پروژه د ۱۹۹۳ � ۱۹۹۵ ز کلونو په لړ کې د هغې پلټنې پر بنسټ پلې شوه چې موخه یې یوازې د هزاره ګانو د تري تم کېدنې په اړه د مالوماتو د راټولو پر چورلیځ را څرخېدله چې د اتحاد د ډلې له پلوه تښول شوي او بیا تري تم شوي ول. څو کتاب په خپلې سپړنې کې د وحدت او جمعیت د ډلو د سړي تښتونو په اړه هم پراخ مالومات لري او تر یوې کچې د ستونزې د پراخوالي انځور رانغاړي.

دغه کتاب په خپله پلټنه کې ٦٧١ پیښې را څیړي او ټولې یې هغه پیښې دي چې ډیرې یې د کابل په لویدیځ کې د ۱۹۹۲ - ۱۹۹۳ ز کلونو په لړ کې رامنځته شوي دي. ح. ک .[6] چې د کتاب یو څیړونکی دی د بشري حقونو د څار ټولنې ته وویل :

"د نجیب الله د دولت له پرځېدا وروسته په لومړي کال کې د کابل په لویدیځ کې د ۱۰۰۰ تنو د تري تم کیدنې ګزارش ورکړل شوي دي .

موږ د تري تم  شویو کسانو د نومونه شمیره لږ ښودلې ده ځکه موږ یوازې د هغو پیښو په اړه پلټنه کړېده چې موږ ته څرګنده وه او پوهېدلو چې نوموړي کسان څنګه تښتول شوی ول. یو شمیر نور لاسوندونه او د بولندویانو په اړوند نور مالومات شته ، موږ سره دومره وخت نه وو او هڅه مو وکړه چې یوازې راټول شوي شته مالومات خپاره کړو.

موږ ته ډیره ستونزمنه وه چې د هرې پښې په اړوند جلا جلا کار وکړو. دپلټنې پر مهال زموږ یو تن کارکوونکی د حکمتیار د ځواکونو له پلوه و نیول شو ، هغه یې د پیسو لپاره نیولی وو چې د پیسو په بدل کې یې باید خوشې کړو ، هغه یوازې د همدغې پلټنې په ګناه نیول شوی وو د هغه نوم [ . نوم موږ ایسته کړی دی] وو. هغه په دشت برچې کې و نیول شو ، دا هغه مهال وو چې نوموړي پلټنه کوله. له خوشې کېدلو وروسته هغه وویل چې د بندیتوب په وخت کې په ډیره بده بڼه وهل شوی وو]" .7[

Download from: ketabton.com

ح. ک وویل چې د پلټنې د پروژې کار کوونکو د تښتول شویو کسانو په را خوشې کولو کې چې بیلابیلو ځواکونو نیولي ول ، هڅه وکړه:

"د ټولو هغو کسانو په اړوند چې موږ پلټنه کړېده ، تقریباً ټول یې تري تم شوي دي. په ډیرو لږو پیښو کې ډیر لږ کسان خوشې شوي دي ، دا هم هغه کسان ول چې موږ ددوي په هکله مالومات درلودل ، موږ پوهیدلو چې چا او چیرې نیولي او موږ هڅه وکړه چې خوشې یې کړو. له موږ سره یو تن وو چې د اتحاد له ډلې سره یې خبرې اترې کولې ، هغه زموږ د مالوماتو پر بنسټ کار کاوه او یو شمیر کسان یې را خوشې کړل. نوموړي سړي په لومړي سر کې په خپله له سیاف سره خبرې کولې او وروسته یې له احمدزي [ د اتحاد یو چارواکی چې یو وخت یې د سر وزیر په توګه کار کاوه ] خبرې کولې .

ټولو بولندویانو او ټولو انکار کاوه چې دوی سړي نه دي تښتولي او نه له دوی سره څوک شته. خو په ډیرو لږو پیښو کې کله چې موږ نوموړو کسانو ته خپل ټول په ځیر را ټول شوي مالومات ور سپارل ، نو له هغه وروسته به یې تښتول شوی سړی خوشې کړ. خو دغه یوازې د ګوتو په شمار پیښو کې رامنځته شول ".

ح.ک. وویل چې ډیري را خوشې شوي کسان ډیر سخت وهل شوي ول او پر ځانونو یې د وهلو ټکولو نخښې لیدل کېدلې. هغه د یوه نیول شوي سړي کیسه وکړه چې دی یې په راخوشې کولو بریالی شوی وو ، دغه سړی د اتحاد ځواکونو تښتولی وو او وایي چې په پغمان کې د یوه بولندی په بڼ کې ور باندې د یوه " مریي " په توګه کار شوی دی. ( د اجباري کارونو په اړوند پر" افشار د برید " په برخه کې نور مالومات هم ورکړل شوي دي )

"موږ ټولې پیښې په مستنده ډول راټولې کړې دي. کله چې نوموړی راخوشې شو ، ما ورسره مرکه وکړه. کله چې هغه نیول شوی وو نو د اتحاد ځواکونو کلک وهلای وو او په زندان کې ډیر سخت ځورول شوی وو. له هغه سره پینځوس تنه نور هم ول ، هغه ویل چې دوی د پغمان په یوه سیمه کې ول. له څو اونیو وروسته یې " یوه  بڼ " ته را استولي ول چې شپه او ورځ پر ځمکه کار وکړي " .

د رباني د دولت یوه پخواني چارواکی د بشري حقونو د څار ټولنې ته د اتحاد او وحدت د سړي تښتونو په اړوند مالومات ورکړل او دا هم ورزیاتوي چې د جمعیت ، حرکت ، جنبش او اسلامي ګوند ځواکونو هم ځینې وختونه انسانان یوازې د پیسو لپاره تښتول.[8] ر. د. د رباني د دولت د کورنیو چارو د وزارت یو پخوانی چارواکی دی او د روانو پیښو په اړوند یې مالومات درلودل ، هغه وایي چې د " نظار د شوری " لوړ پوړی بولندوی " انور ډنګر" [ د سړي تښتونو په لړۍ کې ډیري ژوري جرړې درلودلې] او د جمعیت بل بولندوی " قاسم جنګل باغ " به تل انسانان تښتول اویا به یې د پیسو لپاره یرغمل ونیول].9[

پورتنۍ پلټنیزه پروژه د یو شمیر سړي تښتونو پیښې را بر بنډوي. ح. ک. وايي :

Download from: ketabton.com

د احمد شاه مسعود تر مشرۍ لاندې د نظار شورى هم ډېر سرې تښتولي دي. په ډېريو پېښو کې چا څه نه شواى کولاى ، خو په دريو پيښو کې موږ وکولاى شول چې د پيښې په اړوند لاسوندونه ومومو او د هغو پر بنسټ نوموړي کسان خوشې کړو. هغوى د هغه وخت د ملي امنيت [ افغان څارګرې اداري] له مشر [ محمد قسيم فهيم ] سره خبرې وکړې او وروسته يې خوشې کړل .

د بشري حقونو د څار ټولنې ته د جنبش د ځواکونو له پلوه د سرې تښتونو د پيښو په اړه لاسوندونه او مالومات ورکړل شول چې په ۱۹۹۲ ز او ۱۹۹۳ ز کلونو کې يې خلک تښتولي ول. د بشري حقونو د څار ټولنې ته د جنبش يوه رسمي چارواکي ومنله چې د جنبش ځواکونه په ۱۹۹۲ ز او ۱۹۹۳ ز کلونو کې د بنديانو په وژنه کې په نه سترې کېدونکې توګه ښکيل ول .

-------------------------------------

[1] Human Rights Watch interview with S.K., Afghan medical worker, Kabul, July 9, 2003. See also

testimony of H.K., Afghan NGO worker, below.

[2] Human Rights Watch interview with Y.U., Afghan journalist, Kabul, July 8, 2003; Human Rights

Watch interview with O.U., Afghan journalist, Kabul, July 13, 2003.

[3] Sharon Herbaugh, �Civilians Tell of Captivity, Torture by Rebels,� Associated Press, June

6, 1992, quoting interview with released Hazara prisoner. ��We were kept in containers, so many of

us that we couldn�t sit down. They wouldn�t give us food or water,� said Nadir Ali, a 22-year-old Hazara candymaker who was held with [. . .] others at an abandoned interrogation center of the

former secret police. He was clutching his right arm, which was swollen and probably broken from

the blows with rifle butts and chains.�

[4] Andrew Roche, �Gunbattles rage in Kabul, death toll over 100,� Reuters, June 5, 1992.

Download from: ketabton.com

[5] Cooperation Centre for Afghanistan, �The Prisoners and the Missing, Kabul, Afghanistan 1992-

1995� (Peshawar: CCA, 1996).

[6]د پلټونکي نوم د هغه د خوندیتوب لپاره نه دی لیکل شوی

[7] Human Rights Watch interview with H.K., aid worker, Kabul, July 5, 2003.

[8] Human Rights Watch interview with S.A.R., former Shura-e Nazar official, Kabul, July 20, 2003;

Human Rights Watch interview with C.S.A., former government security official, July 18, 2003.

[9] Human Rights Watch interview with R.D., former official in the interim government 1992-1995,

Kabul, July 16, 2003. This was consistent with testimony by a former Shura-e Nazar official, Human

Rights Watch interview with J.G.M., government security official in 1992-1993, Kabul, July 10, 2003.

Download from: ketabton.com

## شوکه او لوټماري:

د بشري حقونو د څار ټولنې له يو شمير ژورنالیستانو ، روغتیاپالانو ، د مرستندیو ټولنو له کارکوونکو ، ټکسي چلوونکو ، د ملکي چارو له چارواکو او سرتیرو مرکې کړي دي چې د نجیب الله د واکمنۍ له پرځېدا وروسته د جمعیت ، جنبش ، وحدت ، اتحاد ، حرکت او اسلامي ګوند شوکې او لوټمارۍ يې په خپلو سترګو ليدلي دي .

د کابل په سویل ختیځ کې یو شمیر سوداګرو د بشري حقوتو د څار ټولنې ته وويل چې د اسلامي ګوند د ځواکونو د لوټماریو ننداره یې د کابل د ښار په سویل ختېځ کې د بالا حصار په سیمه کې د ۱۹۹۲ز کال د اپریل په مېاشت کې په خپلو سترګو کړې ده. [1] ګزارشونه دې نغوته کوي چې د سفارتونو ودانۍ او ډیپلوماټیک استوګنځي هم د لوټماریو د لومو په ښکار کې را پریوتلې. [2] د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د بشري حقونو راپورتر ګزارش تر لاسه کړ چې په مکروریانو کې د دولتي کاروونکو پر استوګنځیو د لوټمارو سترګې ښخې شوې وې.[3] هغو ژورنالیستانو چې د زاړه رژیم د پرځېدنې ګزارش يې ور کاوه ولیدل چې د ښار په هر ګوټ کې کورونه او هټې ګانې لوټل کیږي. [4] یوه افغانستان ژورنالیست د ۱۹۹۲ ز کال د اپریل په میاشت کې خپل د سترګو لیدلی حال داسې په یاد راولي :

"ما په خپلو سترګو ولیدل چې د مسعود او سیاف سرتیرو ښار ته له ننوتلو سره سم د کړکیو ښیښې ماتولې او هر څه یې چې مخې ته ورتلل او خوښ يې ول لوټل او له ځان سره یې وړل. هغوی د وحشي ځارويو یا ژويو په څير ول او هغه ناخبرې یې کولې چې زړه یې غوښتل]" .5 [

د بي بي سي یوه ژورنالیست د بشري حقونو د څار ټولنې ته د ۱۹۹۲ز کال په اپریل کې خپل د سترګو لیدلی حال داسې ووایه :

"ما د جنرال دوستم د وزبکو سرتیرو لوټماري ولیدله .... د هغوی پیژندنه ډیره آسانه ده. زه هغوی د جامو او څیرو له مخې پیژنم. هر څوک ، هغوی په آسانۍ پیژندلای شي. ما د دوی یو شمیر کسان ولیدل چې یخچالونه يې په شا لیږدول ، نورو یې ایرکنډیشنرونه او نور توکي له ځان سره ځغلول. زما د دوستم د وزبکو ملیشو یو شمیر کسان په یاد راځي چې له یوې ګډې پوځې پوستې څخه به دباندې راوتل. هغوی خوښ او خوشاله ځوانان ول او تل به یې خندل. هغوی یخچالونو او هغو ته ورته نور شیان په خپلو اوږو لیږدول. د [ جمعیت او جنبش ] ډلو دواړو د ولسمشر ټوله مانۍ چور او لوټ کړه. د هغوی سرتیري په مانۍ ننوتل ، غالۍ او نور ګران بیه شیان يې لوټ کړل]" .6[

د بشري حقونو د څار ټولنې ته د داسې تورونو ګزارشونه هم را ورسیدل چې د جنرال مجید روزي په ګډون په کابل کې د دوستم لوړ پوړو بولندويانو د جنبش له لوټماريو څخه ګټه تر لاسه کوله] .7[

Download from: ketabton.com

د نظار د شورى يوه پخواني لوړ پوړي چارواکي د بشري حقونو د څار ټولنې ته د جمعيت د هغو سرتيرو د لوټماريو په اړوند وويل چې د جمعيت د يوه منځپوړي بولندوى قاسم جنګل باغ تر بولنې لاندې ول.



۱۹۹۲ ز کال د آګست ۱۱ : جنرال عبدالرشيد دوستم د جنبش د ډلې مشر. د دوستم ډلې ګوته نيول شوى چې د ۱۹۹۰ ز لسيزې په لومړيو کې په کابل کې په جنګي جناياتو کې ښکېل ول. د ۲۰۰۵ز کال له نيمايي وروسته د هيواد د دفاع په وزارت کې مهمه پوځي څوکۍ ورکړل شوې ده.

� 2001 Reuters Limited

"قاسم جنګلباغ د کابل د ختيځ په وزير اکبرخان او مکرو ريانو کې د ډېريو ربړو او ناتارونو پازوالي په غاړه لري لکه : لوټماري ، سرې تښتونه او پر نجونو جنسي تيري. ... قاسم ځانته يو غنـډ درلود � ګومان کوم دده خپل غنډ وو. ددغه غنډ عملياتي بولندوى د نظار د شورى ، بسم الله خان وو او ګومان کوم بسم الله خان نيغ په نيغه د مسعود لاس لاندې وو. مسعود هغه ته پيسې ورکولې چې خپلو سرتيرو ته يې ورکړي ... خو هغه دغه پيسې زما په باور د ځان لپاره اخيستلې. زه پوهيږم � زه پوهيږم چې دغسې کړنې همدا اوس هم دوام لري. هغه موټران لري خو د هغه سرتيري خواران دي. له دې امله دهغه سرتيري له خلکو څخه شوکه کوي او هر څه يې چې زړه و غواړي تر لاسه کوي يې. سرتيرو ته تنخوا نه ورکول کېده ، هغوى لوټمارۍ او شوکې کولې]" .8[

Download from: ketabton.com

یوه انځور اخیستونکي ژورنالیست چې په ۱۹۹۲ز کال کې یې په کابل کې کار کاوه وایي چې هغه د کابل په لویدیځ کې لیدل چې د جمعیت ځواکونو د کابل د لویدیځ کورونه لوټل : " تا به لیدل چې د یو کور نه ، دوه نه بلکه یوه د یوې کوڅې پر کورونو به ور ننوتل. د کورونو د ستکونه به را وایستل شول ، د بریښنا مزي به پریک شول ، د کور شیان او توکي به را وایستل شول ، لنډه دا چې د یوه کور هرڅه به را وایستل شول] " .9[

د ۱۹۹۲ز کال د مې د مېاشتې په وروستیو کې د یوه ژورنالیست پوښتنې ته په ځواب کې د جمعیت بو لندوی مسلم چې د افغانستان د دفاع په وزارت کې یې د یوه لوړ پوړي چارواکي په توګه کار کاوه وویل : " هره ټولنه غله او لوټماران لری. زموږ ټولنه هم له نورو ټولنو څخه کوم ځانګړی توپیر نه لري. هو ! دا منو چې دلته ګډوډي ده ، دلته بې قانوني ده. خو د لاس انجلس په پرتله دومره کړکیچنه نه ده. "[10] دا هغې پراخې اله ګولې ته نغوته وه چې په ۱۹۹۲ز کال کې د کالفورنیا په لاس انجلس کې وروسته له هغې رامنځته شوه کله چې یوه قاضي د داسې یوې ویډیو د خپریدلو اجازه ورکړه چې په هغې کې د پولیسو څو تنه افسران یو تور پوټکی ډاکو " رندي کینګ " تر وهلو او ټکولو لاندې نیولی وو.

کابل ، لاس انجلس نه وو. د بشري حقونو د څار ټولنې ته د کابل ډیرو میشتو کابلیانو وویل چې په ۱۹۹۲ز کال کې د وحشت ، بې قانونۍ ، د هرډول جرم له سزا څخه د معافیت او د ناتارڅېلې ګډوډۍ کلتور راغی او ټولیز احساس دا وو چې د ملیشو سرتیري څه یې چې زړه غواړي ، کولای یې شي. د لوټمارۍ او شکونې تر څنګ هلته د وژنو او نورو بیلابیلو وحشتونو پیښې تر سره کېدلې .

د بي بي سي یوه ژورنالیست د بشري حقونو د څار ټولنې ته وویل چې د ۱۹۹۲ز کال د اپریل په مېاشت کې د جنبش ځواکونو ملکي وګړي په نخښه کول :

"جنبش لوټماري کوله .... موږ یې فلمونه اخیستلي دي. په یو ځای کې د جنبش ځواکونه یو هلک چې بایسکل لري وهي. ګومان کوم له هغه څخه یې بایسکل اخیسته . زه ګومان کوم دا یو له هغو کم پیدا پیښو څخه دی چې یو څوک دې د دوی له منځه را پاڅي او د بل چا د وژنې مخه دې ونیسي. هغوی دغه هلک د کلاشنیکوف په لېچ " قنداق " وهي خو کله چې د هغوی له ډلې څخه د یو تن سرتیري سترګې پر موږ لګیږي خپل ملګري ته وایي چې هلک دې خوشې کړي.

په بله پیښه کې چې د کانیننټال هوټل ته نیږدې رامنځته شوه ، زموږ کمره پر نورو کړکیچنو ستونزو ور تاوه شوه. د جنبش وزبک سرتیرو زموږ د کمرې مخې ته اکټونه او پیښې کولې. هغوی یو هلک درَولی وو ، هلک ، یو ملکي تنکی ځوان وو. هغوی غوښتل پر هلک ساعت تیري وکړي. سرتیرو دغه هلک څو متره لیرې درولی وو او د هغه د پښو تر څنګ به یې ډزې کولې او هلک به له ویرې پورته پورته الوت ، دوی به دې ډول پر هلک نڅا کوله او پرهغه

Download from: ketabton.com

به يې چيغې وهلې " و ناڅه ، وناڅه " او په دې ډول به يې د هلک د پښو ترخنګ ډزې کولې او هغه به يې نڅاوه . ]11[

د بشري حقونو د څار ټولنې په ۱۹۹۲ � ۱۹۹۳ زو کلونو کې د جمعيت ، جنبش او حرکت د ځواکونو د سرتيرو په لاس د ډيرو وژنو پيښې په لاسوند ډول را ټول کړې دي. د جمعيت او جنبش پخوانيو رسمي چاراواکو د بشري حقونو د څار ټولنې ته ومنل چې د هغوی په پخوانيو اړوندو ډلو پورې پوځي ځواکونه په وژنو ، لوټماريو او شوکو کې په کلکه ښکيل ول].12 [

د جنبش دغه رسمي چارواکي د يو شمير ځانګړو بولندويانو نومونه را خلي چې په دغه ناتار کې ښکېل ول :

"شير عرب ، اسماعيل ديوانه [ ليوني اسماعيل ] ، عبدالچيريک[13] له هماغو لوړمړيو شپو ورځود هټيو او مارکټيونو په لوټماريو کې ښکيل ول. د ۱۳۷۱ ل په وروستيو او د ۱۳۷۲ل په لومړيو کې چې [ د ۱۹۹۳ ز کال د جنوري او مې له مېاشتو سره سمون خوري] هغوی د " پرزه فروشۍ " بازار لوټ کړ. اسماعيل ديوانه [ د کابل په سويل ختيځ کې ] په بالا حصار کې وو. هغه به تل پکتياوال پښتانه چې له دغې لارې تيريدل وژل] " .14[

د نظار د شورى يوه بل پخوانی چارواکی وايي چې په ۱۹۹۲ او ۱۹۹۳ ز کلونو کې د جمعيت ځواکونه په ډله ييزو او ټوليزو لوټماريو کې ښکيل ول او نومونړی په ځانګړې توګه د نظار د شورى يو ډير بد ډاکو ، بولندوی " رحيم ' کونګ فو' " ته ګوته نيسي او دغه ډاکو په خپل وار په خپله د جمعيت يو رسمي چارواکی وو، هغه وايي : " رحيم کونګ فو ، يو لوی لوټمار ، داړه مار ، غل ، وژونکی لنډه دا چې يو ستر جنايتکار وو" [15] دغه رسمي چارواکي [ کله چې د رحيم په تړاو خبرې کولې په ژړا شو او د بشري حقونو د څار ټولنې ته يې وويل چې ] رحيم په ۱۹۹۲ ز کال کې په ټايمنيو کې د وحدت پر وړاندې د عملياتو په لړ کې ډير ملکي هزاره ګان او ماشومان ووژل : " ډير جنسي تيري وشول ، ډير نارينه او ښځې ووژل شول. رحيم ډير هزاره ګان ووژل . هغه ماشومان ووژل. بخښنه غواړم ، نور نه شم کولای ددغه ناتار په اړه ډير څه ووايم] ".16[

نومونړي په بله مرکه کې د اوريدا له مخې وويل چې داړه مار رحيم کونګ فو د ټايمنيو په عملياتو کې څنګه د خپلو جناياتو کچه تر لوړې کچې ورسوله:

" رحيم د هزاره ګانو غاړې ور پريکولې. رحيم وويل چې " موږ د ۳۰۰ � ۳۵۰ هزاره ګانو ستوني ور پريک کړل. زه په يوه کور ننوتلم ، يو څو ورځنی ماشوم مې وليد ، ما خپله برچه د ماشوم په خوله کې کښيښودله . ماشوم زما برچه د مور د تي په شان رودله ، بيا مې نا څاپه برچه د ماشوم په ستوني کې ور ننه ايستله] ".17[

د کابل د ښار يوه استوګن چې تل يې د ډلو ترمنځ د منځګړيتوب دنده تر سره کړيده د بشري حقونو د څار ټولنې ته وويل چې هغه د ۱۹۹۲ز کال د دسامبر په مېاشت کې په خپلو سترګو وليدل چې د جنبش سرتيرو يو تاجک ځوان

Download from: ketabton.com

هلک وواژه ، د نوموړي هلک ورور پیسې راوړي وې چې خپل ورور د هغوی له منګولو څخه و ژغوري ، ګـنګوسو ویل چې نوموړی د جنبش د ډلې بولندوی عبدالچریک تښتولی وو .

"یوه ورځ یوه میرمن ماته راغله او د مرستې غوښتنه یې وکړه. هغه پوهېدله چې زه د جنبش د ډلې له خلکو سره پیژندګلوي لرم ، هغې را څخه وغوښتل چې د هغې لپاره د مرستې لاس ور وغځوم : د هغې د ورور موټر د جنبش ځواکونو د ۱۹۹۲ز د دسامبر په مپاشت کې ګرځولی وو. موټر عبدالچریک ګرځولی وو � چریک د کابل په ختیځ کې د چمنِ وزیري په بریښنا کوټ کې پوسته درلودله.

زه د عبدالچریک پوستې ته ولاړم. کله چې کښینستلم ، چریک ته سترګې په لار وم چې ور سره خبرې وکړم � په دغه شېبه کې یو ځوان ۱۸- ۱۹ کلن ځوان له یوې غټې کڅوړې سره را ننوت ، غټه کڅوړه له پیسو ډکه وه � یو پنجشیری ځوان وو � زه د هغه له پنجشیري ګړ دوده پوه شوم او د تاجیک په شان ښکاریده.

ځوان هلک چریک ته په ننواتو وویل ورور یې ور خوشې کړي. هلک وویل : " دا دي هغه پیسې چې تا زما د ورور د خوشې کولو په بدل کې غوښتې وې" هلک د کڅوړې سر ور خلاص کړ. کڅوړه له پیسو ډکه وه. نه پوهیږم چې څومره وې خو کڅوړه زیـچ او ډکه وه .

عبدالچریک هلک ته و کتل ، بیا یې خپلو ساتونکو ته و کتل ، له هغه وروسته یې وویل " دې بوزئ د هغه ورور ته." ساتونکو هلک ته وویل چې ور سره ولاړ شي او هلک یې له مټو کلک و نیو او له دروازې ووتل. هغوی د باندې ووتل.

زه په خونه کې سترګه په لاره وم. له دوه درې دقیقو وروسته ، غوږونو ته مې د ډزو غږ راغی ، ډزې څه دباندې پینځوس متره لیرې وې. دا د اتوماتیک توپک د ډزو پرله پسې غږ وو. څو شېبې وروسته توپکوال بیرته خونې ته راغلل. د هغوی په لاسونو کې ګوتې او لاسي ساعت وو ، ګوتې یې عبدالچریک ته ورکړې او ساعت یې د هغه د میز پر سر کښېښود. زه چریک ته په دې هیله ورغلی وم چې د هغې ښځې د ورور موټر ور خوشې کړم خو کله چې دا پېښه مې ولیدله غلی له بریښناکوټه را ووتلم او خپله لاره مې ونیوله. کله چې د باندې راووتلم " له خپله خدایه مې ډیره مننه وکړه " چې له هغه ځایه ژوندی راووتلم.

د بریښنا کوټ په دروازه کې مې له ساتونکي پوښته وکړه " دا سړی تا وواژه او یا دې یوازې د هغه ساعت او ګوتې واخیستلې؟ " جنبشي ساتونکي وویل " دا څه د لیونتوب پوښتنه کوې! کله چې یو پنجشیری زموږ ګوتو ته راسي او زموږ بندي شي نو هغه کله ژوندی پاتې کیدای شي ، آیا دا زموږ په واک کې ده؟

ما ته هېڅ د منلو وړ نه وه چې څوک دې یو سړی په دومره آسانۍ مړ کړي. خو دا هغوی ته یوه عادي خبره وه. ستا زړه ته به یې ونه مني چې هغوی به څوک وژلی وي . ځکه دا دوی ته یوه عادي خبره وه ، هغوی ته داسې ښکاریدله

Download from: ketabton.com

چې هېڅ شی نه وي پیښ شوي. کله چې توپکوال بیرته راغلل په خونه کې نورو ناستو توپکوالو ان له ځانه هېڅ غبرګون ښکاره نه کړ ،هېڅ پوښتنه یې ور څخه ونه کړه ، دا ځکه چې دا د دوی ورځنی او عادي کار وو] ".18 [

د کابل د ښار د ټایمنیو د واټ یوه اوسیدونکي د حرکت د سرتیرو په لاس د ملکي وګړو هغه ټولوژنه په یاد لري چې په خپلو سترګو یې د کابل د شمال پریوه سړک د ۱۹۹۲ز کال په سپتامبر کې لیدلې وه :

"ما دخپل د کور مخ ته یوه هټۍ درلوده. په هټۍ کې مې د اړتیا وړ توکي پلورل. یو سهار په هټۍ کې ناست وم . دغه هلک ته ګوره چې تیریږي ، د ده په منګ مې یوهلک ولید � هغه نوی واده کړی وو. پرسړک ډزې پیل شوې. کښته سړک ته مې وکتل او ګورم چې هغه ځمکه پروت دی او پرسر یې بل هلک ولاړ وو� باندني سړي تومانچه په لاس کې درلوده او خپله تومانچه یې د هلک ککرې ته نیولې وه او هغه په ټېک " شقیقې " کې وویشت. هلک مړ شو. پر سړک نور خلک مړي ته ور نیږدې شول او بیا ودریدل] " .19[

نوموړی هټیوال چې د هلک د وژنې په لامل نه پوهېده او د وژونکي نوم یې هم نه پیژانده دومره پوهیږي چې چا د حرکت د ډلې له ځواکونوسره لیدلی وو .

" دغه توپکوال د حرکت له کسانو څخه وو ، زموږ له څنګه په کراری تیر شو. داسې ښکاریده چې هغه ، هغه څه تر سره کړي ول چې زړه یې غوښتل. موږ په رڼو سترګو ولید. موږ پوهېدلو چې هغه د حرکت له کسانو څخه وو " . ]20[

د کابل د ښار یوه بل استوګن چې د سرویس موټرانو چلوونکی وو د بشري حقونو د څار ټولنې ته وویل چې هغه د ۱۹۹۲ز کال په پای کې د اسلامي ګوند ځواکونو نیولی وو ،د هغه سرویس بس یې ورڅخه غلا کړی وو او نیږدې وو چې دې هم ووژني :

"یوه وخت ما سرویس بس چلاوه او زه نیږدې وروستي تمځای ته رسېدم ، ټولې سپرلې له سرویسه کوزې شوې وې او سرویس تش وو ... مخې ته مې یو سړی او یو ځوان هلک راغلل ، ما موټر ودراوه او غوښتل مې هغوی راپورته کړم. نا څاپه وسله وال کسان پیدا شول او سرویس ته را وختل او را ته وېې ویل چې د موټر مخه و ګرځوم ، ما نه غوښتل چې د بس مخه تاو کړم ، په دې شېبه کې هغوی زما په وهلو پیل وکړ. د موټر مخه مې را تاو کړه او د ګردیز پر لور پر یوه کوشني سړک و خوځېدلو... زه یې خپلې پوستې ته بوتلم --- په پوسته کې د حکمتیار سړي ول. هغوی را څخه و غوښتل چې د موټر چلول ور زده کړم ، څنګه د موټر ګیرونه بدلیږي او موټر څنګه چالانیږي.

له هغه وروسته بولندوی وویل " موټروان غره ته و خیږوئ او هلته یې په ډزو ووژنـئ." وسله والو له لاسه و نیولم چې په دوی پسې ور شم. د لارې په منځ کې د غره په پورتنۍ برخه کې یوه زاړه سړي ولیدلم او وېې ویل " څه پیښه ده؟ " ما له هغه وغوښتل چې له ما سره مرسته وکړي. توپکوالو په شا ټیل وهلم چې پر مخ ولاړ شم. زاړه سړي کښته

Download from: ketabton.com

د بولندوی خواته منډه کړه ، داسې ښکاريدل چې نوموړي پر بولندوی اغيزه درلودله. [ ښايي د هغه د سپين روب توب له کبله] . بولندوی خپلو سرې ته په لوړ غږ وويل :" مه يې وژنـئ ، خو ښه يې و ډبوئ " توپکوالو په ډبولو پيل وکړ. ښه يې و ډبولم او په ډبولو کې زه بې هوښه شوم. کله چې بېرته په هوښ راغلم هغوی زما ساعت له لاسه ايستلی وو ، زه په غره کې يوازې وم. له غره راکښته شوم او ځان مې د سړک غاړې ته ورساو ، يوه موټر ته مې لاس ورکړ او له هغوی مې وغوښتل چې ما تر ښار پورې و رسوی. بيا مې يو ريکشا و نيو چې ما تر کوره ورسوي ، په لاره کې هره شېبه بې هوښه کيدلم ، کله چې د دروازې خولې ته ورسيدلم ، کورنی مې راغله او زه يې ځنځولی په ځولۍ کې کورته ننه ايستلم".

-----------------------------------------------

[1] Human Rights Watch interview with three merchants near Bala Hissar, Kabul, July 13, 2003

(describing Hezb-e Islami troops stealing from the bazaar).

[2] Malcolm Davidson, �New government struggles to halt Kabul fighting,� Reuters, April 30, 1992

and Sharon Herbaugh, �Anarchy rules in independent Afghanistan,� Associated Press, June 1, 1992

(describing looting of diplomatic offices and residences).

[3] Final Report on the Situation of Human Rights in Afghanistan, prepared by Felix Ermacora,

Special Rapporteur on Afghanistan for the U.N. Commission on Human Rights, February 18, 1993,

U.N. Document E/CN.4/1993/42, para. 19.

[4] Human Rights Watch interview with Steve Coll of the Washington Post, April 24, 2004; Human

Rights Watch interview with Jeremy Bowen of the British Broadcasting Corporation, April 12, 2004;

Human Rights Watch interview with Mark Urban of the British Broadcasting Corporation, April 29,

Download from: ketabton.com

2004. See also, �Kabul leaders seek to restore city: but rocket attacks, looting go on as interim council

meets,� Los Angeles Times, May 1 1992. See also Derek Brown, �Rebel chief bombards Kabul homes,�

The Guardian, May 5, 1992; �Afghan city plagued by armed gangs,� Reuters, June 20, 1992.

[5] Human Rights Watch interview with Y.U., Afghan journalist, Kabul, July 8, 2003.

[6] Human Rights Watch telephone interview with Jeremy Bowen, correspondent with the British

Broadcasting Corporation in Kabul in 1992, April 12, 2004. Mark Urban, another journalist with

BBC, also told Human Rights Watch about looting in April and May of 1992, Human Right Watch

telephone interview with Mark Urban, correspondent with the British Broadcasting Corporation,

April 29, 2004.

[7] Human Rights Watch interview with U.J., former Junbish official, July 13, 2003. This is consistent

with testimony taken from another official in the interim government in 1992-1993: Human Rights

Watch interview with C.S.A., former government security official, July 18, 2003.

[8] Human Rights Watch interview with J.G.M., former official in Shura-e Nazar 1992-1996, Kabul,

July 10, 2003.

[9] Human Rights Watch interview with R.N., photojournalist, New York, December 18, 2004.

Download from: ketabton.com

[10] Herbaugh, �Anarchy rules in independent Afghanistan,� June 1, 1992.

[11] Human Rights Watch telephone interview with Mark Urban, correspondent with the British

Broadcasting Corporation, April 29, 2004.

[12] Human Rights Watch interview with U.J., former Junbish official, Kabul, July 13, 2003; Human

Rights Watch interview with M.O.Q., former military official in Junbish, Kabul, July 17, 2003; Human

Rights Watch interview with J.G.M., former government security official in 1992-1993, Kabul, July 10,

2003; and Human Rights Watch interview with S.A.R., former Shura-e Nazar official, Kabul, July 11

and 20, 2003.

[13]دغه نومونه د جنبش د بولندویانو دي چې په ۱۹۹۲ � ۱۹۹۳ ز کال کې بولندویان ول. یوازې شیر عرب لا تر اوسه ژوندی دی. شاهدانو د بشري حقونو د څار ټولنې ته وویل چې نوموړی اوس په ډنمارک کې ژوندی کوي .

[14] Human Rights Watch interview with M.O.Q., Kabul, July 17, 2003

[15] Human Rights Watch interview with S.A.R., former Shura-e Nazar official in 1992, Kabul, July 11,

2003.

[16] هماغه

[17] Human Rights Watch interview with S.A.R., Kabul, July 20, 2003.

[18] Human Rights Watch interview with J.J.E, civil society leader, Kabul, July 10, 2003.

[19]هماغه

Download from: ketabton.com

[20]هماغه

[23] Human Rights Watch interview with F.R.G., Kabul resident, Kabul, July 3, 2003.

Download from: ketabton.com

## له نړیوال بشري قانون څخه سرغړونه

مخکې مو هم په دغه گزارش کې وویل چې په لوی لاس د ملکي وګړو او د ملکي بنسټونو په نخښه کول له نړیوال بشري قانون څخه سرغړونه ده او کیدای شي د جنګي جنایت په نامه وبلل شي. د دې ترڅنګ د ژنیوا په څلورو کنوانسیونو کې دریمه ماده ځای پر ځای ده چې غیر نړیوالو وسله والو نښتو ته ځانګړې شوې ده ، دغه ماده غواړي چې له ملکي وګړو او بندیانو سره دې انساني چلند وشي. په وچ زور یو څوک له خپلواکۍ څخه بې برخې کول ، وژل ، ځورول ، جنسي تیری او نور ناوړه چلندونه ددې مانا ښندي چې له دغې مادې څخه سرغړونه کیږي. نړیوال بشري قانون " لو ټماري " او داړه ماري هم په کلکه غندي ، د دغې مادې په تعریف کې راغلي چې لوټماري د یو چا یا ددښمن د شخصي شتمنۍ غلا ده چې په وچ زور اخیستل کیږي او هم د نورو غلاوو بڼې یې په خپل تعریف کې رانغاړلي دي .

د ژب توکمنیز یا هغه ته د ورته بیلګو پر بنسټ وژنه ، ناوړه چلند او په ناقانونه توګه له خپلواکۍ څخه د ملکي وګړو بې برخې کول ( او هم د نیول شویو یرغملو وهل ، ځورول ) د ژنیوا د څلورو واړو کنوانسیونونو له څلورمې ماده څخه سرغړونه ده. د دې ترڅنګ په سیستماتیک ډول سړې تښتونې ، وژنې او " تري تم کېدنې " چې په ملکي وګړو او پرګنو د برید یوه برخه وي لکه برید پریوه توکم او نور ، د بشریت پر ضد جنایاتو کې شمیرل کیږي] .1[

موږ د همدغې مادې د بشپړوونکې یوې برخې په توګه د وحدت او اتحاد د ځواکونو ډیرې بیلګې وړاندې کړې او و مو ویل چې د نجیب الله د واکمنۍ د پرځېدنې په لومړي کال او له هغه په را وروسته کلونو کې یې په زرګونه کسان تښتولي دي. ستونزه دا ده چې ډیری نیول شوي کسان بیرته نه دي خوشې شوي او بیا یې چا مخ نه دی لیدلی او دا په څرګنده دې ته نغوته کوي چې هم د اتحاد او هم د وحدت ډلې ددغو تښتول شویو بندیانو له منځه په زرګونو بې ګناه ملکي وګړي وژلي دي. همدارنګه هغه بندیان چې ژندوي پاتې دي یا خوشې شوي دي وایي چې له ټولو سره ناوړه غیر انساني چلند شوی او وهل شوي دي. د وحدت او اتحاد د ډلو او ځواکونو له پلوه تر سره شوې وژنې ، ناوړه چلندونه ، له خپلواکۍ څخه د ملکي وګړو بې برخې کول او هر اړخیزه پراخې وژنې ښایي د بشریت پر ضد جنایاتو کې وشمیرل شي.

د اتحاد مشر سیاف ته په پورتنیو تیریو او سرغړونو کې د یو مرکزي کرکتر په توګه نیغ په نیغه ګوته نیول کیږي ځکه نوموړي د اتحاد د ځواکونو وروستنی څارونکی او کنترولوونکی وو.له سیاف سره په ټلواله کې د رباني د دولت د ۱۹۹۲ � ۱۹۹۳ ز کلونو چارواکو د بشري حقونو د څار ټولنې ته ومنل چې سیاف د اتحاد د ځواکونو د لوړ پوځي بولندوی په توګه له خپلو ټولو بولندویانو سره ورځنۍ اړیکې درلودلې او هغه دا واک درلود چې خپلو تر لاس لاندې کسانو باندې د بندیانو د خوشې کولو امر ورکړي او په حقیقت کې نوموړي په څو پیښو کې دغه کار کړی دی ، دا

Download from: ketabton.com

په دې مانا ده چې سیاف پر دغو بولندویانو د قوماندې واک درلود.[2] په ۲۰۰۳ز کال کې د بشري حقونو د څار ټولنې ته د کابل په لویدیځ کې روغتیاپالانو وویل چې یو شمیر ځانګړې قضیې وې چې په هغو کې د سره صلیب نړیوالې کمیټې له سیاف سره د بندیانو د خوشې کولو په اړوند خبرې کړې دي او دا یو ځل بیا په دې ټینګار کوي چې سیاف په خپلو تر لاس لاندې کسانو باندې کنترول درلود.[3] د بشري حقونو د څار ټولنې له هغو کسانو سره هم مرکې کړې دي چې د خپلو خپلوانو د خوشې کولو لپاره سیاف ته ورغلي او له هغه سره یې خبرې کړې دي.[4] او کله چې د ۱۹۹۲ز کال د جون په میاشت کې په کابل کې له خبریالانو سره مخامخ شو او سیاف څخه د سړې تښتونو په اړه پوښتنې وشوې ، سیاف انکار و کړ چې د اتحاد ځواکونو دې هزاره ګان تښتولي وي خو دې ته یې نغوته وکړه چې وحدت د ایران د دولت یو ایجنټ دی[.5]

موږ د اتحاد د نورو بولندویانو په اړه ډیرو پراخو څیړنو ته اړتیا لرو چې په سړي تښتونو او ځورونو کې د هر یوه ځانګړې ونډه و پلټو. د اتحاد د یو شمیر ځانګړو بولندویانو لکه شیرعلم ، ملاعزت ، زلمي توپان ، عبدالمنان ، ډاکټر عبدالله او نور آغا پر ونډې ، ځانګړې پلټنې ته اړتیا لري ، زموږ په راپور کې د مرکو په ترڅ کې د دوې نومونه ډیر راغلي دي چې په سړي تښتونه ، بندي کولو او پر بندیانو په اجباري کارونو کې یې ونډه درلودله.[6] لاندې مو په څلورمه برخه کې د سیاف او د هغه د بولندویانو د شونی قانوني پازوالۍ په اړه سپړنې کړي دی چې په دغه ګزارش او نورو ځایونو کې د ځورونو او سرغړونو بڼې یې راغلې دي .

پورته مو د وحدت د ګوند مشر مزاري په اړه یو شمیر یادونې وکړې. هغه په ۱۹۹۵ ز کال کې ووژل شو . مزاري او د هغه مرستیال کریم خلیلي ( د افغانستان د اوسني ولسمشر مرستیال ) دواړو له رویټر او اسوشیـئـتد پرس سره منلي ول چې هغوی ډیر پښتانه ملکي وګړي بندیان کړي دي.[7] مزاري له خپل دریځ څخه په دې پلمې ننګه وکړه چې د اتحاد سرتیرو هزاره ګان بندیان کړي دي.[8] ( مزاري وروسته دا هم منلي ول چې بندیان په کورونو کې ساتل کیږی ، هغوی ته ډوډۍ ، اوبه او خوراک ورکول کیږي او نه ځورول کیږي )[ 9]

د وحدت د بولنې " قوماندې " او کنترول د جوړښت په اړه او هم د وحدت د هغو بولندویانو د قانوني عدلي تعقیب لپاره نورو پلټنو ته اړتیا شته چې تر اوسه ژوندي دي. د وحدت د ګوند د پریکړو او د ګوند په پوځي کنترول کې د کریم خلیلي د ونډې او ښکیلتیا په اړه نورو پلټنو ته اړتیا لیدل کیږي. شفیع دیوانه او نصیر دیوانه دواړه وژل شوي دي خو تورکمني ، محسن سلطاني ، طاهر توپان ، صداقت جاغوري او بولندوی بهرامي لا تر اوسه ژوندي دي او په هغو سرغړونو کې دې د دوی ونډه و پلټل شي چې یې دلته راټول شوي دي. موږ په څلورمه برخه کې د وحدت د بولندویانو د قانوني پازوالۍ او په سرغړونو کې د هغوی د ونډې په اړوند نورې خبرې هم لرو.

د سړي تښتونو ، یرغمل نیولو او وژنو ترڅنګ دې د هغو لوټماریو ، داړه ماریو، غلاوو او شوکو په اړه هم هراړخیزه پلټنه وشي چې په دغه مهالیز واټن کې تر سره شوي او موږ پورته یو شمیر کوشنیو برخو ته یې نغوته وکړه. د ټولو

Download from: ketabton.com

ځواکونو او ډلو د بولندويانو نومونه چې پورته ياد شول له هغو څخه دې په شوکماريو ، داړو ، ډاکو ګريو او لوټلو کې د ښکيلوالی پوښتنې او پلټنې وشوي .

[1]د ژنيوا د څلورو واړو کنوانيسيونو د دريمې مادې او په نړيوال قانون کې د نورو بنديزونو لپار لاندې څلورمه برخه وګورئ .

[2] Human Rights Watch interview with S.A.R., former Shura-e Nazar official in 1992, Kabul, July 11,

2003; Human Rights Watch interview with R.D., former official in the interim government 1992-

1995, Kabul, July 16, 2003; Human Rights Watch interview with C.S.A., former government security

official, July 18, 2003.

[3] Human Rights Watch interview with H.K., aid worker, Kabul, July 5, 2003; Human Rights Watch

interview with S.K., Afghan medical worker in Karte Seh (West Kabul) during early 1990�s, Kabul,

July 9, 2003.

[4] Human Rights Watch interview with L.R.G., Kabul, July 3, 2003.

[5] Roche, �Kabul fighting erupts again despite ceasefire, � Reuters, June 4, 1992

[6]پورته مو د "بندي شويو او تري تم شويو " کسانو څو بيلګې وړاندې کړې دغه تورونه دې ته نغوته کوي چې په دغه ګزارش کې د ويل شويو تري تم کيدنو ، بندي کولو او ځورنو د پازوالۍ تورونه د نوموړو بولندويانو پر غاړه ور پريوزي .

[7] Andrew Roche, �Kabul fighting erupts again despite ceasefire,� Reuters, June 4, 1992; Sharon

Download from: ketabton.com

Herbaugh, �Civilians tell of captivity, torture by rebels,� Associated Press, June 6, 1992.

[8] Roche, �Kabul fighting erupts again despite ceasefire,� June 4, 1992.

د ژنیوا د ۱۹۴۹ز کال د څلورو کنوانسیونونو دریمه ماده چې غیر نړیوالو وسله والو نښتو ته ځانګړې شوې ټینګار کوي چې هېڅ څوک دا حق نه لري چې غچ اخیستنې ته لمن ووهي او دا یې هغه غیر قانوني چلند بللی دی چې سیال ځواکونه یې د یو بل پروړاندې کارَوي ؛ نوموړې ماده غلیمې خواووې دې ته اړ باسي چې نړیوال بشري قانون ته درناوی وکړي. د بېلګې په توګه، دریمه ماده ناوړه غیر انساني چال چلند لکه سرې تښتونه " هر چیرې ، هر وخت او تر هر نامه لاندې چې وي" په کلکه غندي .

[9] Herbaugh, �Civilians tell of captivity, torture by rebels,� June 6, 1992.

Download from: ketabton.com

## جنسي تيري او جنسي ځورونې:

د بشري حقونو د څار له ټولنې سره د کابل ډېريو روغتياپالانو د مرکو په لړ کې وويل چې په ۱۹۹۲ او ۱۹۹۳ ز کلونو کې د وحدت او اتحاد د ډلو او ځواکونو له پلوه جنسي تيري او د جنسي ځورونو نور ډولونه په ځانګړې توګه پر ښځو تر سره شوي دي ،دغه ډول تيري او ځورونې کابل ته په ور څيرمه سيمو کې د دغه پـَيـر د دښمنيو پر مهال هم تر سره شوي دي.[1] د بشري حقونو د څار ټولنې ونه شواى کولاى د دغه مهال د جنسي تيريو له ډېريو بلهاريانو " قربانيانو " سره مخامخ خبرې وکړي ځکه نجونې او ښځې دغو ډول مرکو ته دومره ليوالتيا نه لري او يا يې د کورنۍ غړي نه پريږدي چې په دې اړوند خبرې وکړي. خو د دغو پيښو شاهدان او لاسوندونه شته. موږ مخکې له ح. ک څخه يادونه وکړه چې د دغه پير د پيښو پيښليکنيزه بڼه يې ليکلې ده او موږ پورته نغوته وکړه چې د هغه پروژه د پيښو ، سرې تښتونو ، لوټماريو په لاسوندولو راڅرخيدله ، نوموړي د بشري حقونو د څار ټولنې ته وويل هغو پلټونکو چې د ۱۹۹۰ز لسيزې په پيل کې د دغو ډول پيښو په اړه پلټنه کوله پوهيدل چې د کابل په لويديځ کې سرې تښتونه او پر ښځو جنسي تيري خپلې لوړې کچې ته رسيدلې ، خو هغه زياته کړه چې ډېري کورنۍ دې ته چمتو ته دي چې په دې اړوند ډېر مالومات ورکړي.

" په داسې پيښو کې د ښځو د تښتولو او يا پر هغوى د جنسي تيريو په اړه د مالوماتو را ټول نه شونى ول. د تښتول شويو ښځو کورنۍ او يا هغوى چې تښتول شوي دي د کورنۍ نوم او وياړ له ويرې نشي کولاى د هغه جنايت په اړه خبرې وکړي چې پر دوى تير شوى دى. کورنۍ په لوى لاس انکار کوي چې که چا د دوى له کوره چا ښځه تښتولې وي ، يا نه غواړي چې د دغو پيښو په تړاو خبرې وکړي ؛ دا ځکه چې افغان کورنۍ ډېرې محافظه کارې دي. نورې کورنۍ پوهيږي چې په کومې کورنۍ کې څه تير شوي دي ، په دغو کورنيو کې داسې کيسې ډېرې دي چې د نورو کورنيو د ښځو د تښتولو په اړه خبرې دي . ما ته به ډېرو کسانو ويل چې " هغه کورته ګورئ ، د سرک په دغه يا هاغه غاړه کور کې يوه ښځه تښتول شوې وه" خو کله موږ هغې کورنۍ ته ورتللو او له هغو څخه مو پوښتنه کوله هغوى انکار کاوه او ويل يې چې هېڅ نه دي پيښ شوي. داسې ځوابونه تل او هر چيرې را کول کېدل. يو شمير کورنيو منله چې د هغوى له کوره هلک تښتول شوى يا پر هغه جنسي تيرى شوى خو د ښځو په اړه يې هېڅ نه ويل .

]2"[

د بشري حقونو د څار ټولنې له بيلا بيلو ژورناليستانو او د ټولنيزو چارو له کارکوونکو څخه بيلابيل مالومات ترلاسه کړل او ټينګار کوي چې له دوى سره د جنسي تيرو د پيښو لاسوندونه شته � په ځانګړې توګه د جمعيت ، اسلامي ګوند او وحدت د ډلو په اړه چې د خلکو پر کورونو ورننوتل او پر ښځو يې جنسي تيري کول.[3] همدا شان د بشري حقونو د څار ټولنې ته د جمعيت ، وحدت او جنبش ځواکونو د جنسي تيريو په اړه د ډاډ وړ مالومات را رسيدلي

Download from: ketabton.com

دي.[4] مخکې مو د کابل په لویدیځ کې له روغیتا پالې س. ک ښځه یادونه وکړه ، نوموړې وایي چې هغې د داسې میرمنو درملنه کړې ده چې په ۱۹۹۲ � ۱۹۹۳ زکلونو کې د کابل په لویدیځ کې پرې جنسي تیري شوي ول � هغه زیاتوي چې دوی د سړکونو له مخې د ډیرو وژل شویو میرمنو جسدونه راټول کړي دي � د هغوی له جسدونو ښخه په ښکارندې ښکاریدل چې پر هغوی جنسي تیري شوي ول. [5]

د نجیب الله د واکمنۍ له را پرځېدا وروسته په کابل کې د بیلا بیلو ډلو د سرتیرو له پلوه د بې شمیرو تر سره شویو جنسي تیریو پراخې پلټنې ته اړتیا شته. د لاسوندونو پر بنسټ په دغه مهالیز واټن کې جنسي تیرې د یوې ساري روحي ناروغۍ په بڼه د ډلو د ځواکونو د سرتیرو او بولندویانو په منځ کې خپره شوه ، په دې کې د لوړې کچې بولندویان هم شته ، او داسې بریښي چې ځواکمنو بولندویانو د هغې په مخنیوۍ کې وړَند او اړین ګامونه له اره نه دي اوچت کړي. په ځینو پیښو کې لوړ پوړي بولندویان په خپله ښکیل ول. [6]

------------------------------------------------------

[1] Human Rights Watch interview with S.K., Afghan medical worker, Kabul, July 9, 2003; Human

Rights Watch interview with H.K., aid worker, Kabul, July 5, 2003.

[2] Human Rights Watch interview with H.K., aid worker, Kabul, July 5, 2003.

[3] �Human Rights Watch interview with Y.U., journalist, Kabul, July 8, 2003 (documented rape of

women by Hezb-e Islami forces); Human Rights Watch interview with J.J.E, civil society leader,

Kabul, July 10, 2003 (documented case of three women raped by Jamiat forces in Micrayon); Human

Rights Watch telephone interview with John Jennings, Associated Press correspondent in Kabul 1992-

1993, April 8, 2004 (describing evidence of rape by Wahdat). Terence White, a journalist with Agence

Download from: ketabton.com

France-Presse, also documented cases of rape of Afghan women by various mujahedin forces in 1992

and 1993. See Terence White, �Afghan women protest outside UN office as Turks evacuate Kabul,�

Agence France-Presse, February 9, 1993.

[4] Human Rights Watch interview with J.G.M., former government security official in 1992-1993,

Kabul, July 10, 2003 and Human Rights Watch interview with S.A.R., former Shura-e Nazar official,

Kabul, July 11 and 20, 2003 (admitting Jamiat forces were regularly implicated in rapes); Human

Rights Watch interview with K.M.B., former combatant who served under Ittihad forces, Kabul, July

4, 2003 (witnessed women who said they were raped by Wahdat); Human Rights Watch interview

with C.S.A., former government security official, July 18, 2003 (documented rapes by Junbish).

[5] Human Rights Watch interview with S.K., Afghan medical worker in west Kabul during early

1990�s, Kabul, July 9, 2003. S.K. described a typical case of a woman she found on the street in Karte

She, in west Kabul: �A Pashtun; she had some tattoos on her face. She had been killed, and she had

been tortured, you could see, and raped. We picked her up and took her to the hospital. . . .� Ibid.

Download from: ketabton.com

[6] For more information on the specific legal standards of international humanitarian law applicable

to rape and the culpability of individual commanders, *see* section IV below.

Download from: ketabton.com

## ب : ۱۹۹۲ ز اکتوبر  ۱۹۹۳ ز فبروري

د ۱۹۹۲ز کال د اګست د ګولیو او راکټونو له وریا وروسته کابل د هغې مېاشتې په پرتله دومره ونه کړېده ، خو د کال تر وروستیو شپو ورځو پورې د ښار په هره برخه کې به هره ورځ د توپونو ګولۍ  او پریمانه توغندي لګېدل.

د پېښاور د تړون پر بنسټ د اکتوبر په مېاشت کې د مشرتابه واکمنې سلاکارې ډلې " قیادي شورى " پریکړه وکړه چې د رباني واکمني دې تر نورو ۴۵ ورځو د همدغه کال د د سامبر ترپایه پورې و غځوي ، دا ځکه چې دوبَـنـیـو جګړو د شورې د غونډو ناستې ناشونې ګرځولې وې. د جمعیت ډلو د کابل پوهنتون په را څېرمه سیمو کې د وحدت له ډلې سره کلکې جګړې وکړې ، دغو جګړو نور ځاني او مالي تاوانونه را منځته کړل. له بلې خوا داسې نښې نښانې را څرګندې شوې چې د دوستم جنبش ډلې د حکمتیار له اسلامي ګوند سره د غاړې غړۍ کېدنې خبرې را پیل کړې وې ، له دې مخکې د حکمتیار ډلې په پیل کې له دوستم سره مخالفت کاوه او له مسعود سره په مخالفت کې دوستم یې د یوې پلمې په توګه کاراوه [ دوستم د پخواني ړنګ شوي کمونیست دولت یو چارواکی وو]

د ۱۹۹۲ز کال د سامبر په مېاشت کې رباني ځانته بیله جرګه " شورى " جوړه کړه ، نوموړی جرګې د پېښاور د تړونونو پربنسټ پر قیادي شورى غږ وکړ چې نوی دولت دې جوړ کړي � یا دې رباني د دویم ځل ټاکنه ومني.  خو ستونزه دا وه چې د ربانۍ جرګې په جګړې کې د ټولو ښکیلو خواوو استازیتوب نه شواى کولاى او نه یې د افغانستان د ټول ولس استازیتوب کاوه. ان د ده په شورى کې ډېریو رابلل شویو استازو د رائـیې له ورکړې څخه ډډه وکړه، ان په دغو استازو کې د جنبش ، وحدت او اسلامي ګوند استازو هم ګډون وکړ خو رائـیه یې ور نه کړه. هر ګوره ، د رباني په جرګه کې استازو چې د ملا رباني ملاتړي او د هغه خپلې ملیشیاوې وې ټینګار وکړ چې رباني دې د نورو راتلونکو اته لسو مېاشتو لپاره د ولسمشر په توګه و ټاکل شي او په دې توګه یې رباني یو " ځل بیا " و ټاکه . حکمتیار د جرګې پریکړه و غندله او ژمن وو چې په څو راتلونکو مېاشتو کې به د رباني دولت را وپرځوي او د مسعود ځواکونه به په شا و تمبوي. وحدت هم د رباني نوی دولت و غانده او په لنډ وخت کې یې له حکمتیار او جنبش سره ټلواله جوړه کړه. جنش په دغه ټول مهال کې کله یوې خوا اوښته او کله بلې خوا] .1[

## ۱۹۹۳ ز کال ، جنوري  فبروري ، جګړې دوام لري

د ۱۹۹۳ زکال د جنوري د ۱۹ نېټې په اونۍ کې د جمعیت ، اسلامي ګوند � وحدت ترمنځ د جګړو اور رمباړلې وهلې. د همدغې اونۍ په پیل کې د جمعیت ځواکونو د کابل په سویل او سویل ختیځ کې د اسلامي ګوند په بیلا بیلو مورچلونو بریدونه وکړل او د حکمتیار ځواکونو په ځواب کې د ښار پر مرکز د توپ د ګولیو او توغندیو وریا

Download from: ketabton.com

پیل کړه. [2] د اونۍ په وروستیو کې د کابل په لویدیځ کې د وحدت او جمعیت ترمنځ د کانتیننټال د هوټل په شا او خوا ، د غره په لویدیځ کې په یوې پراخې کرهنیزې سېمې کې د سیلو په شا او خوا او نورو ځایونو کې کلکې نښتې رامنځته شوې. اوس هغه مهال وو چې د وحدت او اسلامي ګوند ځواکونو یو بل ته په جګړو کې اوړه و رکوله]3.[

دواړو ښکیلو خواوو ، جمعیت له یوې خوا ، د اسلامي ګوند او وحدت ټلوالې له بلې خوا خبریالانو ته خپلې اعلامېې ورکړې � دواړو خواوو د دښمنیو د بیا پیلولو تورونه پر یو بل لګول] .4[

له یو شمیر روغتیاپالانو او خبریالانو سره د بشري حقونو د څار د ټولنې د مرکو پربنسټ او هم د هغو مرکو پر بنسټ چې نوموړو خبریالانو او روغتیا پالانو له نورو سره په دغه مهال کې کړې وې ،چې د راتلونکو درېو اونیو جګړو په لړ کې د کابل د ښار په زرګونو اوسیدونکي ټپیان او ووژل شول. په کابل کې د تورکیې ، ایران ، چین او هندوستان د ډیپلوماټانوپه ګډون یو شمیر ډیپلوماټان او د ډیپلوماټیکو دفترونو کارکوونکي له کابله ووتل .

د اونیو په تېرېدو جګړه لا پراخېدله او ډیره کرغېړنه شوه. هغو ژورنالیستانو چې د کابل په لویدیځ کې کارکاوه د بشري حقونو د څار نړیوالې ټولنې ته وویل چې په روغتونونو کې نور د ناروغانو لپاره ځای نه وو هره ورځ به بې شمیره ټپي ملکي وګړي او پوځي ناروغان راوړل کېدل. ډیري ټپیان تر روغتونه نه را رسیدل او په لاره کې مړه کېدل. یو ژورنالیست چې د ښار له مرکزه به د کابل تر لویدیځه د جګړو د ګزارشونو لپاره راته ، د جګړو ډیر کرغیړن اړخونه داسې په یاد لري :

دا یو بشپړ لیونتوب وو. پر سړکونو څوک نه ښکارېدل. د کابل د ښار او دارالامان ترمنځ سړک یو خونړی سړک وو ، هره شېبه به توغندي پرې ورېدل. ربښتونی او خونړۍ وحشت خپور وو. کله به چې له یوې خوا ډز وشو ، نو هر څوک به پوهېدل چې ډز له کومې خوا وشو.

کله به چې څوک د کابل سویل چهارآسیاب ته تلل نو د لارې په اوږدو کې به یې د حکمتیار د توغندي ویشتونکو لیکې لېدلې. د وزیر اکبر خان شاته د بي بي مهرو د غونډۍ له پاسه هم همدا حال وو او هره شېبه به توغندي لګېدل. د پیښو لړۍ دومره ډیرې وې چې موږ به د خبریال په توګه پریکړه کوله چې هرې یوې ته مو زړه غوښتل ورتللو او له خلکو سره مو مرکې کولې یا به مو د رامنځته شوې پیښې ویډیویي انځورونه اخیستل. موږ ډیرې کرغیړنې پیښې په سترګو ولیدلې. هرې خوا ته به مړي پراته ول ، هر لورته دې چې کتل ټپیان ول ، د سړک پر څنډو جسدونه خواره واره لیدل کېدل. یوه ورځ مې د یوه ماشوم د بدن پاتې شوې غوښې ولیدلې چې پرځمکه پروت وو. یوه بله ورځ مو یو ټپي هلک موټر ته را پورته کړ ، هغه ملکي هلکی وو ، ډډه یې سورۍ شوې وه. ما ډیر له وحشته ډک او کرغیړن شیان لیدلي دي. ددغه هلک له ټپ څخه بویونه تلل ، بیا مو د موټر شاته په ټول بکس کې واچاو او روغتون ته مو ورساوه. ډیر ککړ بوی یې کاوه. ګومان نه کوم چې هغه دې ژوندی پاتې شوی وی] .5[

Download from: ketabton.com

د جګړې د دوارو خواوو ډيري توغندي او د توپونو ګولۍ به هره ورځ د ملکي وګړو پر سيمو موښتل او ډيري ناروغان چې روغتون ته راوړل کېدل ملکي وګړي ول[6.]

په جګړو کې د وژل شويو کسانو روښانه شميره نه ده څرګنده خو په کابل کې د هاغه وخت ژورنالېستان په دې بريالي شوي چې د ورځنيو شميرو اټکلنه را ټوله کړي :

- د جنورۍ په ۱۹ نېټه د فرانسپرس خبري ايجنسۍ ته د روغتيايي چارو يوه چارواکي ګزارش ورکړ چې د ښار مرکزي روغتون ته ۲۳ تنه ټپيان راوړل شول او ۸ تنه يې مړه شول[7.]

-د رويټر د ژورناليست د راټولو شويو ګزارشونو له مخې يوازې د وزير اکبرخان په روغتون کې لږ تر لږه ۴۱ ناروغان منل شوي ، ۱۰ تنه په ورځيرمه پوځي روغتون کې مړه شوي (دلته ډير ټپيان راوړل شوي) ، د جمهوريت په روغتون کې ۲٦ تنه ټپيان ، چې څلورتنه يې مړل شول. [8] د جمهوريت د روغتون ډاکټر سيدعمر ژورناليستانو ته وويل " دا درانده توپونه دي او چرې يې انسان ټوټې ټوټې کوي.... نن موږ ته تر ټولو بد سهاررا په برخه شوی وو[9."]

-د ۱۹۹۳ ز کال د فبرورۍ د مياشتې په اتمه نېټه د اسلامي ګوند او د وحدت د ډلې ځواکونو دوارو د ټولې ورځې په اوږدو کې د جمعيت پر مورچلونو د توغنديو بريدونه وکړل ، په دغه بريد کې د ښار په مرکز او ختيځو سيمو کې د ملکي وګړو سيمې هم وويشتل شوې ، له بلې خوا د بي بي مهرو ، او د وزيراکبر خان د غونډيو له پاسه د جمعيت د ډلې ځواکونو د ښار سويلي برخې د اسلامي ګوند د مورچلونو په ګډون په توغنديو وويشتلې. د کابل پر دغو ځايونو توغندي مښتلي ول : مکروريان ، وزيراکبرخان ، د کابل ټول لويديځ ، د ټلويزيون د غره په لمنه کې پراته کورنه ، په دغو بريدونو کې په سلګونو ملکي وګړي ووژل شول. د جمعيت او د اسلامي ګوند د ځواکونو ترمنځ د روسيې سفارت ته نيږدې او هم د ولسمشرۍ د ماڼۍ تر څنګ د نښتو ګزارش ورکړل شوی دی. په دغه ورځ د وزير اکبر خان روغتون ، د ۲۰ تنو د مړه کېدلو او ٦۰ تنو د ټپي کېدلو ګزارش ورکړ ؛ يوه ژورناليست د روغتون په دالانونو کې ډير کريدونکي ټپيان اود موټرو په تمځای کې بې شميره مړي ليدلي دي ، ټپيان ټول د توغنديو په چَرو لګېدلي ول. ډاکټر محمد قاسم ، خبريال ته وويل : " دا د جګړو له پيله تر ټولو لوړه شميره ده ." [10] په نورو روغتونونو کې روغتياپالانو د مړيو شميره نه شوای اخيستای. يوې رنځورپالې بل ژور ناليست ته ويلي ول چې : " موږ د مړيو د شميرلو لپاره وخت نه لرو ،موږ ډير بوخت يو ، موږ د ټپيانو ژوند ژغورو او اړ يو چې د هغوی پالنه وکړو[11"]

د فبرورۍ د لومړۍ اونۍ په پای کې د کابل د روغتيايي چارو مأمورينو د ۸۰۰ تنو د وژل کېدلو د ۳۵۰۰ تر ۴۰۰۰ تنو پورې د ټپي کېدلو ګزارش ورکړ چې د ۱۹۹۳ ز کال د جنورۍ د مياشتې له ۱۹ وروسته تر دغه دمه يا وژل شوي يا ټپيان شوي دي � او دا يې هم ورزياته کړه چې ښايي د مړيو شميره نوره هم اوچته شي ځکه چې ډيري ملکي وګړي خپل مړي روغتونونو ته نه راوړي او يا د مړيو ګزارش روغتون ته نه ورکوي.[12] د آي سي آر سي مشر امين کوبل [13] ژورناليستانو ته وويل چې د فبرورۍ تر لسمې[14] نيټې پورې ۳٦۸ تنه ټپيان د کابل په روغتونونو کې منل

Download from: ketabton.com

شوي دي. د فبرورۍ په ۱۲ نېټه د آی سي آر سي د روغتون يوه ډاکټر د فرانسپرس د خبري ايجنسۍ يوه ژورنالیست ته وويل چې د ( ملکي او پوځي ) وګړو په ګډون ښايي په ټول ښار کې ۵۰۰۰ تنه وژل شوي وي] .15[

د کابل يوه استوګن چې د جګړې په لړ کې د کابل په لويديځ کې اوسيده ، د بشري حقونو د څار ټولنې ته د مرکې په ترڅ کې وويل :

"ډېرې بدې او ترخې شپې ورځې وې. هره ورځ به توغندي راتلل. د شپې له پلوه به د سیاف او جمعیت تر ولکې لاندې د کابل په لويديځ کې د پغمان په لمنه کې له پرتې قرغې څخه د توپ ګولۍ او د نورو درندو وسلو مرمۍ راتلې. او د جمعيت په ولکه کې د مأمورینو د کارتې د غونډې له پاسه به د توغنديو ډزې پيل شوې. د مأمورینو د کارتې د غره او غونډۍ له پاسه به يې افشار ويشته ،هغوی د غره ډډې ويشتلې ، هلته ټول د ملکي وګړو کورونه ول ، موږ په دغه موده کې د خپل کور ترځمکې لاندې خونې " زيرزمينۍ " کې اوسيدلو]" .16[

د کابل يو بل استوګن شاهد چې په هغه مهال کې د طب د پوهنځي محصل وو د بشري حقونو د څار ټولنې ته د کابل د لويديځ او مرکز په دواړو سيموکې د پيښو د حالت په تړاو داسې وويل :

"په دغه وخت کې زموږ په سيمو او ګاونډ کې ډېرې کلکې او ترخې جګړې روانې وې. ما داسې جګړې ډېرې لېدلې وې. موږ د نظار د شورى او د حکمتيار د توغنديو او د توپونو د مرميو او ډزو ډيرې بدې ورځې او وحشت وليد. پر روغتونونو هم توغندي مښتل ؛ خلک ټوټې ټوټې کېدل ، هرې خواته به ککرې ، لاسونه او پښې پرتې وې.

يو ځل يو توغندی د امنيت [ خاد � ژ ] پرروغتون ومښت ، موږ هلته په پوهنتون کې د امنيت د نشتوالي له امله خپلې زده کړې کولې... د سهار لس بجې وې. يو شمير ډاکټران ووژل شول ، يو شمير نجونې زده کوونکې هم ووژل شوې ، يوې نجلې خپل عصبي کنترول له لاسه ورکړ ځکه پر ککره يې د توغندي چره مښتې وه. يوه نجلۍ ړنده شوه. ما دغه ټول په رڼو سترګو وليدل � ما وليدل چې د يوه توغندي چرې څنګه يو انسان ټوټې ټوټې کوي.د توغنديو د مښتلو په پيښو کې ډېر خلک ووژل شول. توغندي د ښار له لويديځ لوري د ټلويزيون د غره له پاسه [ د کابل په زړه کې لوړه څوکه ، په دې مانا چې د کابل له سويل لويديځ څخه د حکمتيار له مورچلونو څخه] ويشتل کېدل] .17[

د کابل په لويديځ کې د افشار د سيمې يوه اوسيدونکي د بشري حقونو د څار ټولنې ته د مرکې په لړ کې وويل چې په ۱۹۹۳ زکال کې لومړی دده ورور ، وروسته يې پلار د توغنديو او توپونو د مرميو په چرو کې ووژل شول :

"د جنوري د مباشتې وروستۍ اونۍ وه ، شين سهار وو ، زه لا تر هاغه مهاله بيده وم ، زما مشر ورور کښته د څاه سر ته ولاړ [څاه د غره په لمن کې زموږ تر کور لاندې وه] ، ورور مې غوښتل کورته لږ اوبه راوړي..... ګاونډيان راځې او موږ له خوبه را پاڅوي او وايي کښته د هتۍ مخې ته ورشو ... موږ کښته شولو : اوه يا اته جسدونه د ځمکې پرمخ پراته ول ، جسدونه د يوبل تر څنګ د هتۍ مخ ته اېښودل شوي ول. ګاونډيو وويل چې د څاه تر څنګ يو

Download from: ketabton.com

توغندی مښتی وو او ورور مې پکې وژل شوی وو. په دغو شپو ورځو کې هر چيرې او هر وخت چاودنې کېدلې او توغندي هر چيرې موښتل....

موږ نشوای کولای مړی ښخ کړ ، هرې خواته توغندي مښتل ، چا له کوره دباندې پښه نه شوه ایښودلای.... کله چې شپه تياره شوه ، د کورڅنګ ته مو ښخ کړ. موږ له ځان سره اريکن او لمپې راوړې وې خو له ويرې مو نه شوای لګولې. چوپه چوپتيا وه ، موږ ځمکه و کيندله او د کوڅې ملا لنډه دعا وکړه. له هغه وروسته مو اريکن روښانه کړ ، تياره وه ، هيڅ شی مو په سترګو نه ليدل. د اريکن له روښانولو سره سم د مأمورينو د کارتې د غونډۍ له پاسه چې د جمعيت په لاس کې وه ډزې پيل شوې ، زموږ خواته نيږدې یو توغندی و موښته ، اريکن مو مړ کړ او مړی مو په تياره کې ښخ کړ. دا د نظار د شورى خلک ول چې ډزې يې کولې. هغوی به تل د مأمورينو له کارتې څخه ډزې کولې � هغوی به تل ملکي وګړي ويشتل. هغوی به پر هر چا ډزې کولې ، خو ډيرې ډزې به يې هغه مهال کولې کله چې د دريو يا څلورو تنو ډله يې وليدله) .18]

ددغه سړي پلار درې ورځې وروسته په يوه بريد کې ووژل شو :

"سهار مهال وو ، ډزې نه وې او حالت کرار ښکاريده. زړه مو غوښتل دباندې ووځو. موږ خوراکي توکو ته اړتيا درلوده. پلار مې دباندې ووت. کله چې پلارمې زموږ له غرني کوره کښته مخ په ځوړې روان وو ، د هغه ترڅنګ توغندی و مښت. پلار مې په هوا کړ او پر ځمکه يې وويشتت. يوه چره وربانديې مښتې وه. په ډير بد ډول ټپی شوی وو. موږ ژړاوې پيل کړې ، موږ غوښتل چې هغه روغتون ته ورسوو ، خو ډير وينه ورڅخه بهېدله ، وينه نه دربېدله. هغه په وينو کې لېت پيت وو او سا يې ورکړه.... موږ غوښتل چې هغه ښخ کړو خو د هغه په ښخولو کې هغه کړاو پر موږ تير شو چې درې ورځې مخکې زما د ورور په ښخولو کې راپيښ شوی وو " .

د جنورۍ د مباشتې په وروستيو او د فبرورۍ د مباشتې په پيلنيو ورځو کې په زرګونو کابليان له خپلو کورونو څخه وتښتيدل. د بشري حقونو د څار ټولنې[19] له څو تنو کابليانو سره چې په هغه مهال کې يې خپلې کورنۍ له کابله دباندې ليږلې وې مرکه کړيده او ټولو د جګړو له امله سرټکونه کوله. " موږ د توغنديو د چرو له ويرې خپل کورونه پريښودل ، موږ د ډزو له ويرې خپلې شتمنۍ او کورونه پريښودل ، درندې وسلې وې ، هرې خواته ډزې کېدلې او هره شېبه توغندي مښتل." [20] يوه کابلي ښاري چې د فبرورۍ په مباشت کې يې خپل کور پرې ايښی وو د بشري حقونو د څارټولنې ته وويل : " د کابل په لويديځ کې به شوروي سکر توغندي مښتل ، توغندي هر چيرې په هوا ول... د توپونو ړندې ګولې او ړانده توغندي له توپيره پرته هر چيرې او د هر چا په ککره موښتل. زموږ ژوند خوندي نه وو له دې امله اړ شو چې دباندې ووځو[21]. په هاغه وخت کې ژورناليستانو ګزارش ورکړ چې د ملکي وګړو کتارونه پر سړکونو ليدل کيږي او غواړي له ښاره دباندې ووځي. يوه سړي چې په يوې لاسي کراچۍ کې يې د خپل

Download from: ketabton.com

کور شيان بار کړي ول د فبروری په نهمه يوه ژورناليست ته په لوړه ترخه ژبه وويل : " دغه مجاهدين موږ بيرته لومړی پيړی ته بيايي " .

--------------------------------------------

[1]اسير : علل سقوط پپ. ۹۱ � ۱۰۳ . سنگر : نيم نگاهي بر ائـتلافهای تنظيمي در افغانستان پپ : ۱٦۲ -۱٦۷

[2]د ۱۹۹۳ ز کال د جنوری د مياشتې د ۱۹ نېټې د اونۍ د جګړو په اړه مالومات د هغو پراخو مرکو پربنسټ راټول شوي چې په کابل کې مو د جګړو له شاهدانو ، افغانو او نړيوالو ژورناليستانو ، د مرستندويو ټولنو له کارکوونکو ، د بيلا بيلو ډلو له چارواکو او نورو شاهدانو سره تر سره کړي دي چې د پيښو په اړوند يې مالومات درلودل

[3]په ۱۹۹۳ ز کال کې د دفاع وزير مسعود تر لاس لاندې د جمعيت رسمي چارواکي يونس قانوني د فبروری د مياشتې په لومړۍ اونۍ کې خبريالانو ته وويل چې اوس د اسلامي ګوند او وحدت ترمنځ د جوړې شوې ټلوالې کړۍ مخ په ماتيدو ده

[4] Terence White, �Rebel faction holds out under pressure from government,� Agence France-Presse,

January 20, 1993 (�government� and �Hezb� officials quoted); Terence White, �South Kabul under intense rebel bombardment, many casualties,� Agence France-Presse, January 21, 1993 (quoting

�government� officials); Suzy Price, �Hundreds of casualties in Afghan fighting,� Reuters, January 21,

1993 (quoting �government� and �Hezb� statements); and Suzy Price, �Rebel Afghan chief attacks

Kabul for the 19th day,� Reuters, February 6, 1993 (quoting Yunis Qanooni and Abul Ali Mazari).

[5] Human Rights Watch interview with Suzy Price, correspondent for the British Broadcasting

Corporation and Reuters, New York, April 1, 2004.

Download from: ketabton.com

[6] Human Rights Watch telephone interview with Marc Biot, official at Jamhuriat hospital in Kabul in

1992-1993, July 10, 2004; Human Rights Watch interview with S.K., Afghan medical worker in west

Kabul during early 1990�s, Kabul, July 9, 2003.

[7] Terence White, �Rocket attack kills eight, Afghan troops suffer heavy losses,� Agence France-

Presse, January 19, 1993 (quoting hospital officials).

[8] Suzy Price, �Hospitals full as more rockets hit Afghan capital,� Reuters, February 4, 1993; Human

Rights Watch interviews with Suzy Price, New York, March 2004.

[9] هماغه

[10] Price, �Dozens killed, hurt in shelling of Afghan capital,� February 8, 1993.

[11] Jennings, �Fighting intensifies in Afghan capital,� February 8, 1993.

[12] Price, �Dozens killed, hurt in shelling of Afghan capital,� February 8, 1993; Jennings, �Fighting

intensifies in Afghan capital,� February 8, 1993.

[13] Armin Kobel, the chief of ICRC,

[14] Terence White, �Former Pakistan secret service chief arrives in Kabul,� Agence France-Presse,

February 10, 1993 (quoting Kobel).

Download from: ketabton.com

[15] Terence White, �No respite in Kabul rocket barrage, death toll close to 5,000,� Agence France-

Presse, February 12, 1993.

[16] Human Rights Watch interview with L.M., resident of Afshar, Kabul, July 12, 2003.

[17] Human Rights Watch interview with F.K.Z., resident of west Kabul, Kabul, July 9, 2003.

د ژباړونکي يادونه : د بشري حقونو د څار ټولنه بايد په دغه برخه کې سپيناوی وکړي او يا د دوی ژباړونکو ورته جمله سمه نه ده ژباړلې. د آشامايي يا آسمايي غر چې د کابل د زړه لوړه څوکه ده او خلک يې د ټلويزيون د غره په نامه بولي. دغه غر د مسعود په لاس کې وو نه د حکمتيار د ځواکونو په لاس کې. ښايي د ليکوال يا مرکه کوونکي موخه دا وي چې د کابل له سويل لويديځ څخه ويشتل شوی توغندی چې موخه يې د ټلويزيون د پوستو غر وو ، له خپلې نخښې اوښتی او د خاد پر روغتون منښتی دی .

[18] Human Rights Watch interview with Y.B.K., former resident of Afshar as a young boy, Kabul, July

[19] Human Rights Watch interview with A.S.F., resident of west Kabul, July 2, 2003.

[20]هماغه

[21]هماغه

Download from: ketabton.com

## پر افشار برید

د وحدت او اسلامي ګوند ټلوالې د رباني دولت ته نوی ګواښ رامنځته کړی وو ؛ وحدت لا وختي په یوازې سر د کابل د لویدیځ د ډیرو برخو او د ښار د یو شمیر ختیځو برخو په ګډون د کابل یو شمیرمرکزبرخې په خپلې ولکې کې درلودلې ، د هغوی په لاس کې ډیرې دولتي ودانۍ هم وې ، په پغمان او د کابل په لویدیځ او د لویدیځ په لوړو غونډیو کې د سیاف ملیشایي ځواکونه ډیره شوي ول. وحدت د افشار د غره لوړې څوکې په لاس کې درلودلې چې له پوځي اړخه د د غه غره شمالي برخې چې د پغمان پر سړک سپرې وې وحدت په یوه پیاوړي دریځ کې درولی وو .

د ۱۹۹۳ ز کال د فبرورۍ په پیل کې د برهان الدین رباني دولت ، د جمعیت او د اتحاد لوړ پوړو بولندویانو پریکړه وکړه چې د اسلامي ګوند او وحدت د ټلوالې پر وړاندې کوټلي ګامونه اوچت کړي ، دوی و پتییله چې د ښار په لویدیځ کې د وحدت پر مورچلونو په ځانګړې توګه د افشار پر غره او پر نورو دولتي ودانیو چې د افشار ختیځ ته پرتې وې برید وکړي او هم د افشار د غره په لمنه کې ګڼ میشتې ملکي سیمې چاڼ کړي .

د بشري حقونو د څار ټولنې له بیلابیلو رسمي چارواکو څخه چې د نظار په شورى او لنډ مهالي دولت کې یې کار کاوه د ډاډ وړ مالومات ترلاسه کړي دي ، هغوی منلي دي چې دغه برید د جمعیت ، نظار شورى ، اتحاد او د رباني دولت د لوړ پوړو کسانو له پلوه پلان او منظور شو[1.]

په پلان کې پتيیل شوې وه چې دوی به د وحدت پر مرکزونو چې د کابل په لویدیځ کې د افشارو په لمن کې د پولیتخنیک پوهنتون ته نیږدې د ټولنیزو علومو د اکاډیمۍ پر ودانۍ برید کوي. د جمعیت او اتحاد ځانګړې موخه د وحدت د مرکزونو نیول او د افشار په ور څیرموسیمو کې د وحدت د ډلې د مورچلونو دړې وړې کول ول تر څو دولت و کولای شي د پغمان له سیمې نیولې بیا د ښار تر ختیځ پورې د خپلې ولکې لېکې و غځوي او هم د وحدت سیاسي او پوځی مشر عبدالعلي مزاري ژوندی ونیسي .

د افغانستان لپاره د عدالت پروژې چې یوه غیر دولتي ډله ده د افشار د پیښې په ګدون له ۱۹۷۹ تر ۲۰۰۱ ز کال پورې په افغانستان کې د پوځي عملیاتو لړۍ پلټلې او د افشار عملیات یې د خپل ۲۰۰۵ ز کال د جنورۍ په ګزارش کې داسې را سپړلي دي:

د برهان الدین رباني تر مشرۍ لاندې د افغانستان د اسلامي دولت د ۱۹۹۳ ز کال د فبرورۍ د مباشتې د افشار عملیات ، ددغه دولت تر ټولو پیاوړي او سمبال شوي پوځي عملیاتو ته نغوته کوي چې پکې له ډیر زیات پوځی ځواک څخه کار اخیستل شوی دی. دغو عملیاتو دوې تاکتیکي موخې درلودلې. مسعود پریکړه کړې وه چې په

Download from: ketabton.com

لومړي سر کې به د وحدت د ګوند پوځي او سیاسي مرکزونه ونیسي ( دغه مرکزونه د کابل په لویدیځ کې د افشار د غره په لمنه کې د ټولنیزو علومو په اکاډیمۍ کې پراته ول ) ، او هم به د وحدت د ګوند مشر عبدالعلي مزاري ژوندی ونیسي. دویم : د برهان الدین رباني تر مشرۍ لاندې د افغانستان اسلامي دولت په پام کې درلودل چې د جمعیت تر ولکې لاندې سیمې د کابل له مرکزه نیولې د سیاف تر ولکې لاندې سیمو پورې له یو بل سره ونښلوي چې له دې لارې به په مرکز کې خپله واکمني ټینګه کړي] .2[

د ملیشیاوو ترمنځ د برید تابیا له بریده مخکې پټه پاتې نه شوه. د وحدت سیاسي چارواکي د برید له پیلیدا څو ورځې مخکې پوهیدل چې د برید تابیا نیول شوې ده ، له برید څخه څو ورځې مخکې د افشار د سیمې د اوسیدونکو یوه کوشنۍ برخه چې د اړیکو پر بنسټ له بریده خبره وه له سیمې ووتله.[3] په بله وینا یوازې د افشار د سیمې هغه استوګن چې له برید څخه خبر شوي ول په دې بریالي شول چې سیمه پریږدي. د سیمې یو استوګن د بشري حقونو د څار ټولنې ته وویل چې په څه ډول له بریده مخکې خبر شوی وو :

"یوه ملګرې مې د نظار په شورې کې کار کاوه. هغه د دولت په مرکز کې کار کاوه. هغه له برید څخه دوې ورځې مخکې ماته راغی او ویې ویل : ته باید له دغه ځایه ووځې. د برید امر ورکړ شوی دی. پغمانیان [ د اتحاد ډله ] غواړي پر دغې سیمې برید وکړي ، هر څوک یې چې مخې ورشي و به یې وژني ، او هر څه به لوټ کړي] " .4[

یو بل وویل :

"موږ د مسعود د کسانو په منځ کې له یوې کورنۍ سره اړیکه درلودله او موږ ته یې وویل چې ووځـو. هغه وویل : ' د سیاف او مسعود جنګیالي به پر دغې سیمې برید وکړي ' دا له بریده څلور ورځې مخکې ول . هغه موږ ته وویل چې باید له سیمې څخه ووځو. هماغه ول چې ووتلو]"5.[

یو بل وویل :

"له برید څخه پینځه ورځې مخکې زما ورارہ چې د حرکت د مشر انوري ساتونکی دی ما ته راغی او ویې ویل : ' ته باید له دغه ځایه ووځـې . دغه سیمه په بل مخ اړول کیږي. ان که تاسو پوځیان هم نه یاست خو ډیره وراني به رامنځته شي. ددغه خبر په اوریدلو موږ دوې ورځې وروسته د شپې له پلوه له افشارو وو تلو] " .6[

د دغې سیمې ډیریو اوسیدونکو ته د کیدونې عملیات په تړاو نه خبر ورکړل شو او نه ورته وویل شول چې له سیمې څخه ووځي] .7[

د عملیاتو کیلي د افشار پر ګڼ میشتې سیمې سربره د افشار د غره لوړه څوکه وه. پوځي ستراتیژي دا وه چې جمعیت مخکې له دې چې د افشار په سویل ختیځ او په سویل کې د ملکي وګړو په منځ کې د وحدت مورچلونه و نیسي ،

Download from: ketabton.com

غوښتل يې لومړي د افشار د غره لوړې څوکې و نيسي.[8] له بريد مخکې د محمد فهيم قسيم تر مشرۍ لاندې د افغان د ملي امنيت څرو " جاسوسانو" د حرکت د ډلې څو تنو بولندويانو ته چې د افشارو په لويديځ او شمال کې يې پوستې درلودلې بېږې ورکړې تر څو په عملياتو کې ورسره مرسته وکړي او د جمعيت او اتحاد سرتيرو ته اجازه ورکړي چې د دوی له پوستو څخه تير شي او د افشار لوړې څوکې ونيسي [9] ( محمد قسيم فهيم له ۲۰۰۱ تر ۲۰۰۴ زکال پورې د افغانستان د دفاع وزير ، او د ۲۰۰۱ز کال په پای کې د طالبانو پروړاندې د امريکايي عملياتو کيليدي پوځي ملګری وو). کله چې عمليات پيل شول د جمعيت ځواکونو د افشارو لوړې څوکې و نيولې او د اتحاد ډله پر افشارو ور ننوتله ، د ټولنيزو علومو په اکاډيمۍ کې د وحدت د ډلې مورچلونه يې ونيول او هم يې د هغه سړک ولکه په لاس کې و نيوله چې له پغمانه د کابل تر مرکزه د افشار له منځه تيريږي. د جمعيت ځواکونو له افشارو دباندې سړکونه هم ونيول او خپل مورچلونه يې جوړ کړل. په دې لړ کې د وحدت ځواکونه د افشار له سويلي برخې د کابل لويديځې برخې ته په شا شول او د افشارو هزاره ميشته سيمه يې د پښتونواکې اتحاد ډلې جنګياليو ته ور پريښودله .

له بريد څخه دوې ورځې مخکې د کابل د بادام باغ په سيمه کې مسعود په خپلې پوځې اډې کې يوه غونډه ونيوله ؛ په غونډه کې د جمعيت او اتحاد د ډلو لوړپوړو بولندويانو او هم د نظار د شورۍ په جوړښت کې د نورو ښکيلو ډلو بولندويانو ګډون وکړ.[10] په هاغه وخت کې د جمعيت د ډلې په مشرتابه کې دغه کسان ول : ملا عزت ( عزت الله ) د پغمان بولندوی ، محمد قسيم فهيم ( د ملي امنيت رئـيس ) ، بابه جان ، انور ډنګر ، ګدا محمد ، بابه جلندر ، حاجي الماس ، ګل حيدر او بسم الله خان.

د بشري حقونو د څار ټولنه په دې برياليۍ نه شوه چې ومومي په غونډه کې چا او چا ګډون کړی وو خو د عملياتو د اړينوالي په پام کې لرو څرګنده خبره دا ده چې فهيم هرو مرو هلته وو. د افغانستان لپاره د عدالت د پروژې د ګزارش پر بنسټ چې له څو تنو شاهدانو سره يې مرکه کړېده ، د اتحاد دوه بولندويان � شير علم او زلمی توپان او د حرکت د ډلې مشر حسين انوري په غونډې کې ول] .11[

د ګزارشونو پربنسټ سياف په پغمان کې د اتحاد د ډلې له لوړپوړو بولندويان سره د پلان شويو عملياتو په اړوند غونډه جوړه کړه.[12] د هاغه مهال د اتحاد په مشرتابه کې دغه کسان ول : په خپله سياف ، حاجي شير علم ، زلمی توپان ، عبدالله شاه او ملا تاج محمد. ښايي څوتنو منځپوړو بولندويانو هم کړی وي.

له عمياتو يوه شپه مخکې د پروان په کارته " کارته پروان " کې د مسعود په يوه پټ او خوندي کور کې يوه بله غونډه جوړه شوه ، دغه کور د کانتيننټال هوټل ته نيږدې پروت وو. [13] د افغانستان لپاره د عدالت د پروژې د ګزارش پربنسټ مسعود په خپله د فبرورۍ د مباشتې په ۱۲ نېټه د عملياتو په دويمه ورځ د کانتيننټال په هوټل کې غونډه جوړه کړه. په غونډه کې د رباني ، سياف او فهيم په څير سياسي او پوځي مشران هم ول] .14[

Download from: ketabton.com

د بشري حقونو د ځار ټولنې د افشار د سيمې له څو تنو اوسيدونکو سره مرکه کړېده چې د بريد پر مهال يې په سيمه کې ژوند کاوه او ويې ويل چې بريد څنګه پيل شو او له بريد وروسته څه ډول ناورين ځپلی غوبل په سيمې کې را خپور شو. دغه د ډاډ وړ لاسوندونه په زباد رسوي چې په څه ډول له بشري حقونو څخه سرغړونه شويده او د افشارو په عملياتو کې په څه ډول بشري نړيوال قانون په سيستماتيک ډول تر پښو لاندې شوی دی ، دلته ملکي وګړي په لوی لاس وژل شوي دي ، دلته په لويه کچه ملکي وګړي وهل او ټکول شوي دي ، دلته يوازې د ژب توکميزترښت پر بنسټ سړي تښتول شوي دي او دلته په لويه کچه غلاوې ، داړه ماری او لوټماری شوي دي. دغه ټولې په لوی لاس ترسره شوي ناخيـرې ، دې ته نغوته کوي چې په دغه ناتار او ناورين کې ښکيل يو شميربولندويان ښايي د بشريت پرضد په جناياتو کې ښکيل وبلل شي

---------------------------------------------------------------------

[1] Human Rights Watch interview with K.S., former government security official, Kabul, July 24,

2003; Human Rights Watch interview with C.S.A., former government security official, July 18, 2003;

Human Rights Watch interview with R.D., former official in the interim government 1992-1995,

Kabul, July 16, 2003; Human Rights Watch interview with J.G.M., former government intelligence

official 1992-1996, Kabul, July 10, 2003. Intelligence agents in Wahdat also told Human Rights

WWatch that they knew in advance of an impending attack by Jamiat and Ittihad forces.

[2] Afghan Justice Project, �Addressing the Past: The Legacy of War Crimes and the Political

Transition in Afghanistan,� January 2005, (�AJP report�), page 27.

[3] Human Rights Watch interview with Q.E.K., former Wahdat political official, Kabul, July 15, 2003.

[4] Human Rights Watch interview with I.R.H., resident of Afshar, Kabul, July 12, 2003.

[5] Human Rights Watch interview with I.K., resident of Afshar, Kabul, July 2, 2003.

Download from: ketabton.com

[6] Human Rights Watch interview with K.I.K., resident of Afshar, Kabul, July 6, 2003.

[7] د دغې سیمې یو شمیر اوسیدونکو د بشري حقونو د څاَر ټولنې ته وویل چې د سیمې او خپلو کورونو پریښودلو ته نه ول چمتو شوي. د بیلګې په توګه میرمن ف. الف چې د دغې سیمې یوه اوسیدونکې ده د بشري حقونو د څار ټولنې ته د ۲۰۰۳ ز کال د جولای د میاشتې د شپږمې نېټې په مرکه کې وویل " زه نه پوهېدلم چې د غره لوړه څوکه پر مسعود پلورل شوې وه (

[8] The general descriptions of the Afshar campaign here are based on testimony taken by researchers

with the Afghan Justice Project, as well as Human Rights Watch interviews with officials named in the

proceeding note, and interviews with two soldiers who took part in the Afshar campaign; Human

Rights Watch interview with K.M.B., soldier who served under Ittihad forces in 1993, Kabul, July 4,

2003 (describing his orders on the day of the attack) and Human Rights Watch interview with T.E.S.,

Soldier in Shura-e Nazar in 1993, Kabul, July 5, 2003 (describing aim of attack on Afshar as told to

Him by his commanders).

[9]د حرکت پر دغو بولندویانو تور لګېدلی دی چې له جمعیت څخه یې بډې اخیستې دي: صداقت ، ضابط محسن سلطاني ، عوض علي ګرجي ، تابش ، ملک شریف او سید شریف. د بشري حقونو د څار ټولنې دغه مالومات د وحدت او د نظار د شورى د ډاډ وړ له سرچینو څخه تر لاسه کړي دي : په لاندې ډول :

Human Rights Watch interview with Q.Q.S., former Wahdat commander, Kabul, July

14, 2004; Human Rights Watch interview with Q.E.K., former Wahdat political official, Kabul, July

Download from: ketabton.com

15, 2003; Human Rights Watch interview with C.S.A., former government security official, July 18,

2003

[10]هماغه

[11]هماغه

[12] AJP report, p. 29.

د افغانستان لپاره د عدالت پروژه پ. ۲۹

[13]هماغه

[14]د افغانستان لپاره د عدالت پروژه ، ۲۰۰۵ ز کال پ. ۳۰

Download from: ketabton.com